# کیم

## ناول

## رډيارډ کيپلنګ

## خلاصه او ژباړه
## صفيه حليم

مارچ ۲۰۱۱ م


۱. زمزمه
۲. پير او مريد
۳. د ريل ګاډي نړۍ
۴. وړوکې مداري
۵. د سيند لټون
۶. جرنيلي سړک
۷. د سره غويي کنډک
۸. خپل او پردي
۹. د علم درواز
۱۰. د طلاي غشي سيند


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## د ليکوال او د ناول پيژندګلوي

کيم د نولسمی پيړی د انګريزي ژبی يو شاهکار ناول ګڼل کيږي. د دی ليکوال ، رډيارډ کيپلنګ د انګلستان اوسيدونکی اوډيرې نوری لنډی کيسی او ناولونه يې کښلي دي. دی شاعر او ژورناليسټ و او د ماشومانو لپاره يې هم ليکنې کړي دي. په کال ۱۹۰۷ م کی کيپلنګ د ادب نوبل جايزه وګټله چې په انګريزي ژبې د ليکنو لپاره لومړې نوبل جايزه وه. جوزف رډيارډ کيپلنګ په ۱۸۶۵ م کی دبريطانوي هند د بمبئ په ښارکی زيږيدلې و. د پينځو کالو په عمر کی د ده مور پلار دی په انګلستان کی د زدکړو لپاره ورواستاو. د اوولسو کالو لا نه و پورا چې د ښوونځي د زدکړو نه وروسته دی بيرته بمبئ ته ورغلو. ده خپل ماشومتوب د هنديه رنګين او کلتوري فضا کی تير کړې واو هندوستاني ژبه يې زده وه. کيپلنګ د ماشومانو لپاره د " ځنګله کتاب " نومې ناول اونورې لنډې کيسې وليکلې.
په ۱۸۸۲ م کی ده د لاهور نه خپريدونکې ورځپاڼې، " ملکي او پوځي ګزيټير " لپاره د يو ژورناليسټ په حيث کار پيل کړو. د خپل ژوند د لومړيو کلونو او بيا وروسته د خپل مسلکي ژوند تجربې د ده د " کيم " نومې ناول اساس جوړ شول.
رډيارډ کيپلنګ د کيم نومې ناول په ۱۹۰۱ م کال کی کښلې و. د بريطانوي امپيرياليزم هغه وخت په اوج کی و او د هندوستان لويه اوچه د ملکې وکټوريه د تاج يو داسې غمې و چې انګريزان پرې وياړيدل. هغه وخت هر چا فکر کوو چې انګريزانډېر ايمانداره او معتبر خلک دي او هر څه چې کوي هغه سم وي. خود " کيم " کيسې دا طلسم مات کړو.
کيم د يو يتيم ماشوم کيسه ده چې د نولسمې پيړئ په نيماي کی په هند کی ژوند کوی. د ده پلار د آيرلينډ يو عادي پوځي و او د اور ګاډي په شعبه کی د انګريزانو تنخوادار ملازم و. د ده ميرمنه "ايني شاټ" د کولرا په وبا کی مړه شوه . د کيم پلار" اوهارا" له دی غمه شراب ته پناه يوړه او څه موده وروسته دی هم په داسی حال کی مړ شو، چې ماشوم زوې ته يې هيڅ پاتې نه و. د کيم پالنه يوه داسې ګډ نژادي ميرمنې په غاړه شي چې د اپيمو نشه کوي. هغه خلکو ته واي چې کيم مې خوريې دې خو کيم د ښوونځي

ketabton.com - The Digital Library

نه پاتې شو ځکه د ده د پلار په پوځي غونډ کې هیڅوک خبر نه و چې کیم څه شو.
کیم له وړکتوبه  د کوڅې او بازار ژوند کوي.  دی ټوله ورځ د لاهور د میوزیم شاو خوا لوبې کوي او کله نا کله به په هغې لوې توپې کښیناستو چې " زمزمه نومیدو او د پاني پت په جنگ کی یې د کارولو نه وروسته افغانانو هم هلته پریښې و.  خو کیم یو ډېر هوښیار ماشوم دی اود پیسو لپاره د ښار د سوداگرو، دکاندارانو اود کوڅې او بازار د خلکو په وړو وړوکارونوپسی منډې وهي.
دی خپلې جامې اوکړه وړه بدلولې شي او د خلکو په غولولو او په چل ول کی پورا مهارت لري. دې په خلکو ملنډې وهي، په ځان باور لري او مغروره هم دې.   کیم د اروپایانو په پرتله د هندوستانیانو سره خوشاله وي، د ده سوچ په هندوستاني ژبه کی وي او کله چې انگریزي ژبه واي نو لهجه یې لکه د نورو  هندوستانیانو په شان وي   کیم ته د ده پلارویلي وي چې یوه ورځ به د ده قسمت، د دوو سرو اود یو سور رنگ  غوي په راتگ بدلیږي، چې په شین میدان کی به ولاړ وي.   دا خبره د ده په دماغوکی ناسته وي او په لټون یې د یو داسې سفر ته اوځي چې په لاره د رنگا رنگ پیښو نه تیریږي.  د کیسې په سر کی دی د تبت د یو بوداي جوگي یا لامه سره مخ کیږي چې د یو سیند په لټون راوتلې دې.   کیم د خپلو چالاکیو او د سیمې په اړه د معلوماتو له کبله په دی سفر کی د دی ساده جوگي لار ښود شي.  د دواړو تر منځ یوه داسې انساني تړون جوړ شي چې یو بل ته ډاډ او توان ورکوي.
د دی ناول ځینو جملو ناندرئ راپورته کړې خو انگریزي ژبې ته یې څو محاورې ورکړې، لکه، " څوک چې یواځې سفر کوي، خپل منزل ته ژر رسیږي" یا "هر څوک چې زمزمه په لاس کی لري، پنجاب د هغه دې"
په دی ناول کی کیپلنگ مونږ یو داسې سفر ته له ځان سره وړي چې په لاره د هغه وخت د هندوستان د خلکو د ژوند یوانځور راته ښکاري.   د دی د میداني سیمو، د گرمې هوا او دوړ او خاورو نه، ددی غرونو او شنو ورشوگانو، کلیو او لویو ښارونو ته ورځو.  په کورونوکی د عادي ښځو د ژوند ژواک نه واخلې، تر میوزیم او ښوونځو او په لوې جرنیلي سړک د اسونوگاډي او د اورگاډي هر څه وینو.  په دی ناول کی مونږ د هند په

ketabton.com - The Digital Library

خاوره د بیلا بیلو توکمونو او د مذهبونو د خلکو ژوند ته ګورو. دلته جوګیان، درویشان او سادهوان مو تر نظره تیرېږي.
د افغان ولوستونکو لپاره دا ناول په زړه پورې سیاسي اړخ هم لري. د نولسمې پیړۍ د انګلستان هغه سیاست چې د "لوی لوبی" په نوم یادیږي، په دی کیسه کی داسی اخښل شوی دی چې یوه ژورنالیستیکي لیکنه جوړوي. له ټول هند نه د معلوماتو تر لاسه کول، هغه وخت د انګریز یوه اړتیا وه. د دی لپاره د خلکو ګومارول، د سازشونو او د پلانونو پلي کول او د سرحدونو او ګاونډیانو له وېرې جنګ ته تیاري کول، د کیسې برخه جوړوي. په دی سازشي کړیو کی د کیم په شان ماشومان خپله ونډه اخلي او هم وربانده نیوکه لري. که څه هم د ناول دوه نورکریکټرونه ، محبوب علي، چې د اسونو تجار او افغان دی، په منفي توګه ښودل کیږي خو د دی کریکټر د کیم لپاره یوه ملاتړ په توګه معرفي کیږي. هم دغسی د ډګر وال کرایټن کریکټر د کیم په استعداد خبر شي نو د خپلو ګټو لپاره تری کار اخیستل غواړي. خو له بلی خوا د ماشوم په حیث هغه کیم ته د زدکړو او د ښه چلن نصیحت هم کوي. په دی ناول کی د بیلا بیلو مذهبونو د مشرانو کریکټرونه یو څه نا څه د ټوکو او د ملنډو وړ ګرځي. په هره ټولنه کی داسی کسان شته د معصومو خلکو نه د خپل ځان لپاره ګټه اخلي، څنګه پخپلی عقیدی تینګ ولاړ وي او هر ځای چې موقع پیدا کړي نورو ته تبلیغ پیل کړي. په هند کی د انګریز د پوځ په چلن دا ناول یو طنز دی. د ناول کیسه هم څه نا څه د مادي او معنوي ژوند د انډول یو درس ورکوي. په ځینو ځایونو کی مونږ د انسان بده او په ځینو کی ښه څیره وینو. دا هم راته څرګندیږي چې هر انسان یو څه نا څه ښه والې لري . له بلې خوا ډېر معتبر او ښه څیرې خپل بد انساني خصلت راښیي. د کیم کیسه د کیسو هغه ټول جزیات لري چې ولوستونکی له ځانه سره تر پایه وړي.

ketabton.com - The Digital Library

# زمزمه

د ښار والی له خوا هیچا ته اجازه نه وه چې د میوزیم مخې ته ولاړ زمزمه نومې پخوانی توپ دی کښیني. داسی ویل کیده چې دا توپه که د هر چا په لاس کی وي هغه به د پنجاب واکمن وي. خوکیم لږه شیبه وړاندې د لاله دینا ناتهه زوې له دی توپې غورځولې او اوس پخپله پری ناست و. ده خپل ځان ځکه د دی وړ ګڼلو چې اوس پنجاب د انګریزانو په واک کی و او دی انګریز و. خو کیم سپین پوست نه لرلو او په محلي ژبه خبرو ورله خوند ورکوو. بیا هم دی پیرنګې و، بې وزله او یتیم دیارلس کلن پیرنګي ماشوم . کومې میرمنې چې د ده پالنه کوله او د اپیمو چیلم به یې څکول، ټولو ته ویل چې کیم د هغې خوریې دې. خو د کیم مور د یو پیرنګي په کور کی نوکره او د کیمبل اوهارا سره یې واده کړې و. هغه د آیرلیند د (میویریک نومې) کنډک یو سارجنټ و. وروسته هغه د سند، پنجاب او د ډیلې د اورګاډو په شعبه ملازمت کوو. د ده میرمنه د کولرا په وبا کی مړه شوه نو اوهارا په نشو اخته شو او چې مړ شو نو کیم ایله د دریوکالو و.

د سارجنټ ټول میراث درې کاغذونه و. یو د ده د زوې کیمبل، د زیږیدوشهادت نامه او بل د پوځ د نوکرۍ نه د هغه د وتلو سند و. خو هغه دریم کاغذ مهم و. په دی لیکلي و چې کیم پسی به یو ډګرمند د خپلو نهو سوو عسکرو سره په اس سپور راځي او هغه وخت یو سور غویي به په شین میدان کی ولاړ وي. هغه وصیت کړې و چې دا درې واړه پاڼې دی کیم ته ورکړې شي او په هیڅ حالت هغه دا له خپل ځان لیرې نه کړي.

د پلار د جنازې نه وروسته کله چې کیم په برنډه کی د پروړ په چوکۍ ناست او ژړل یې نو هغې میرمنې دا درې واړه کاغذونه د څرمنې په یوه بټوه کی وګنډل او کیم ته یې پر غاړه کړل. کیم به کله کله د هغې میرمنې له خلې د غویي او د ډګر من کیسه اوریده. خو ده ته به د پلار خبره رایاده شوه چې دوه کسان به د ډګر من د پوځ لپاره لاره هواره کړي. که هغې ښځې په جادو باور لرلو نو کیم به یې یو جادوګر ته وراستولې وې او چا به د کاغذونو په لیدو سمدلاسه کیم په غرونو کی جوړ د مسیحیانو ښوونځي

ketabton.com - The Digital Library

ته وراستولې وی. خو هغې میرمنې په جادو باور نه لرلو. کیم چې لږ
لوې شو نو د مسیحي پادریانو په لیدو به یې ځان ترې پټ کړو. که یو
انګریزچې افسر غوندې به ورته ښکاره شو، له ده د مور پلار یا د کورنۍ
په اړه پوښتنې کولې نو سم ځواب به یې نه ورکوو.
د کیم د کولو لپاره ډېر څه و. هغه د لاهور ښار هره کوڅه پیژندله او په
دی کی د ټولوخلکو د کاروبار نه خبر و. د ده ژوند د الف لیلا د افسانو نه
هم په زړه پورې اوخونده ور و. په ښار کی کیم " د نړۍ وړوکې
ملګرې" په نوم پیژندل کیدو. د ده کار به زیات وخت د شپې و، چې د
خلکو د کورونو په بامونو په تیاره کی ده لکه د سیوري، د فیشني ځوانانو
لپاره مندې ترړې وهلې. په داسی شیطاني کارونو خو کیم له هغه وخت
راهیسې پوهیدو چې خبرې یې زده کړې وې. هغه ته دا لکه د یو لوبې
ښکاریدل او ورته به یې خوند ورکوو. په تیارو کوڅو کی منډې، په
دیوالونو د اوبو په نلونو بره ختل، د کورونو په بامونو د ناستو ښځو ژوند
ته کتل، د دوي خبرې اوریدل او د اوړي په شپو د یو کور د بام نه بل ته
وردانګل.
بیا د سیند پر غاړه ملنګان او فقیران و چې د ونو لاندې یا د خپلو خښتو د
کوټنیو سره په ایرو کې یې ځانونه پټ کړي ناست یا ولاړو. کله چې دوي
به له خیرات راتولولو وروسته روان و نو کیم به ورته سترې مشي ویل او
دا ټول یې پیژندل او کله چې به د چا پام ورته نه و نو د دوي سره به یې په
یوه کاسه کی ډوډۍ هم خوړله. هغې میرمنې چې د ده ساتنه کوله، مینت
زارۍ به یې ورته کولې چې د انګریزانو جامې دی په غاړه کړي. دا یو
پتلون، کمیس او یوه زړه خولۍ وه. خو د کیم لپاره دا اسانه وه چې د خپل
کار په مناسبت د هندو او یا د مسلمانانو جامې پر غاړه کړي.
یو ځوان سړي هغه ته د ټیټې طبقې د هندو هلک پورا جوړه ورکړې وه.
کیم دا جوړه د "نیلا رام" د لرګو په ټال کی د یو لوې چارتراش لاندې پټ
ایښې وه. کله چې کیم د شپې په پښو وګرځیدو، نو سهار به سترې ستومانه
د کور په دالان کی راښکاره شو. د ودونو د جنج ( ورا) شا ته په زوره
زروره چغې وهل یا د هندوانو په میله کی شور جوړول، دا د کیم هغه
کارونه و چې ضروري به یې ګڼل. کله کله به یې په خپل کورکی ډوډۍ
وموندله خوزیات وخت به پکې هیڅ هم نه و. په داسی وخت کی به هغه
بیرته بهر ولاړو او د محلت ملګرو سره به یې ډوډۍ خوړله.

ketabton.com - The Digital Library

اوس کیم د زمزمه توپ په لوې نل داسې ناست و لکه چې یو باچا پر خپل اس ناست وي. ده به کله د وړوکي چهوټا لال او د حلوايي زوي د عبد الله سره د باچا وزیر لوبه کوله. د میوزیم په دروازه ولاړ پولیس ورته داړې چینګې کړې. د پولیسو کس کیم له پخوا پیژندلو چې دی څوک و، هم دغسی، مشکي، چې د اوبو د مشک نه به یې په سړک اوبه شیندلې. د میوزیم ترکانې جواهر سنګه هم د کیم له اصله خبر و. د ښار هر کس خبر و چې کیم څوک و خو هغه خلک چې د کلیو نه ښار ته راتلل خبر نه و. په دوي کی ځینې کسان به عجایب خانې (میوزیم) ته هم ورتلل چې هلته د خپلو سیمو جوړ شیان وګوري. په دی میوزیم کی د هندوستان هنري اونور شیان هم ایښي او هر هغه چا چې غوښتل یې ځان پوهه کړي، د میوزیم مشر نه به یې پوښتنې کولې شوې. عبد الله اوس د زمزمه په لویه پایه ورختلې و. په چیغه یې وویل،

عبد الله . پاځه، اوس ما پرېږده چې ورباندی کښینم.

کیم. ستا پلار پکوړې خرڅولې او مور به دی غوړي غلا کول، مسلمانان له زمزمه پخوا راپریوتي و.

چهوټا لال. ما پرېږده چی زه پرې کښینم.

کیم . هندوان هم له زمزمه غورځیدلي و. دوي له مسلمانانو ماتې خوړلې وه. ستا پلار پکوړې خرڅولې. ستا مور...

د کیم خبره په خله کی پاته شوه. هغه په سړک یو داسې ننداره ولیده چې د ده ژبه یې بنده کړه. هغه د هند د هري سیمې خلک پیژندل، خو د موټرو او د ټانګو په شورکی ده یو داسې سړې ولیدو چې د هندوستان د هر توکم او سیمې نه یې توپیر لرلو. هغه سړې شپږ فټه لوړ و، لوې لوې څادرونه یې له ځانه تاو کړي و. کیم نه پوهیدو چې داسې جامې د کوم مسلک خلکو اغوستې. د ده د کمر بند سره د اوسپنې یو پرانستې قلمدان او د لرګي د مریو تسبیح ټالی وهلې. د هغه په سر یوه لویه درې ګوټیزه خولی وه . د ده مخ ژیړ او ګونځې و، سترګې وړې او له کونجونو بره ختلې وې.

کیم. دا څوک دې؟

عبد الله. سړې ښکاري.

کیم. بې شکه، خو ما په هند کی داسې سړې چرې پخوا نه و لیدلې.

چهوټا لال. ښاي، ملا وي، وګوره ، دی عجایب خانې ته روان دې.

سړي د میوزیم مخې ته ولاړ پولیسونه څه وپوښتل. خو پولیس د پنجاب و او د هغه په خبرو پوهه نشو. کیم ورته په چغه وویل،
کیم. دی خارجي دې... او غوییه، دی ستا په خبرو نه پوهیږي، دلته یې راواستوه. هغه له زمزمه ټوپ کړ. سپین ږیري اخوا دیخوا کتل او بیا ورو ورو د هلکانو په لوري نږدې شو. د ده د وړینو ځادرونو نه د غرونو خوشبوي راوالوتو. هغه په سوچا اردو ژبې وویل.
سپین ږیرې. اې وړو، دا لویه ودانۍ د څه شي ده؟
کیم. عجایب خانه...د عجایباتو نړۍ.
سپین ږیرې. آها عجایب خانه،،،هن...نودلته هر څوک ورتلې شي؟
کیم. په دروازه یې لیکلي دي چې هر څوک ورتلې شي.
سپین ږیرې. بې له پیسو ورکولو ورننوتې شي؟
کیم. زه خو ورته ځم راځم اوډېرې پیسې هم نلرم.
راهب. یا ربه، زه زوړ شوې یم، نه ووم خبرچې ...
کیم. اې بابا ..بابا ... د کوم وطن یې؟ زات دی څه دې ؟ له لیرې خو به نه یې راغلې.
سپین ږیرې. زه د " کوهلو " اوسیدونکې یم. د کیلاش له غرونو نه وراخوا. خو ته پرې څه خبر یې؟ له هغو غرونو یم چې هوا یې پاکه او اوبه یې تازه دي.
عبد الله( په ویاړ)، خطاي؟ چین...د چین اوسیدونکې یې؟
چهوټا لال. پهاړي" د غرونو اوسیدونکې یې؟
سپین ږیرې. او بچیه، له داسې غرونو چې ته به یې چرې وونه ویني. تا د " بهوټیال " نوم اوریدلې دې چې په تبت کی دې؟ زه خطاي نه یم، بلکه ، " بهوټا " یم. او که غواړې نو درته ویلې شم چې زه " لامه" یم. ستاسو په ژبه کی ورته " گورو" یا استاد واي.
کیم .( له ځانه سره) د تبت گورو! ما داسې کس چرې پخوا نه ولیدلې. نو په تبت کی هندوان اوسیږي؟
سپین ږیرې لامه. مونږ د منځني لارې منونکي او د امن غوښتونکي بوداي راهبان یو. د مرگ نه وړاندې زه باید د څلورو سپېڅلو ځایونو زیارت وکړم. تاسو ماشومان یئ او دومره علم نه لرئ چې زما په شان سپین ږیرې به یې ولري. تاسو ډوډۍ خوړلې ده؟ زه اوس اوږې نه یم.

ketabton.com - The Digital Library

خو دا راته ووايئ چې دا رښتيا دي چې د لاهور په عجايب خانه کيدېرى
ځيرې ايښي دي؟
عبد الله. دا ريښتيا دي . دا ځاې د کافرانو له بوتانو ډک دې. ته هم د بوتانو
منونکې يې؟
کيم. د ده خبره مه اوره. دا د حکومت اداره ده او دلته د بوتانو لمانځنه نه
کيږي. هلته يو سپين ږيرې صاحب ناست وي . ما سره راځه چې
درښکاره يې کړم.
چهوټا لال. (د شونډو لاندې) نااشنا درويشان، ماشومان خوري.
عبد الله. (په ورو غږ) ملا نااشناهم دی او بت پرست هم .
کيم (په خندا) دی نوی دی. خو تاسو ځغلئ، د خپلو ميندو په غيږ کی
ځانونه پټ کړئ.
کيم د ميوزيم د اوسپنې ځرخي دروازې نه ورتير شو او لامه ورپسې و.
دننه د ميوزيم په لوې تالار کی لامه وازه خله ودريدو. هلته د يوناني
بوديزم تمدن شاهکار مجسمې ايښې وې. د لرغونو پيړيو پخواني شيان چې
جوړونکی يې هم له خلکو هير و. هلته په سوونو شيان و، په تيږه کی
توږلي، د دروازو او د معبدونو ټوټې چې د هند د شمال نه راوړل شوي و .
په هر يوسره نښه (ليبل) لگيدلې وه او د ميوزيم لپاره دوياړ يوه خزانه و.
لامه کله يواو کل بل شي ته په خوښۍ ځير و، بيا ولاړو او يو داسې انځور
ته ودريدو چې پکی د بودا د تاج اغوستو پيښه کښل شوې وه او دی د
برسنډې په يو گل کی ناست و. د ده چاپيره باچاهان، زاړه او پخواني نور
بودايان هم ولاړ و. د دی نه ښکته اوبه وې چې پکی گلونه، مهيان او
مارغان جوړ و. د ده د سر د پاسه دوو د لولکيو( پرپرکو) په ځير ديوانو
د گلونو اميل نيولې و او د هغې د پاسه دوو نورو ورباندی چتر نيولې و.
لامه په خوشالی وويل، دا پخپله ساکيامني(بودا) دی او په سلگيو شو. په
شونډو يې يوه مرموزه دعا زمزمه کوله او بيا په زوره يې وويل، هغه اوس
دلته دی، تر ټولو ښه او سپيځلي ځټه هم دلته ده. زما زيارت پهډېر ښه
شگون پيل شو. دا ځومره مهارت دې، بې شکه مهارت دې.
کيم د چا د راتلو غږ واوريدو نو د يوې الماریٔ شا ته پټ شو. يو سپين
ږيرې انگريز را روان و او لامه ته يې کتل. لامه تاو شو او د هغه په ليدو
يې ورته لاس په تندي کيښودو، په بل لاس يې له څادر يوه کتابگوټې او يوه

ketabton.com - The Digital Library

د کاغذ ټوټه راویستله. انگریز په کاغذ ښو توري ولوستل او په موسکا یې وویل، " هو دا زما نوم دی"
لامه. زه د خپل ملگري سره ښو زیارتونو ته تللی ووم، هغه اوس د " لانگ چو" په خانقاه کی مشر راهب دی او دا کاغذ یې راته راکړی و.
هغه راته د دی ځای او دلته ایښي شیانو په اړه ډیرڅه ویلي و.
انگریز صاحب. د تبت لامه، هر کله راشه. ستا د علم د زیاتولو لپاره دا ټولی ښیری او زه حاضر یو. مهرباني وکړه او د ښو شیبو له زما دفتر ته راشه.
هغه انگریز صاحب د خوشالۍ نه په جامو کی نه ځایدو. د ده دفتر د لرگي یوه وړه کوټنۍ (غرفه) وه چې د مجسمو گیلري سره جوخته جوړه وه. کیم په دی وخت کی دکوټنې د لرگین دیوال سره په زمکه سملاستو او غوږ یې یوسوري ته برابرکړو چې دننه د دواړو سړوخبرې واوري. د لامه او د صاحب خبرې د ده له پوهې لوړې وې. لامه د یوعبادت ځای نوم یادوو چې د ښلورو میاشتو پلې مزل وروسته دی ورته رسیدلی و او هلته یوه رنگ شوې تیږه پرته وه. صاحب یوغټ کتاب راواخستو چې د هغه ځای عکسونه یې لرل. دا عبادت ځای د یوې لوړې غونډۍ پر سر جوړو. لامه د ښکر نه جوړ د نظر چیناي عینکې په سترگو کړې او وې ویل، دا هغه وړه سره دروازه ده چې د ژمي نه وړاندې مونږ ترینه لرگي دننه وړل.
هغه چې اوس لوی راهب دی راته ویل چې انگریزان په هر څه خبر دي.
ما به پرې باور نه کوو. خو اوس مې ولیدل چې زمونږ سپیڅلې ښته دلته په احترام ساتل شوې ده او د ده له ژوند ټول خبریږي.
انگریز په دی خوشاله شو او لامه یې د نورو مجسمو او د تیږو د اثارو لیدو ته بوتلو. لامه لکه د ماشومانو خوشاله و او ځای ځای به یې د انځورونو او نقشو په اړه خپل معلومات ورزیاتول. کوم ځای چې ده ته به معلومات نه و، نو صاحب به ورته الماني او فرانسوي ژبوکتابونه راوړل.
په ښو شیبو کی صاحب پوه شوې و چې د ده میلمه عادي فقیر نه و بلکه یو ولوستې، دیني عالم و. دوي په ځینو خبرو کی بیرته کتابونه وکتل، لامه به نسوار خلې ته کړل، خپلې عینکې به یې پاکی کړې او د اردو او تبتي ژبو په گډون لکه د تیز اورگاډي خبرې وکړې. ده د چیناي راهبانو، خوان زانگ او د فاهیان نومونه یاد کړل او پوښتنه یې وکړه چې د دوي سفر نامې چا ژباړلي وې که نه. صاحب ورته هغه ژباړې راوویستې او لامه

ketabton.com - The Digital Library

حیرانه پاتې شو. بیا صاحب ورته هغه ژباړې په اردوکی واړولې او لامه په لومړي ځل خبر شو چې اروپایانو د دوي د دین او کلتور د معلوموملو لپاره څومره هڅې کړي وې. بیا هغه ته یې یوه لویه نقشه ښکاره کړه چې ورباندې ژیړې نښې لګیدلې وي. د لامه ګوته د صاحب د پینسل پسې روانه وه او هغه ورته لرغوني ځایونه په نښه کول.

دواړو سپین ږیرو څو شیبې دی نقشې ته کتل او صاحب یو بل پایپ د څکلو لپاره بل کړو. په دی وخت کی کیم په فرش ویده شوی و او کله چې راویښ شو نو د دواړو سپین ږیرو خبرې لا روانې وې خو اوس هغه د دوي په خبرو پوهیدو.

لامه.. نو هوښیار صاحبه، بیا ما فیصله وکړه چې زه دی هغو زیارتونو ته ورشم چې زمونږ سپیڅلي (بودا) پرې ګام ایښې و. د هغه آباي ټاټوبي ته ولاړ شم، هغه ونه وګورم چې ده ورلاندې د ژوند حقیقت وموندلو، هغه معبد چې ده پکی عبادت کوو، او هغه ځاې پخپلو سترګو ووینم چې ده تری بلې دنیا ته سفر وکړو. زه یواځې راووتلم. تر څلویښتو کالو دا زما په زهن کی و، چې پخوانیو تعلیماتو څوک عمل نه کوي. تاسو خبر یئ چې خلکو دبوتانو لمانځنه، جادو او د شیطان لاره خپله کړې ده. بهریو ماشوم هم راته وویل چې بت پرستي کیږي.

صاحب ورته وویل، چې په ټولو مذهبونو کی هم داسی ده خو لامه وویل، زمونږ ملایان پخپلو کی په جنګ اخته دي. ستاسو عالمانو ډیر ښه کارونه کړي دي خو د دوي په پرتله زه د هیڅ نه خبر نه یم. زه ورځم چې خپل روح د مادي نړۍ دځرخ نه ازاد کړم او په یوې پرانیستی لاره ګام کیږدم. هغه وموسیدو او وې ویل، د یو زایر په حیث زه ثواب ګټل غواړم. کله چې زمونږ سپیڅلې بودا تنکې ځوان و نو د ده د پلار په دربار کی یو تن وویل چې ده ته واده مه کوه ځکه چې دی کمزورې دې. پلار یې دری وارې دې له ازموینو تیرکړو. دریم وارې یې ورته یو غشې او لینده ورکړل چې نښه وولې. کله چې ده غشې له لیندې ورخوشې کړو نو هغه د نورو ټولو له نښنو وړاندې تېر او له سترګو پناه شو. اخر دا غشې چې په کوم ځاې پریوتو، هلته اوبه راووتلې. په هغه ځاې کی اوس یو سیند بهیږي. هر څوک چې د دې سیند په اوبو کی ولامبي نو له ګناهونو پاک شي. ته خبر یې چې هغه سیند کوم ځاې کی دې؟ هغه د پوهې چینه به کوم ځاې وي چې غشې پکی پریوتې و؟

انګریز صاحب ورته وویل، افسوس چې زه خبر نه یم. لامه ورته مینت زاری وکړې چې زه اوس زوړ شوی یم او په خوب کی مي لیدلي دي چې هغه سیند باید ولټوم او هم د دی لپاره دلته راغلی یم. صاحب وویل که دی خبر وې نو ورته به یې ښودلې وې او لامه ته د مینت زاری اړتیا نه وه، خو افسوس چې معلومات نلري. لامه بیا هم خپله خبره کوله او ورته ټینګ شو چې انګریز له هر څه خبروي نو د دی سیند معلومات به هم ولري.
صاحب ورته بیا وویل چې دی ریښتیا واي او د سیند په اړه معلومات نه لري.
لامه راپاسیدو نو هغه ترې پوښتنه وکړه چې چرته ځي. ده ورته وویل، لومړې به په بنارس کی کاشي (زیارت) ته ورځم. هلته د جېن دین منونکي یو عالم سره وینم . هغه هم د رازونو سپړونکی دی او ښاي له هغه به یو څه زده کړم. کیدیشي ما سره بوده ګیا ته ولاړ شي. له هغه ځایه شمال او بیا په لویدیځ کی "کپل وستو" ته ورځم او هلته به د سیند لټه وکړم. خو ...نه...نه ...زه به د سیند لټون هر ځاې کووم. ځکه هیڅوک خبر نه دي چې هغه غشې کوم ځاې پریوتې و.
صاحب ترې پوښتنه وکړه چې دومره لیرې به څنګه ځي؟ نو ده وویل، په سړک او داورګاډي د لاری. دی د پټهان کوټ له غرونو په ټرین کی راغلي و. صاحب ورته جنوب ته تلونکو اورګاډو د ټایم ټیبل ( محال ویش) خبره وکړه چې په کاغذ چاپ شوې و. کله چې د ډوډۍ خواړو پوښتنه یې وکړه نو لامه وویل، د دی سفر لپاره زه به د خپل سپیڅلي په پل ورځم او د هغه په شان د خیرات کچکول هم لرم. کله چې له غرونو روان شوم نو زما یوه مرید راسره و او هغه به راته ټوک ډوډۍ راپیدا کړه. خو په لاره هغه تبي ونیولو او مړ شو. اوس مرید نه لرم خو هر وختې چې اړتیا وه کچکول به پخپله ونیسم چې څوک خیرات راکړي.
صاحب خبر و چې په خانقاه کی اوسیدلې د دې لامه په شان عالمان خیرات نه غواړي. خودی د نورو په پرتله ورته هوډیالي ښکاره شو. هغه د نوي سپین کاغذ یوکتابګوټې او دوه درې پینسلونه راوویستل. دا یې لامه ته ورکړل اوله هغه یې د ده عینکې وغوښتې. د لامه د عینکو شیشې زړې وې او وربانډې دخراشکو لیکې جوړې شوې وې. انګریز صاحب دا عینکې په خپلو سترګوکړی نو د دې غټ والې ورته د خپلو عینکو په څیر

ketabton.com - The Digital Library

ښکاره شو. هغه خپلې نوې عینکې لامه ته ورکړې چې ده په سترګوکړې نو سر یې یو خوا بل خوا تاو کړو او وې ویل، " لکه د وزرې سپکې دي" صاحب ورته وویل او دا د بلورو جوړې دي. خدای دی وکړي چې د سیند تر لېون درسره پاتې شي، دا عینکې ستا شوې. لامه ورته وویل چې عینکې او قلم کتاب به د دوو عالمانوتر منځ د ملګرتیا د نښې په توګه له ځانه سره واخلي.

بیا د خپل کمربند نه یې د اوسپنې قلمدان پرانستو او انګریز صاحب ته یې په میز کینبودو، دا ستا او زما د ملګرتیا د نښې په توګه دی تا سره وي. دا زوړ دې او ښاي له ما هم زوړ وي. په قلمدان پخوانې نقشونه جوړ و او لرغونې معلومیدو. صاحب ورته انکار وکړو چې دا قدیمي شي دې او دی ترې نه شي اخستې. خو هر څومره چې ده انکار وکړو، لامه ورته ټینګ شو چې دا د ده له خوا یوه تحفه وه. بیا یې وویل، کله چې ما سیند وموندلو نو تا ته به په وریښمو جوړ یوانځور راوړم. ما به په خانقاه کی د وریښمو د پاسه په رنګ او برش داسی انځورونه جوړول. د صاحب وس نه رسیدو چې لامه یې په کوټه کی بند کړې وې ځکه په وریښمو هغسې د بوداي دیني انځورونه جوړونکي اوس د ګوتو په شمیر پاتې و او دا هنر ورک شوې و. خو لامه بهر روان و، د ده سر لوړ و. یوې شیبې له د بودا یوې مجسمې ته یې وکتل چې په مراقبه کی ناست و او بیا له دروازې ووتلو.

## پیر او مرید

کیم هغه لامه پسې لکه د سیوري روان و . هغه دننه په میوزیم کې د انګریز صاحب او د ده تر منځدېرې خبرې اوریدلې وې او زړه یې په ټوپونو و. ده په ژوند کی د داسې یوسړي سره نه وومخ شوې او په دی اړه یې نورې پلټنې غوښتې، هم هغسې لکه چې ده دیوې نوې ودانی یا د لاهور په ښار کی د نوي میلې جاج اخستو. سپین ږیري لامه د زمزمه نومې توپې سره ودریدو او اخوا دیخوا یې کتل، چې سترګې یې په کیم ولګیدې. هغه ستړې و خو پولیس والا ورته په غرور وویل، "د توپې لاندې مه کښېنه". کیم د هغه په خبره خان کوڼ واچوو او لامه ته یې وویل، "که ته غواړې نو د هغې توپې لاندې کښېنه" او پولیس ته یې یوه

ketabton.com - The Digital Library

ښکنځله وکړه. پولیس والا غلې شو. هغه خبر و چې که کیم چغې کړې نو ټول کوڅه ډب هلکان به پرې راټول شي. کیم د لامه سره د توپې لاندې کښېناستواو پوښتنې یې پیل کړې.
کیم. تا دننه د چا عبادت کوو.
لامه. ما د هیچا عبادت نه کوو، هلته مې خپل سپیڅلي پیغمبر ته سر ټیټ کړو.
کیم . ته څه کارکوې؟
لامه. زه خیرات راټولوم، خو اوس رایاد شو چې ما له ډېره وخته څه نه دي خوړلي. ته خبر یې چې په دی ښار کی د ډوډۍ لپاره خلک څنګه سوال کوي؟ د تبت د دود په شان یو ځاې خاموشه کښېنم او که نه په زوره غږ وکړم.؟
کیم. هغه څوک چې په خاموشۍ سوال کوي، په خاموشۍ د نهرې د لاسه مړ شي.
لامه د پاڅیدو هڅه وکړه خو د یو سوړ اسوېلي سره بیا کښېناستواو په "کوهلو" کی خپل مړ شوي مرید یې په سلګیو کی یاد کړو. کیم خپل سر یوې خوا ته کوږ کړو، د هغه حالت یې څارلو او څه سوچ یې کوو. بیا یې د ده کچکول واخیستو او وې ویل، " ته آرام وکړه زه دلته خلک پیژنم."
هغه په منډه د موتي بازار یوې سابه خرڅوونکي ښځې هټۍ ته ولاړو چې دی یې پیژندلو. هغې د کیم په لیدوناره کړه،
ښځه. ښه نواوس ته جوګي شوی چې دا کچکول په لاس ګرځوې!
کیم. په ښار کی یو نوې درویش راغلی دی او ما داسی کس چری پخوا نه ولیدلی.
ښځه. (په قهر) زوړ درویش وي که نوې، زه له دوي ویزاره یم . لکه د مچانو زمونږ په خواړو پاي. زما د وړو پلار دلته لنګر نه دې پرانیستې چې هر څوک غواړي هغه له به مفته ډوډۍ ورکوو.
کیم. نه..نه ...هغه درویش نوې دې. په عجایب خانه کی انګریز صاحب ورسره داسی خبرې کولې لکه چې څوک خپل ورور سره کوي. اې زما مورې...دا کچکول راته ډک کړه.
ښځه. هاي زما قسمته... سهار یوغواي له دکانه د پیازو ټوکرۍ راله تشه کړې وه. هاغه دی بیا را روان دی، شابه...شو شو..شو ځغله.

ketabton.com - The Digital Library

کیم (غویې په وهلو وهلو د دکان نه وشړلو) وګوره...ما چې څومره سابه درته له غویي وژغورل، په دی کاسه کی د هغې لسمه برخه هم نه ځایېږي.
اې مورې... اوس راته لږې وریژې، د پاسه پرې اوچ مهې او لږ اینګولې راکړه.
د دکان د شا نه د یو سړي د غوریدو غږ واوریدل شو چې ښځه یې ترټله. ښځه. (په ټیټ غږ) ده رانه غواې شړلې دې.
بیا یې کچکول واخستو، دا یې له ګرمو وریژو ډک کړواو وې ویل، "غریبانو ته ورکول ښه وي". کیم په خپلو ګوتو په سپینو وریژو کی سورې جوړکړو.
کیم. زما جوګي غواې نه دې، لږ اینګولې هم راکړه او که د پاسه پرې یوه پراټه او ورسره لږه چټني هم وي نو هغه به خوشاله شي.
ښځه (د غاښونو په چیچلو) د خپل سر هومره سورې دی راته په وریژو کی جوړ کړو.
بیا یې د ترکارۍ اینګولې په کچکول کی واړولو. د پاسه پرې یوه پراټه او لږ ژیړ غوړي کینودل او د املي چټني یې یوې خوا ته پکی واچوله.
کیم. دا ښه وشول. اوس تر څو چې زه دی بازار کی یم نو غواې به ستا کورته نه راځي. زه به یې دومره ووهم.
ښځه.(په خندا) غواي ته بد مه وایه. هم تا خو راته ویلي و چې یوه ورځ سورغوې به له میدانه ستا ژغورلو له راځي. ګوره پام چې ډوډۍ چپه نکړې. هغه درویش ته وایه ما ته دی دعا وکړي او زما د لور د سترګوعلاج تری وپوښته.
کیم تر دې وخته د ډوډۍ کچکول له خپل سر لوړ نیولې او د کوڅې د سپو او د اوږو ماشومانو نه یې په ساتلو، په منډو لامه ته ورسیدو. لامه سترګې وغړولې او په کچکول کی ایښې شیانو ته یې وکتل. کیم هغه وخت یو مشکي (بهشتي) ته ناره کړه چې د میوزیم مخی ته یې اوبه شیندلې.
مشکي دوي ته نږدې راغې او د خپل مشک له خلې اوبو دارې یې ورته پریښودې. کیم پخپله لپه کی اوبه واخستې او وې څښلې. خو لامه د کمر بند نه یوه پیاله راوویسته او له اوبو یې ډکه کړه. بیا یې پخپله ژبه څو دعاګانې وویلې او په یو یوګوټ یې اوبه وڅښلې.
دواړو ښه په مړه ګیډه ډوډۍ وخوړه او کچکول یې تش کړو. لامه خپل نسوار وکړل، څو شیبې یې تسبیح اړولې او بیا په خواړه خوب ویده شو.

کيم د توپچي د ګاډي لوې پل سره ډډه لګولې وه او سوچونه يې کول چې ناڅاپه ورته د نيلا رام د لرګيو ګودام راياد شو. د سترګو په رپ کی دی د ګودام لوري ته روان و.
ماځيګر په ماښام بدل شو او د سړک د څراغونو رڼا چې بله شوه نو لامه له خوبه راويښ شو. سترګې يې اخوا ديخوا واړولې او مخې ته يې يو هلک په خيرنو جامو وليدو چې د هندوانو پګړۍ يې په سر تړلې وه. ده ورته رډ رډ کتل چې هلک ترې وپوښتل، "ولې چا درنه غلا کړې ده؟ "
لامه ( پريشانه غږ کی) زما نوې مريد رانه تللي دې او نه پوهيږم چې هغه به اوس چرته وي؟ پخوانې مريد مې مړ شوې و او د هغې په بدل کی خداې راته يو نوې مريد راواستولو. ما ته يې د ژوند لاره سمه کړه او چې زه د ولوږې بې حاله ووم نو زما د ډوډۍ لپاره يې سوال وکړو، زه يې موړکړم. ناڅاپه راپيدا شوې و او اوس ناڅاپه رانه ورک دې. ما فکر کوو چې د بنارس په سفر کې به دی راسره مل شي او ما نه به څه زده کړه وکړي.
کيم حيرانه پاته شو ځکه لامه ريښتيا ويل.
لامه.. خو زه اوس پوهيږم چې هغه د يو هدف لپاره راليږل شوې و او دومره خبر يم چې اوس به هغه سيند پيدا کړم.
کيم.. د غشي سيند .
لامه. (حيران) ما خو تراوسه د عجايب خانې د ساتونکي نه علاوه بل هيچا ته دا خبره نه ده کړې. ته څوک يې؟
کيم...ستا مريد. ما پخپل ژوند کی ستا په شان څوک ندي ليدلي او زه غواړم تر بنارس درسره ولاړ شم. ستا په شان سپين ږيرې يو مريد ته اړتيا لري.
لامه. خو د غشي د سيند خبره تا ته چا وکړه؟
کيم. او... هغه خو کله چې تا د انګريز سره خبرې کولې نو ما واوريدل. زه د دروازې سره ملاست ووم.
لامه. (سوړ اسويلې) ما فکر کوو چې ته زما لار ښود يې. خو زه د دی شيانو وړ نه يم. ته د سيند په اړه معلومات نه لرې؟
کيم. نه..نه.. زه معلومات نه لرم. زه د يو غواې په لټه يم، سور غويې چې په شين ميدان کی به ولاړ وي او ما سره به مرسته وکړي.
لامه. د څه لپاره ؟

ketabton.com - The Digital Library

کیم. خداې خبر شه؟ خو ما ته مې پلار ویلي و. ما په عجایب خانه کی ستا له خلې د نااشنا غرونو او د عجیبه ځایونو په حکله واوریدل. که ته په دی عمرکی د سیند په لټون راوتلې یې نو زه هم سفر کولې شم. که زمونږ په قسمت کی وه نو پخپل لټون کی به بریالي شو. ممکن زه باچا شم.
لامه... زه به تا ته له باچهۍ نه زیات ښه شیان ورزده کړم. راځه چې بنارس ته روان شو.
کیم . د شپې نه. اوس خوغله راوتلي دي، سبا سهار به روانیږو.
لامه. خو د شپې تیرولو لپاره ځاې نه لرو.
کیم. مونږ به په کشمیر سراې کی ښه ځاې پیدا کړو. زه هلته یو ملګرې پیژنم... راځه راسره.
دوي دواړه د ښار په ګڼه ګونه کی روان و. لامه په لومړي ځل د یو لوې ښار په سړک د شپې حال ولیدو او د موټرو له هارنونو به وویریدو. دوي اورګاډي سټیشن ته نږدې د کشمیر سراې په لویه دروازه کی ورننوتل چې د دې پراخ انګڼ چاپیره محرابي دروازې او شا ته یې کوټې جوړې وې.
په انګڼ کی له اوښانو، اسونو او خچرو تجارتي سامانونه راښکته کیدل او باریدل. د هند د شمال او د مرکزي ایشیا د تجارانو ډلې دلته ایساریدې. یو شور ماشور پکی جوړ و. کیم په دی ګڼه کی لامه بدرګه کوو. دوي په یو څو پوړیو وختل او د محرابي برنډې بل سر ته ورغلل چې د اورګاډي سټیشن ته نږدې و. هلته به د اسونو سوداګر محبوب علي ایساریدو. دی د شمالي غرونو سړې و او کیم پخپل وړوکي ژوند کی اوپه تیرو کلونو کی د هغه لپاره څو کارونه کړې و.
محبوب علي یوغټ او دنګ سړې و، ږیره به یې په نکریزو رنګوله. ده کله کله یو یا بل کس چې د اسونو د تجارت سره یې هیڅ کار نه و، کیم ته په ګوته کړو چې په هغه دی نظر وساتي. کیم به ټوله ورځ هغه کس پسې ګرځیدو او ماښام به یې محبوب علي ته راپور ورکړو چې هغه کس چا سره ولیدل او چا سره یې خبرې وکړې. محبوب علي به د هغه خبرې واوریدې خو هیڅ به یې نه ویل. کیم احساس کوو چې دا د یوسازش برخه وه خو پوهیدو چې د محبوب علي نه پرته بل چا سره د دی خبروڅه ارزښت نه و.
هغه به کیم ته ښه خواړه اخستل او یو ځل خو یې ورته اته آنې (نیمه روپۍ ) هم ورکړې وې. کیم یو اوښ په څپېړه ووهلو او لامه ته یې وویل،

ketabton.com - The Digital Library

"هغه دلته دې". دوي د يو تياره محراب شا ته وليدل چې محبوب علي، خپل د بخارا کمر بند پرانستې، د وريښمين قالينې جوړ د اس په زين ناست و او د يوې نقرئ چلم له نيچې يې تمبکوڅکول. محبوب علي د قدمونو د ښکالو په اوريدو سترګې محراب ته واړولی او د بوداي راهب په ليدو يې يو سوړ اسويلې وکړو، "لامه، سور لامه ، ستاسو ځاې خو د لاهور نه ډېر ليرې دې، دلته څه د پاره راغلې؟" لامه لکه د مشين خپل کچکول ورته وړاندې کړو. خو محبوب علي په قهروويل، "په کافرانو دی لعنت وي، زه د تبت پړسمنو ته هيڅ خيرات نه ورکوم، ورشه هغه اوښانو شا ته د بلتتستان هلکانو نه يې وغواړه. دوي به ستا په قدر پوهيږي." بيا يې يو سايس ته ناره کړه، "وګوره ستا وطن دار راغلې دې ،که وږې وي نود ډوډئ غم يې وخورئ." هغه بلتي هلک چې سر يې خريلې و او د اسونو سره مله و، يو څه نا څه بوداي دين منونکې و، راغلو او لامه ته يې پخپله ژبه کی وويل چې د سايسانوډېرې ته دی ورشي. کيم هغه ته ورو ټيله ورکړه او په ورو غبږ يې وويل، " ورشه"
لامه ولاړو او کيم هم هلته پاته شو. محبوب علي خپل چيلم ته پام وکړو او وې ويل، " ته هم ورځه هندو هلکه، خداې دې ټول کافران خوارکړي. زه تبنته د هغو نه يې غواړه چې ستا د خپل دين وي". کيم له يې خوند ورکړو چې محبوب علي هغه نه و پيژندلې ورته يې وويل،
کيم.. مهاراج، زما پلار مړ دې، مور مې مړه ده او خيټه مې تشه ده.
محبوب علي.. ورشه د اسونو سره ملو خلکو کې د چا نه وغواړه. هلته به څوک هندو وي.
کيم . (په انګليسي ژبه) محبوب علي، ايا زه هندو يم.
محبوب علي(حيرانتيا)، داڅه دي، وړوکي ملګريه؟
کيم. هيڅ نه. زه اوس د هغه لامه مريد يم او دواړه زيارت ته روان يو، بنارس ته. هغه ليونې دې او زه د لاهور ښار نه ستړې شوې يم. زه اوس نوي هوا او نوې اوبه غواړم.
محبوب علي. خوته د چا لپاره کار کوې او ما ته څه له راغلې يې؟
کيم. زه به نور چا ته ولاړ شم؟ پيسې راسره نشته او بی له پيسو سفر ته تلل ښه کار نه دی. ته به په افسرانوډېراسونه خرڅ کړې. ما وليدل، دا نوي اسونه دی ډېر ښه دي. محبوب علي اوس ما ته يوه روپۍ راکړه او کله چې ما خپل مال تر لاسه کړو نو دا به بيرته درکړم.

ketabton.com - The Digital Library

محبوب علي. هن...تا راته پخوا چرې دروغ نه دي وېلي. هغه لامه راوغواړه او ته ځو شيبې په تياره کی ودرېږه.
کيم. (خندا) زمونږ د دواړو خبرې به يو شان وي.
کله چې لامه د محبوب علي پوښتنی ځوابولی نو هم هغه خبري يې وکړې چې دی او هندو هلک دواړه بنارس ته روان دي او هغه هلک د ده مريد و. محبوب علي ترې د هلک نوم وپوښتلو نولامه سره هيڅ ځواب نه و. د هغه د کور، کلي، نژاد، مذهب، له دی ټولو هيڅ خبر نه و او ده ته يې وويل چې د دی پوښتنو اړتيا نشته. د هغه لپاره مهمه دا وه چې د خپل مريد نه بغيردی يواځې هغه سپيځلې سيند نشي موندلې او هيڅوک هغه مريد ترې نشي بيلولې. محبوب علي ورله ډاډ ورکړو چې داسی به نه کيږي. لامه چې بيرته ولاړو نو کيم محبوب علي ته وويل، "دی روغ ليونې دې. حاجې صيب زه به ولې تا ته دروغ وايم."
محبوب علي چلم کش کړو او وې ويل. "امباله د بنارس په لاره ده. تاسو بايد لومړې هلته ولاړ شئ. ته به زما يو پيغام هم امبالې ته ووړې. دا د يو سپين اس په اړه دی چې تير ځلې مې يو افسر ته پلورلې و." هغه کيم ته د اس او د افسر کړه وړه بيان کړل او وې ويل چې افسر ته دی ووای، چې د سپين اس بچي په ښه حال دي. افسر به پوهه شي چې ته زما له خوا ورغلی يې. هغه به درنه پوښتنه کوي چې تا سره د دی خبرې څه ثبوت دې. نو ته به ورته واې چې محبوب علي راته ثبوت راکړی دی. په دی وخت کی د محراب له دروازې يو سيورې رادننه شو. محبوب علي خپل غږ لوړکړو او وې ويل، "ښه نو ته په دی ښارکی ډوډۍ پسې گرځې او مور پلار دې مړه دي". د هغه سره څنگ کې ډوډۍ ايښې وه، له هغې يې يوه غوړه ډوډۍ راواخيسته او کيم ته يې په ورکولو کې وويل، " واخله زويه دا ډوډۍ، ورشه هلته يو لامه هم زما د سايس سره ناست دی، سبا به درته يوکار پيدا کړم."
کيم ډوډۍ په لاس کی واخسته او په خوړلو يې پيل وکړ، په ډوډۍ کی دننه دری نقرۍ روپۍ او ورسره په پريړکاغذ يوه نقشه تاو وو. کيم هغه روپۍ او پريړکاغذ پخپل غاړه کی ځوړند د څرمنې په تعويذ کی کيښودل او چې د سايس خوا ته ولاړو نو لامه د تودې ډوډۍ خوړلو نه وروسته بل اورته نږدې گونج مونج ويده و. کيم هم هغه سره نږدې سملاستو او وې خندل. دی پوهيدو چې ده محبوب علي له خوا يو کار په غاړه اخستې و او د سپين

ketabton.com - The Digital Library

اس په کیسه یې هیڅ باور نه راتلو. خو کیم هیڅ شک نه لرلو چې محبوب علي د هند په لروبر کی د اسونو تر ټولو لوي، شته من او نامتو سوداګر و. البته هغه په دی نه و خبر چې دی د هند د سروې د شعبی په دوسیو کی د ." سي ۲۵ الف با" په نوم رجسټر و. په کال کی دوه درې وارې هغه یوه کیسه دی شعبې ته وراستوله. د دی کیسو سپیناوې د " ر ۱۷" او " م ۴" له خوا هم کیدو او زیات وخت به ریښتا و. په دی کیسو کی د غرونو د هر ډول پیښو خبرونه و، چې د ټوپکو د تجارت او د ګاونډیانو د اړیکو سره یې تړاو لرلو.
په نزدې وختونو کی کیسه داسی وه چې پینځو وړو باچاهانو ته د شمال یو لوې سلطنت د جنګ ګواښ کړی و اود دوي له ملکونونه پټ خبرونه هند ته رسیدلي و. نو د هغو باچاهانو وزیران په دی سخت خواشیني و چې دا خبرونه څنګه هند کی انګریزانو ته ورسیدل. دوي ټولو د اسونو په هغه سوداګر شک کوو چې ږیره یې رنګوله. هم دا وه چې سږ کال د ژمي په واورو کی د محبوب علي په قافله دوه وارې ډزې شوې وې. د ده په قافله کی د دریو نااشنا کسانو د مله کیدو سره هغه نور هم له احتیاط کار اخستو او سږ کال په پیښور کی ایسار نشو او نیغ لاهور ته راغلی و. دی دوه ورځې وړاندې سراې ته را رسیدلې و او له هغه راهیسې بهر نه و وتلې.
خو هغه یو ټیلیګرام بمبئ ته وراستولی و چې هلته په یو بېنک کی ده خپلې پیسې ساتلې او بل یې ډېلي ته استولې و چې د ده د قام یو کس چې په کاروبار کی ورسره شریک و، په نوم و. دریم یې امبالې ته استولې و چې هلته یو افسر د سپین نسل د اس په انتظار و. خو د محبوب علي درې واړه ټیلیګرام پیغامونه د پوسټ افس نه وړاندې په لاره کی ولوستل شوي و. په دوي کی د اسونو د راوړولو د ځنډ او د پیسو د ورکولو خبره لیکلې وه. په دی وخت کی محبوب علي ته کیم او لامه ورمخامخ شول او اوس هغه اصل پیغام کیم ته ورکړې و چې امبالې ته یوسي.
له ډوډئ خوړلو وروسته محبوب علي، پټ له سراې بهر ووتلو خو خپله کوټه یې نه وه قلف کړې. کیم د هغه په خونه کی د چا د پښو ښکالو واوریده نو ورو غوندې ولاړو او وې لیدل چې یو سړي د محبوب علي د شیانو غوټې خلاصولې، داسی لکه چې څه یې لټول. هغه په یو چاقو د محبوب علي د پڼو(پیزار) تلي هم وسپړدل خو هیڅ یې وونه موندل.

ketabton.com - The Digital Library

د سپیده چاودې پر وخت محبوب علي سراې ته راغلو نو د سایسدېره تشه وه.  هلته نه کیم و او نه لامه.  ده خپل یو سایس ته چې تر اوسه ویده و، لته ورکړه او پوښتنه یې وکړه چې دواړه څه شول.  هغه د سترګو په موښلو ورته وویل چې لامه د چرګ بانګ نه هم وړاندې پاڅیدو او هلک یې ځان سره بوتلو.  خو اصل خبره دا وه چې کله کیم د محبوب علي په خونه کی غل ولیدو نو پوه شو چې هغه یو عادې غل نه و. عادې غل د پنو تلي په چاقو نه شکوي.  لومړې خو کیم غوښتل چې ناره کړي " چور...چور( غل ...غل) " او ویده خلک راپاڅوي. خو بیا یې پخپلی غاړې کی په تعویذ لاس کینودو او دی نتیجي ته ورسیدو چې دا به ارو مرو د هغه سپین اس خبره وي اوغله هغه څه لټول چې ده امبالي ته ووړل.  ده سوچ وکړو،کوم خلک چې د پنو تلي څیرلې شي، هغوي د خلکو خیټې هم  څیرلی شي.   هغه د ویده سپین ږیري په غوږ کی وویل، بابا، بنارس ته د تلو وخت شوې دې. لامه د ده په غږ سمدلاسه راپاسیدو او دواړه لکه د سیورو له سراې ووتل.

## د ریل ګاډي نړۍ

شپه پای ته رسیدلې وه چې دوي دواړه د کلا په شان جوړ د اورګاډي ستېشن ته ورسیدل.  د اورګاډي د پاټلۍ د پاسه په هوا کی ځړیدلی برقي تارونو نه وړانګې راوتلې چې په لیدو یې لامه هیښ شو او دا ورته د شیطان کار معلومیدو.  دی د کیم سره په یو لوې تالار کی ولاړ و چې خلک پکی لکه د مړو پراته ښکاریدل.  د دریمې درجې هغه مساپر چې د شپې یې ټکټونه اخستي و، د ګاډي په انتظار هم هلته ویده و. کیم لامه ته معلومات ورکول چې د اورګاډي تورانجن کوم ځاې ودریدو او د دی شا ته تړلې خونو کی خلک کښیناستل.
په دی تالار کی یوه لرګینه کوټګۍ (غرفه)  هم وه چې مخ ته یې د شیشې یوه تخته  وه او پکی لوې سورې جوړ و، د هغې شاته یو بابو د سفر لپاره ټکټونه خرڅول.  کیم ویل، " ټکټ هغه کاغذ وي چې مونږ به تر امبالې رسوي." لامه ورته وویل، "مونږ خو بنارس ته روان یو". کیم ورسره بحث ونکړو او وې ویل،" ښه، ښه، بنارس ته ، پیسې می پکار دي" لامه د اور ګاډو سره بلد نه و او کله چې پنځویشت مینټه د پاسه درې بجې جنوب

ketabton.com - The Digital Library

ته تلونکي ګاډي په غړمباري راښکاره شو نو وې لیدل چې ټول مړي ژوندي شو. د پکوړو او خوږو پلورونکو نارې، د پولیسو چغې، د ښځو شور ماشور چې د خپلو غوټو او ماشومانو په راټولولو، د خپلو سړو پسې یې منډې وهلې. لامه په دی وخت کی کیم ته د پیسو یوه کسوړه په لاس کینوده اودی د هغه په ساده توب حیرانه شو. د ټکټ بابوسترګې تر اوسه خوبولی وې او کیم څو پیسې ورکړې نو هغه ورته د یو داسی ښار ټکټ ورکړو چې له دی ځایه شپږ میله لیرې و. کیم ټکټ ته وکتل او وې ویل،" زه د کلي بزګر نه یم خانه، د لاهور ښار اوسیدونکی یم، سم ټکټ راکړه د امبالې". بابوتندې تریو کړو اوبل ټکټ یې ورکړو. بیا کیم ورته نورې پیسې کینښودې چې اوس د امرتسر ټکټ راکړه. کیم خپل ځان لپاره ټکټ وانخستو ځکه د محبوب علي پیسې یې په دی نه لوریدې. د امبالې د ټکټ دهرې روپۍ په سر کیم د لامه نه یوه انه خپل کمیشن په توګه تری وساتل. لامه ته یې د پاتې پیسو کسوړه ورکړه اوپه ویاړ یې وویل، "داسې مرید به د چا وي؟"

لامه د اورګاډي د دریمې درجې د ډبې دروازې سره ولاړ و او دننه یې ولیدل چې ډبه له خلکو ډکه وه نو په کمزوري غږ یې کیم ته وویل، " ښه به وي چې مونږ پلي ولاړ شو" یو چاغ سیک چې مخ یې په ږیره پټ و، کیم ته وویل، " دی وېریږي؟ مه وېریږه، یو وخت زه هم د ټرین نه وېرېدم. راځئ، را ځئ... د حکومت کارونه هم دغسی دي.

لامه. دننه دوه کسان به ځاې شي؟

دکروندګر میرمنه (په چغه) دننه موږک هم نه ځایږي.

کروندګر. د وړو مورې، ځاې به ورته پیدا کړو. دا زوې دې پورته کړه، هغه محترم جوګي دی وګوره.

میرمنه. (په قهر) زما په غیږ کی اویا غوټې دي. په دوي څه وکړم؟ زما په زنګون یې ولې نه کښینوې، بې شرمه سړي هم داسی وي.

هغې چارچاپیره وکتل چې څوک د دی په خبرو د تاید سر وخوځوي. د امرتسر یوې نڅاګرې، چې کړکۍ سره ناسته وه د خپلې لوپټې لاندې پوزه کش کړه. یو هندو بنیا چې په ټوکر کی تاو خپله د حسابونو دوسیه، په ترخ کی وهلې و، ناره کړه.

بنیا. دننه شئ... دننه شئ... د بې وزلو سره مهرباني ښه کار دې.

ketabton.com - The Digital Library

ډوګره پوځي. او... او...مهرباني هم هغسی لکه چې  خوسې زيږيدلي نه وي او اوو فيصده سود دې پرې اخستي وي  (ټولو ناستو وخندل)
لامه.  دا اورګاډې بنارس ته ځي؟
کيم.  هو هو مونږ هسې چټي خو ورته نه يو راغلي، ور دننه شه که نه وروسته پاتې کيږو.
د امرتسر جينۍ.   وګوره دا سړې پخوا چرې اورګاډي ته نه دې ختلې.
کروندګر خپل غټ لاس بهر کړو او لامه يې بره ګاډي ته کش کړو.  يو چا ورته د لرګي په سيټ ځاې تش کړو، خو لامه وويل، دا زما د اصولوخلاف کار دې، زه به په زمکه کښينم.  بله دا چې زه په کرسۍ کښينم نو ځان مې خوږيږي". کروندګر ورته وويل، په دی اورګاډو کی مونږ ټول اصول مات کړي دي.  ته وګوره، د هر قام او د نژاد خلک د يو بل سره څنګ تر څنګ ناست يو". ميرمنې يې وويل، هو او ځينې پکی هيڅ شرم نه لري". هغې د امرتسر جينۍ وليده چې ځوان پوځي ته يې کتل.  کروندګر وويل،  ښه  به نه وې چې د غويي په ګاډې تللې وی، څه پيسې به مو سپما کړې وی.
ميرمنې يې وويل، " هو  هغه پيسې به مو په ډوډۍ لګولې وی.
لامه.  که مونږ خبرې ونکړو نو خداې به راباندې مهربانه شي.
کيم.  او مورې، په هغې ښځې خو به خداې ډېر مهربانه شي چې يو اوړي ته ډوډۍ خيرات کی ورکړي.
سيک (خاندی)  دا د ګدايانو خبره وي.  او خورکۍ په ځان دی پخپله وکړل.
هغې ښځې د يوغوږ ډبي نه د کيک ټوټه کيم ته ورکړه او پوښتنه يې وکړه چې دې چرته روان و.  کيم ورته د بنارس نوم واخستو.  پوځي ورته وويل،  " ته خو راته مداري معلوميږې.  هره لوبه چې دې زده ده راوښايه او ستا ژير ملګرې ولې غلې ناست دې؟" کيم وويل، ځکه چې دی سپيڅلې دې او په هغو معاملو غورکوي چې له تا او ما پټ دي.  سيک وويل، دا به سمه وي خو مونږ د لودياني سيکان يو او په دی خبرو ماغزه نه خرابوو، مونږ جنګ کوو... جنګ.  او زما د خور ليورزې په يوغونډ کی نايک دې.
هلته ډوګره خلک هم دي.  پوځي په دی خبره خوشاله شو ځکه دی ډوګره و.  د امرتسر جينۍ وويل، ما ته خو ټول پوځيان يو رنګ ښکاري. د کروندګر ښځې هم په تايد کی سر وخوځوو نو جينۍ بيا وويل، دا ټول چې د سرکار ملازمان وي، يو بل ته د ورور په سترګه ګوري.

ketabton.com - The Digital Library

زمینداو وویل، " زما ورور د جټانو په غونډ کی دی، خو ډوګره هم ښه خلک وي. پوځي وویل، هو سیکان هم په دی نظر دي، درې میاشتې کیږي کله چې دوې د پیرزیۍ په کوتل کی اتو اپریدي ډلو راګیرکړي و، نو ډوګره پلټن ورسره کومک کړی و. بیا هغه د دی غرنۍ جنګ کیسه تیره کړه نو امرتسر جینۍ وموسیده. هغه پوهه وه چې پوځي دا کیسه د دی د خوښي لپاره کوله. د ډبې د بل سر نه د کروندګر میرمنې په اوریدو هاې افسوس وکړل چې پوځیانو د غرونو د خلکو کورونه وسیزل او ماشومان یې در په دره کړل. پوځي وویل چې هغوي هم زمونږ خلک وژلي و او کله چې مو روغه وکړه نو سرکار ورلهډېرې پیسې ورکړې.
ګاډې اوس امرتسر ته رسیدلي و او د دی د څراغونو رڼا د شپې په ختمیدو پیکه ښکاریده. د مساپرو د ټکټ جاج اخستونکي ګارډ راښکاره شو او کله چې هغه د کیم ټکټ وکتلو نو ورته یې وویل، ښکته شه. کیم احتجاج وکړو چې دی امبالې ته روان دې. ګارډ ورته وویل، زما له خوا دوزخ ته ولاړ شه خو ټکټ دی تر امرتسر دی. کیم په ژړا شو او په چغو چغو یې ویل چې سپین ږیرې د ده پلارهم دی او مور هم. دی د هغه امسا په شان دې او که دی ورسره نه و نو هغه به مړ شي. په ډبه کی ناستو ټولو خلکو ګارډ ته زارۍ وکړې چې په ماشوم دی مهرباني وکړي. بنیا ورته تر ټولوډېرۍ خبري وکړې خو ګارډ کیم د غوږ نه ونیولو او ښکته په پلیټ فارم یې ودرولو.
لامه هک پک ورپسې ښکته شو او نه پوهیدو چې څه وکړي. کیم له کړکۍ بهر په واویلا و، "زه غریب یم، زما مور پلار مړه دي، که زه دلته پاتې شوم نو د دی غریب سپین ږیري ساتنه به څوک کوي".
لامه په دی وخت کی وویل، " دا څه حال دې؟ دی زما مرید دې او بنارس ته به راسره ځي، که د پیسو اړتیا وي نو"... کیم ژر په ورو غږ ورته وویل، " غلې شه بابا...مونږ خو څه راجګان نه یو چې پیسې دی دوړه کړو، د نړۍ خلکډېر زړه سواندې دي". هغه له وخته د امرتسر جینۍ ولیده چې په لاس کی یې پیسې نیولې وې او له ګاډي ښکته شوه. کیم پوهیدو چې د هغې په شان ښځېډېرۍ سخي وي. هغې پیسې کیم ته ورکړې چې د امبالې ټکټ واخلي او له هغه یې وپوښتل، " ستا جوګي د شمال نه راغلې دې؟ کیم په زوره وویل، د شمال د بل سر نه، هلته د غرونو له مینځه. جینۍ وویل، په شمال کی د زالغوزي ونې شنې وي او واوره کیږي. زما

ketabton.com - The Digital Library

مور هم دغرونو وه. خپل جوګي ته وايه چې دعا راته وکړي. کيم په زوره وويل، "په تا د خداې رحمت لس زره واري وي. مقدس جوګي يوې ميرمنې راباندې رحم وکړو چې زه تا سره سفر وکړې شم. دا ميرمنه د سرو زرو زړه لري". بيا په منډه ولاړو چې ځان ته ټکټ واخلي. جينۍ لامه ته وکتل چې لکه د مشين کيم پسې، ځوړند سر روان و او په تبتي ژبه يې څه ويل.

د کروندګر ميرمنې وويل، "دی جينۍ ننډېر ثواب ګټلي دې، دا جينۍ فرشته ده". يو بل وويل، په امرتسر ښارکی دغسی په زرګونو فرشتې اوسېږي". دريم وويل، شابه زرکوه جوګي صيب چې ګاډې درنه روان نشي. کيم په هغو پيسو نه يواځې دا چې ټکټ بلکه د خواړو لپاره هم شيان رااخستي و.

ده په ګاډي کې د لامه مخې ته هر څه کيښودل او وې ويل، "ډوډۍ وخوره... دا دی اوس سهار دې" ګاډې د پنجاب په ښيرازو زمکو کی په منډه و او ټولو مساپرو د خپلوخپلو ډوډيو غوټې پرانستې، څه نا څه خوړل.

د ناشتې نه وروسته د کروند ګر ښځی او سيک پان خوړل، زميندار او پوځي په لاس د تمبکو اوکاغذ نه سيګرټ جوړ کړي او څکول يې. لامه نسوارکړي او تسبيح يې اړولې. کيم په سيټ دواړه پښې تاوکړې، پرلت وهلې ناست اوپه دی خوشاله و چې خيټه يې مړه وه.

لامه. تر بنارس به کومو سيندونو نه تيرېږو.

بڼيا. مونږ ګنګا لرو، نور...نورهم شته.

لامه. ما د يو خاص سيند پوښتنه کوله، هغه چې اوبه يې شفا لري.

بڼيا. هم هغه ګنګا ده، په دی کی چې څوک ولامبي پاک شي. ما درې واري په ګنګا کی لامبلي دي.

پوځي. آو، تا ته د دی اړتياډېره وه. (ټولو وخاندل)

لامه . دا ګنګا چا جوړه کړې ده.

بڼيا. (په کرکه) ګنګا خدايانو جوړه کړې ده خو ته د کوم مذهب منونکی يې؟

لامه. زه د تر ټولو ښه دين منونکی يم. ښه نو ګنګا ستا خدايانو جوړه کړه. نو ستا خدايان څه ډول دي؟

بڼيا. نو ستا خداې څوک دې؟

لامه. واورئ...زه به اوس تاسو ته د هغه چاخبره وکړم... واورئ اې د هند اوسيدونکو واورئ...

ketabton.com - The Digital Library

بیا هغه په اردو ژبه کی د بودا د ژوند کیسه پیل کړه، خو زر د تبت په اړه یې خبرې وکړې او ورپسې د هغو صحیفو په اړه لګیا شو چې په چینایي ژبې لیکل شوي و. ټولو په صبر د ده خبرې اوریدې. په ټول هند کی دغسی جوګیان، سادهوان او پیران ځاې ځاې خلکو ته د خپل دین تبلیغ کوو. کله چې لامه ستړې او خاموشه شو نو پوځي خبرې پیل کړې.
پوځي. په پیر زیې کوتل کی مونږ سره د مسلمانانو یوکنډک هم و. د دوي یو ملا، فکر کووم د پوځ نایک و. په هغه چې به چپه راغله نو وړاندوینې(پیشګوي) به یې کولې. خو ټول لیوني د خداې په امان کی دي. د هغه افسرانو به ترې سترګې پټولې.
لامه. واورئ زما د پیغمبر د غشي کیسه واورئ.
دا د هغوي په طبع برابره کیسه وه نو ټولو ورته غوږ ونیولو. د کیسې په پاې کی هغه د سیند پوښتنه وکړه خو ټولوهم دا ویل چې دا سیند ګنګا دې.
کروندګرښځه. مونږ په جالندهر کی ښه خدایان لرو، وګوره ځومره ښه فصلونه یې راکړي دي.
کروند ګر. په پنجاب کی د سپیځلې سیند لټهدېر ګران کار دی. زه خو ښه سیند هغه ته وایم چې هرکال نوي خاوره پر زمکه راته اچوي .
او زمونږ د کروندګرو خداې "بهومیا" نومیږي. زه تل د هغه شکر وباسم چې داسی ښې زمکی یې راکړي دي.
لامه. (کیم ته) زما مریده... ته څه فکر کوی چې زمونږ پیغمبر به د هند تر شمال راغلي وي؟
کیم .هو، امکان شته چې راغلي وي.
سیک. په وروستي ځل چې کوم لوې سړې دلته راغلې و، هغه سکندر زوالقرنین و چې خلک ورته سکندر اعظم واي. هم هغه د جالندهرکوځې پخې کړې او په امباله کی یې د اوبو لویه باولۍ جوړه کړه. دا دواړه اوس هم شته. خو ما ستا د پیغمبر په اړه څه نه دي اوریدلي.
پوځي. (په ملنډو) ویښته اوږده پریږده او پنجابي ژبه ووایه. د سیک کیدو لپاره به دې بس وي.
لامه یو سوړ اسویلې وکړو او پخپل ځان کی راتاو شو. دی هغه وخت د یوې غوټې په شان ښکاریدو چې ترې په تبتي ژبه د دعاګانو او د تسبیح غږ راتلو. بیا یې سر راپورته کړو او کیم ته یې وویل، "دا د ګاډي غږ په ما بد لګي، داسی ښکاري چې مونږ له سینده تیر شوي یو". هغه ورته

ketabton.com - The Digital Library

وويل، " صبر وکړه صبر. ستا سيند خو د بنارس سره نږدې دې. تر اوسه مونږ له هغه ډېر ليرې يو". لامه وويل، خو زمونږ پيغمبر شمال ته هم راغلې و او دا واړه واړه سيندونه چې مونږ ترې تيرېږو، هسې نه په دوي کی يو سيند هم هغه وي چې زه يې لټوم". کيم ځان پرې ناغرضه کړو نولامه بيا وويل، "ته ما ته راليږل شوې يې، داسې ده که نه؟ زما د عبادت په بدل کې ته ما ته راوليږل شوې، د هغه توپې سره نږدې، هم ته وې چې يو ځلې په يو صورت او بيا په بل صورت راته راغلی" کيم ورته ورو وويل، "دا خبرې دلته د کولو نه دي. هغه هم زه ووم ، بيا سوچ وکړه د توپې سره هغه هندو هلک هم زه ووم". لامه وويل، "خو هلته يو انګريز سپين ږيرې هم و چې د سيند په اړه يې راته باور راکړی و". کيم د عجايب خانې خبره وکړه. بيا يې ورته ډاډ ورکړو چې يو وارې دوي امبالې ته ورسيدل نو پلې به د سيند لټه وکړي.
لامه په دې خوشاله شواو نيغ کښيناستو. بيا يې وويل،" ته هم د څه شي په لټون راوتلې يې؟ کيم ورته د سره غويي او د شين ميدان خبره وکړه خو ورسره يې زياته يې کړه چې دا يوه افسانه ده. د کروند ګر ښځې د دوي خبرو ته غوږ ايښې و او په خبرو کی راولويده چې د دوي په کلي کی يو سورغوايې شته چې په شين ميدان کی ګرځي او هيڅوک ورته څه نه واي. ښاي هم هغه ستا غواې وي. سيک وويل،" ښځو له يوه خبره په لاس ورکړئ نوسلګونو نوي کيسې ترې جوړوي. ټول جوګيان خوبونه ويني اود دوي مريدان هم." لامه وويل،" ښه نو شين ميدان او بيا سورغوايې به مونږ ته انعام راکوي؟ کيم وويل، "نه نه، دا خو يوه کيسه چا راته وکړه . زه غواړم چې په امباله کی دا غواې ولټوم. خو ته د ګاډي په شور کی د سيند لټون نشې کولې. کيديشي چې غواې ددې لپاره راليږل شوي وي چې مونږ دواړو ته لاره ووښاي"
لامه ټولو مساپرو ته وکتل او کيم ته يې لاس ونيولو، "دې پرون ما ته راليږل شوې دې او د دې مادي نړی بنده راته نه ښکاري". د کروندګر ښځې وويل، "ماډېر فقيران او جوګيان ليدلي دي خو داسې جوګي او داسې مريد مې نن وليدل". د هغې ميړه خپله ګوته سر ته يوړه او اشاره يې وکړه چې دوي دواړه ليوني دي.

ketabton.com - The Digital Library

## وړوکي مداري

اورګاډې امبالې ته ورسيدو او ټولو هغو مساپرو چې هلته ښکته کيدل، خپل شيان راټول کړل. د کروند ګر ښځې کيم ته وويل، "مونږ دلته د يوې قانوني معاملې لپاره راغلي يو او شپه به مو زما د ميره د ماما کشر زوې کره وي. د هغوي د کور په غولي کې به ستا او د جوګي لپاره د ايساريدوځاې ووشي" بيا يې ميره ته مخ واړوو او وې ويل، "دوي به راته دعا وکړي" کيم په زوره وويل، "اې پيره، يوه ميرمنه چې د سرو زرو زړه لري، د شپې لپاره راته ځاې راکوي. دا د مهربانه خلکو وطن دې، د جنوب د مهربانه خلکو... وګوره له سهاره مونږ سره څومره خلکو مرسته وکړه". لامه په درناوي سرورټيټ کړو. خو کروندګر خپل کالي کونډي په راخستلو ښځې ته په قهر وويل، "زما د ماما د کشر زوي کور د کوڅه ډبو خلکو لپاره نه دې". ښځې هم په قهر وويل، "ستا د ماما کشر زوې زما د پلار د کاکا زوې د لورپه واده کې ورله هيڅ نه و ورکړي. هغه ډوډۍ اوس د دوي په حساب کې واچوه. جوګي خيرات درنه نه غواړي". کيم اوس ناارامه و چې زر تر زره لامه ته سر پناه پيدا کړي او د کروندګر په خبرو په تلوسه شو. خو هغه ميرمنې ورته د راتلو وويل. دی پخپله د محبوب علي پيغام هغه انګريز افسر ته د رسولو لپاره هم ليواله و.

کله چې دوي د چاونۍ شا ته د هندوانو يو کور ته ورسيدل نوکيم وويل، "زه ورځم چې د ډوډۍ غم وخورم". لامه وار خطا د ده لاس ونيولو، "ته به بيرته راځې کنه؟ لوز وکړه چې ته به هم په دی صورت کی راځې، اوس که ناوخته نه وي نو د سيند لټه به وکړو". کيم ورته وويل،" هواوس ډېر ناوخته دې او تياره شوې ده. ګوره مونږ د لاهور نه څومره ليرې راغلو، سل ميله خو به وي". لامه وويل، "زه د خپل خانقاه نه نورهم ليرې شوم او دا نړۍ څومره لويه اوبده ده"

کيم په تياره کی ورک شو. محبوب علي چې هغه ته د کوم انګريز د کور پته ورکړې وه، دی د هغې دروازې ته ورسيدو او د برنډې د ديوال سره په شنو بوټو او واښو کی پټ کښيناستو. په کورکی څراغونه بل و او نوکرانو په سپينو جاموکی د ډوډۍ د ميز د پاسه لوښي ايښودل. يو انګريز په تورو او سپينو جامو کی برنډې ته راووتلو چې يوه سندره يې زمزمه کوله. کيم په تياره کی د هغه مخ نشو ليدلې. ده د هند د يو عادي فقير په شان غږ را

ketabton.com - The Digital Library

وويستوچې " د غريبانوساتونکيه، تاسو ته دی خير وي...محبوب علي واي..." انګريز د ده د غږ په لوري ونه کتل او نه پرې هيښ شو. هم هغسې ولاړ يې وويل، "څه واي محبوب علي؟" "دا چې د سپين اس د نسل بچي ځاې پرځاې دي". کيم وويل. "د دی ثبوت څه دې"؟ انګريز د ګلابو بوټي ته ورنږدې شو. کيم هغه پرېږ تاو شوې کاغذ د انګريز پښو ته واچوو او وې ويل، "محبوب علي دا ثبوت راکړې دې" سړي زر د کاغذ د پاسه خپله پښه کيښوده ځکه هغه وخت يو باغبان د برنډی سر ته راغلی و او ده نه غوښتل چې هغه کاغذ ويني.
کله چې باغبان بيرته ولاړو نو انګريز کاغذ د زمکې نه راواخستو او د هغې پرځاې يې يوه روپۍ وغورځوله. کيم د روپۍ شړنګ واوريدو .
انګريز په ګړندي ګامونو کورته ولاړو نو کيم وروړاندی شو اوچټک هغه روپۍ يې جيب ته کړه. خو هغه د روپۍ پرواه نه ساتله. ده د خپل پيغام اغيزې په هغه سړي ليدل غوښته. له هغه ځايه د وتلو پر ځاې دې ورو ورو لکه د مار په زمکه تاو راتاو کور ته نور هم نږدې شو. دی خبر و چې د هند انګريزي بنګلې چار چاپيره خلاصې وي. انګريز يو وړوکي کوټې ته ورغلی و چې د برنډې په يو سر کی لکه د دفتر ښکاريدو. هلته د کاغذونو او دوسيو پنډونه ايښې و او انګريز اوس په يوې کرسۍ ناست د محبوب علي له خوا راليږل شوي کاغذ ته کتل. د سړي مخ د څراغ په رڼا کی واضح ښکاريدو او د کاغذ په ولوستو د ده رنګ واوختو.
په دی وخت کی د يوې ښځې غږ واوريدل شو چې " ويل يې..."ګرانه چيرته يې؟ ژر د ناستي کوټې ته راشه چې ميلمانه راتلونکي دي" سړي اوس هم د کاغذ مطالعه کوله. ښځې څو شيبې وروسته بيا چيغه کړه، "ميلمه راغلو، زه په دروازه کی د پوځيانو غږ اورم" سړي ورمنډه کړه او هم هغه وخت يو لوې موټر چې شا ته څلورو پوځيانو بدرګه کوو، په دروازه راننوتو. پوځيانو پښې ودربولې او سلامي ودريدل. له موټر يو لوړ دنګ سړې چې ويښته يې تور و، را ووتلواو يو بل ځوان ورسره مله و.
کيم د موټر پاې سره نږدې پر زمکه پروت و، سړو په خندا خبرې کولې. د تورو ويښتو سړي د کيم د سړي نه څه پوښتنه وکړه نو هغه په ځواب کی وويل، " بي شکه، محترم، د اس په اړه يو خبردی" بيا بل سړي ته يې وويل،" مونږ به څو شيبو کی بيرته راشو، تر هغې ټول مشغول ووساته".

ketabton.com - The Digital Library

پوځیانو ته یې د انتظار وویل او دواړه هغه وړوکي دفتر ته ولاړل. موټر بهر ووتلو او کیم ولیدل چې دواړو سړو د محبوب علي له خوا رالیږلي کاغذ ته کتل. دوي په ورو غږ خبرې کولې خو بیا هم کیم اوریدې شوې.
لوړ سړی. اوس د اوونیو خبره نه ده، د ورځو معامله ده، بلکه د څو ساعتونو. ما د څو ورځو نه د دی خبرې توقع لرله خو دی...دی معلوماتو ورباندې یو میخ ټک وهلو. نن دی "گروگن" دلته ډوډۍ ته رابللی دی؟
ځوان سړی. هو محترم او مېکلین هم راځي.
لوړ سړی... ډېره ښه ده، زه به دوي سره پخپله خبری وکړم. دا هم ضرور ده چې معامله دی کونسل ته وړاندې شي، خو په داسی کارونو کی سمدلاسه عمل پکار وي او مونږ د دې لپاره جواز لرو. د پنډۍ او پیښور کنډکونو ته خبردارې ورکړئ . په دی به د اوړي کومکونه اغیز من شي خو بله لاره نه لرو. که په لومړي ځل مو دوي ته سم گوزار ورکړې وې نو اوس به دا حال نه وی. اته زره به بس وي.
ځوان سړې. د توپخانې په اړه څه وایئ؟
لوړسړی. په دی باید د میکلین سره خبرې وکړم.
ځوان سړی. محترم دا د جنگ مانا ورکوي؟
لوړسړی.نه...دا د سزا مانا ورکوي. لکه چې یوسړی د خپلو مشرانو د عمل په بدل کی تاوان ورکوي.
ځوان. خو کیدیشي . سي ۲۵ دروغ ویلي وي.
لوړ سړی. د ده معلومات د نورو د معلوماتو تاید دې. په عمل کی مونږ شپږ میاشتې د مخه خبر شوي و. دوي سره د روغې یو چانس و، خو پرځای یې دوي په دی موده کی ځانونه نور هم قوي کړل. هغه څو ټیلیگرام پیغامونه سمدلاسه ورولیږه. خو د نوي خفیه شفر سره. زما او د وارټن د شفر سره. زما په فکر میرمنو ته به نور د انتظار زحمت نه ورکوو. نورې خبرې به د سیگرټو پرڅکولو وکړو. زه خبر وم چې همدغسې به کیږي، دا سزا ده، جنگ نه دی.
کله چې د موټر بدرگه پوځیان له لوی دروازی ووتل نو کیم لکه د چینجي د دیوال سره سره وښکیدو او د کور شا ته ولاړو. د خپلې تجربې پر اساس دی خبر و چې هلته به ډوډۍ پخیږي. په پخلنځي کی هر ډول خلک په کاراخته و او ده هم پکی ځان ورگډ کړو، خو یو کس دی وشړلو. کیم په ژړا وویل، "ما غوښتل چې لوښي درته ووینځم او یو ټوک ډوډۍ وخورم".

هغه کس ورته وویل، "زه زه، د امبالي ټول خلک هم په دی کار پسې راوتلي دي. ځه تښته"، دوي اوس د ښوروا قابونه دننه وړل، "ته فکرکوې چې کرایټن صیب د میلمستیا د کارونو لپاره ستا په شان کوڅه ډب غواړي؟" کیم د لوړ پوځي په اړه ځان خبرول غوښته. هغه لویو قابونو ته وکتل او وې ویل، "ډیره لویه میلمستیا ده" . یو چا وویل، " د حیرانتیا خبره خو نه ده چې مشر میلمه جنګ لاټ صیب دې. سپه سالار"
د کیم لپاره دا معلومات بس و او د سترګو په رپ کی دی ورک و. کله چې دې له هغه کوره ووتلو نو سوچ یې کوو، آیا دا هر څه د یو اس د نسل لپاره کیږي؟ محبوب علي ته پکار و چې ما سره راغلې وې او کتلې یې وې چې دروغ څنګه ویل کیږي. د دی نه وړاندې د محبوب علي ټول پیغامونه چې کیم ورته اوړل د ښځو په اړه و. اوس د سړو خبرې وې.
لوړ سړي ویل چې دوي به یو ځای چا ته د سزا ورکولو لپاره پوځ لیږي، دا خبر به پنډۍ او پیښور ته ځي، توپې هم پکی دي. هغه په لاره روان و او چرت یې وهلو چې که زه لږ نور دوي ته ور نږدې شم نو ډېر لوې خبر به پیدا کړم.
دی چې د کروندګر د ماما کشر زوي کور ته ورسیدو نو د یو قانوني معاملې په اړه بحث کیدو او لامه خوبولې و. د شپې د ډوډۍ نه وروسته یو چا چلم راوړو نو کیم هم ترې کش وکړو. هغه ته خپل ځان نن د یوسړې په شان ښکاریدو. ناستو کسانو د ده سره ډېر په ادب خبرې کولې ځکه د کروندګر میرمنې ټولو ته د سره غویې او د ده له بلې نړۍ نه د راتلو خبره کړې وه. د دی کورنۍ برهمن ملا چې راغلو نو د لامه سره یې په دیني معاملو خبرې پیل کړې. د ادعیانو نه خبره نجوم ته لاړه او دواړو ملایانو د ستوروا‌و د کایناتو خبرې راواخستې. شپه ناوخته د کروندګر میرمنې د خپل برهمن نه د لامه په اړه وپوښتل نو ده وویل، "هغه بې شکه پوهه سړی دی، که څه هم زمونږ خدایان نه مني خو دی د حق په لاره روان دې".
کیم له برهمن نه د سره غواي په اړه معلومات وغوښتل نو هغه د ده د زیږیدوورځ، نیټه او شیبه ترینه پوښتل. کیم وویل، "په کومه شپه چې په سرې نګرکی لویه زلزله راغلې وه، د مې لومړۍ نیټه وه. د لومړي چرګ بانګ او د دویم چرګ بانګ په مینځ شیبو کی زه وزیږیدم". کیم ته دا هر څه هغې ښځې ویلي و چې د ده پالنه یې کړې وه. په دی خبره یوې

ketabton.com - The Digital Library

میرمنې ټولو ته وویل،" وګورئ دا د دی خبرې ثبوت دې چې مرید غیر عادي قوت لري". برهمن د غولي په خاوره کی د ستورو نقشې جوړې کړې اود سره غواي د اصل په اړه یې وپوښتل.
کیم په جوش ورته ټوله کیسه تیره کړه چې په شین میدان کی د سره غویي له لیدو وړاندې، دوه کسان به لاره هواروي او بیا به د ده قسمت ورسره بدل شي. برهمن د ستورو او د سپوږمۍ او د لمر خبرې کولې، بیا ده ته یې د یو وړوکي لرګي د راوړو امر وکړو. تر نیم ساعت پر زمکه کله یوې خوا ته به یې لیکه راښکله او کله بل، اخر هغه وړوکې لرګي یې د دم په ویلوویلو په نقشه واچوو او وې ویل، " ستوري واي چې په راتلونکو دریو ورځو کی دوه سړي به هر څه تیارکړي. له هغوي وروسته به سره غواې ښکاري خو د دی هر څه سره د جنګ او د وسله والو کسانو نښي هم ښکاري".
د کروندګر میرمنې وویل،" مونږ سره د اورګاډي په ډبه کی یو سیک پوځي ناست و کنه". برهمن سر وخوځوو،" زه د وسله والو پوځیانوخبره کووم، په سوونو کی، ستا د جنګ سره څه سروکار دی؟ ستا ستوری تاوده او قهر ژن دی، چې ډېر ژر د جنګ الامه ښاي". لامه په تلوسه وویل، "هچرې نه... مونږ یواځې د صلح غوښتونکي او د سیند په لټون یو". کیم وموسیدو، ځکه د پیرنګي په کور کی وړاندې یې چې څه اوریدلي و هغه ورته په زړه شول.
برهمن په خاوره کی کښلي نقشونه په خپله پښه ورانول او ویل، " له دی زیات زه په راتلونکو دریو ورځوکی څه نه وینم هلکه، په دریو ورځو کی سورغواې به درته ښکاره شي". لامه په تلوسه وویل، " او زما سیند، زما سیند به څنګه شي؟ " برهمن ورته په افسوس وویل، " وروره دا عادي خبره نه ده"
په بل سهار ټولو په دوي تینګار وکړو چې ایسار شي، خو لامه نه منل. کوربانو کیم ته د ښې ډوډۍ یوه لویه غوټه برابره کړه او درې انې هم د لاری د خرڅ لپاره ورته ورکړې. بیا ټولو دواړو ته په مخه ښه وویل او دوي د جنوب لوري ته پلي روان شول. لامه په افسوس وویل، "داسی خلک به د خپلو غمونو نه چرې ازاد نشي". کیم د ډوډۍ پنډ په سراخستې، وویل، "که دوي ازاد شول، نو په نړۍ کی به یواځې بد خلک پاتې شي او بیا زمونږ په شان خلکو ته به ډوډۍ او سرپناه څوک ورکوي؟" لامه یوه

ketabton.com - The Digital Library

ویاله ولیده نو ورته یې وویل، راځه وګورو، هسې نه زمونږ سیند هم دا وي. دوي په پټیو کی روان و او د کلي ټول سپي ورپسې و. کیم او بوداي لامه له سابو د پټیو نه تیریدل چې یو بزګر د خپل ډانګ سره په قهر او په ښکنځلو د دوي لوري ته په منډه شو. ده د امبالې په بازارکی ترکاري او ګلونه خرڅول او کیم د ده د ژبې نه اندازه لګوله چې دی به د کومی سیمی وي. لامه د سپوهیڅ پرواه ونکړه او کیم ته یې وویل، "دا سړې څومره بده خله لري او خبر نه دی چې مساپرو سره خلک مهرباني کوي، مریده، خبردار ووسه چې دا سړې د ښې طبقې راته نه ښکاري". سړې ورته رانږدې شو،

سړې. هوهو... ګدایانو، ووځئ له دی پټیو.

لامه.(په صبر) مونږ ستا د بی برکته پټیو نه په وتلو یو.

کیم. (په چیغه)، که بل فصل دی وونشو نو دا به ستا د ژبې ګناه وي.

هغه سړې لږ ناارامه شو او لهجه یې نرمه کړه.

سړی. دا نړۍ له خیرات خورو ډکه ده.

کیم. او باغبانه، ته څنګه پوه شوې چې مونږ له تا خیرات غواړو؟ مونږ خو د دی پټیو په سر کی هغه سیند کتل غواړو.

سړی.( ناخواله خندا)، سیند...تاسو د کوم ښار اوسیدونکي یئ، چې کنال نه مو سیند جوړکړو. وګورئ دا نیغ جوړ شوې دې، سیمټې مورګې لري او د دی اوبه زه د سپینو زرو په بیه اخلم. البته د دی نه ور اخوا د سیند یوه څانګه شته، خو که ستاسو اوبه پکارې وي نو زه به یې درکړم، او که پې مو ...

لامه. (په تګ) نه نه... مونږ به سیند ته ورشو...

سړی.( په وارخطاي) پۍ او ډوډۍ...اې ....ګورې ،ما ته یا زما پټو ته ښیرې مه کوئ . تاسو خو خبر یئ چې په دی ګرانه ګرانۍ کی اوس دومره سوالګر پیدا شوي دي چې...

ketabton.com - The Digital Library

لامه.(کیم ته) وو دی لیدل، اول د قهر په سرو خاوروکی پټ، ده څومره سخته ژبه کاروله. اوس یې هغه دوړه له سترګو لرې شوه، نو هم یې زړه نرم شو او هم یې ژبه. خدایه...د ده پټي دی تل شنه وي. ای بزګره...پام کوه چې د انسانانو قضاوت په تادۍ کی مه کوه.

کیم.ما داسی جوګیان لیدلي دي چې خلکو ته یې د انغري نه واخلې، ترغوجلې پورې ښیره کړې وه. څه فکر کوې، دی سپیڅلې او هوښیار دې او که نه؟ زه د داسې کس مرید یم.

لامه.غرور ښه شي نه دې...هغه څوک چې د توازن په لاره روان وي، غرور نه ډډه کوي.

کیم. خو تا وویل چې دا سړې د ټیټې طبقی دې او خرابه خله لري.

لامه. د ټیټې طبقې...ما خو داسی نه دی ویلي. دا څنګه کیدېشي؟ زه انسانان په طبقوکی نه وېشم. ټول د خداې مخلوق یو. په سر کی د ده چلن ښه نه و خو وروسته مودب شو نو ما د ده ګناه هیره کړه. بله دا چې دی هم زمونږ په شان دې، د مادي نړۍ په څرخ تړلې دی، خو زمونږ نه په دی توپیرلري چې دی د خلاصون په لاره نه ورځي.

دوي دواړه د کنال غاړی ته ودریدل چې د اسونو او د نوروڅاروو د پښو نښی پری جوړی وې. لامه یو څو شیبې اوبو ته کتل، هلته د ګنې فصل هم شین و. کیم د څو ګنو د سیوري لاندی کښیناستو او ترې پوښتنه وکړه چې دی به سپیڅلې سیند څنګه پیژني نو لامه ویل،" د دی په موندلو ، ما ته به هر څه رڼا شي. خو دا هغه سیند نه دی، کاشکه په دی اوبو کی اوسیدونکو وړو چینجو راته ویلي شول چې زما سیند چرته دی."

کیم هغه وخت یوه لوې ښامار ولیدو نو لامه یې شا ته راښکلو او دواړه ساه نیولي ودریدل. ښامار چې ژیړ او نسواري لیکې یې لرلې، غاړه ښکته کړه او د کنال اوبه یې وڅښلې. بیا هم دغسې په زمکه پروت و. کیم اخوا دیخوا کتل او ځان سره لګیا و چې یوه کوتک راسره وې نو د دی ښامار مرۍ به مې ماته کړی وې. لامه ورته وویل، ولې؟ دی هم زمونږ په شان د ژوند په څرخ سپور دې. کیم وویل چې د ده له هر ډول مارانو نه کرکه

کیږي. خو لامه ایسارکړو، "پرېږده چې دی هم ژوند وکړي". په دی کی ښامار په یوشرنګیدلي غږ خپل سر پرانستو او چمچمار تری جوړ شو. لامه هم هغسې ورسره خبرې کولې، چې " وروره، که زما د سیند په اړه دی څه معلومات وکړل نو بیا راشه". کیم ورته په غلي غږ وویل ،"ستا په شان سړی ما تر اوسه نه و لیدلې، څنګه، دا ښامار هم ستا په خبره پوهیږي؟ "څوک څه خبر دي لامه وویل او د ښامار څنګ ته ورو غونډې تیر شو چې په خاوره کی تاو راتاو پروت و.

هغه کیم ته اشاره وکړه، خو دی په ویره و، "زه د بلې غاړې نه درځم." لامه ورته ډاډ ورکړو، "راځه هیڅ درته نه واي." کیم زړه نا زړه و خو لامه ورته لاس اوږد کړو او په چیناي ژبه یې څه وویل. کیم فکر وکړو چې هغه څه "دم "ویلو. دی ورور ورو د ښامار څنګ نه تیر شو خو هغه سر هم راپورته نکړو. کیم له خپلې تندي خوله پاکه کړه او وې ویل، "ښه نو اوس کومې خوا ته ځو؟" لامه وویل، "دا ستا کار دې چې فیصله وکړی، زه زوړ یم او دا سیمه نه پیژنم. راځه چې یو بل سیند ولټوو."

## د سیند لټون

د پنجاب په دی ښیرازه زمکه په یو وخت درې فصلونه کیدل، ګنا، تمبکو، او نوره سبزي، لکه مولۍ او ټیپر. دوي ټوله ورځ ګرځیدل او هر ځای چې اوبه یې ولیدې نو ورته به ولاړل. کله به سپي ورپسې شول او کله د غرمې په خوب ویده کلي وال یې راویښ کړل. په هر ځای لامه د خلکو پوښتنې ځوابولې او بیا به هغوي ورته د یو سیند درک ورکړو. کله کله به چا ورباندی وخاندل خو زیاتو خلکو ورته د دمې وویل، اوبه یا شوملې یا پۍ به یې ورله راوړل، ډوډۍ به یې ورله ورکړه. ښځې به زیاتې مهربانه وې. ماشومان به په پیل کی شرمیدل او وروسته به ورسره مله شول. ماښام دوي په یوکلي کی د ختو د یوې جونګړې څنګ کی د لوې ونې لاندی کښیناستل.

ketabton.com - The Digital Library

د کلي سپين ږيري مشر ورته راغلو اود دوي کيسه يې واوريده. د لامه د کښيناستو لپاره يې يوکټ واچوو او گرمه ډوډۍ يې راوغوښته. بيا يې چيلم ورته تازه کړو او د کلي پنډت يې راوبللو. کيم يو څو هلکانو ته د لاهور د ښايست، د اورگاډي د سفر او د ښار د ژوند کيسې کولې. سړي پخپلو کی لگيا و. اخر د کلي پنډت وويل چې دی د سيند په اړه څه نه شي ويلې خو لامه د حق په لټون راوتلی دی او د ده په شان يو بل جوگي هم تيره مياشت راغلې و. ناستو ولاړو خلکوته يې وويل، "په ياد مو دي، د شمشتۍ ( کيشپ) جوگي. ټولو سر وخوځوو. هغه جوگي ته کرشنا په خوب کی ويلي و چې که دی پخپله پرياگ ته ولاړو نو بې له سوځيدو به جنت ته ځي.
پنډت اعلان وکړو، " دا جوگي په هغو خدايانو باور نه لري چې زه يې پيژنم. خو صبر وکړئ ...دی زوړدی او له لرې راغلې دې او بله دا چې ليونی دې. بيا يې لامه ته وويل، "له دی ځايه شپږ ميله لويديځ ته جرنيلي سړک کلکتې ته ځي". لامه په تلوسه وويل، "خو زه بنارس ته روان يم"، پنډت وويل، "هو هغه سړک بنارس ته هم ځي او د شمالي هند د ټولو سيندونو نه تيريږي. خو اوس به ښه دا وي چې تاسو شپه په دی کلي کی وکړئ، سهار به سړک ته ووځئ او په لاره چې هر سيند نه تيريږئ، درته به معلوم شي".

لامه دا خبره خوښه کړه. هغه څو دعاگانې وکړې چې وروستۍ يې په چيناي ژبې کی و. بيا يې کيم نه پوښتنه وکړه "په هر څه پوهه شوې؟" کيم ورته په ادب وويل،" هو" د کلي مشر کيم ته وکتل چې د يوې جينۍ سره يې خبری کولې. لامه د کيم د لټون او د ده د مريد کيدو کيسه ټولو ته تيره کړه او دا چې هغه د خداې له اړخه له بلی دنيا نه ده ته راليږل شوې دې. پنډت موسکې شو او کيم ته يې په چغه وويل، "ته څوک يې؟" هغه د بل سر نه په زوره وويل "د سپيڅلي لامه مريد" پنډت وويل، "ستا جوگي واي چې ته پېرې يا روح يې." کيم وويل، "نو پيرې ډوډۍ خوړې شي؟ زه خو اوږې يم." لامه په زوره وويل، "دا د ټوکو خبره نه ده. په هغه بل کلي کی، چې ما نه يې نوم هير شو، نجومي دا خبره کړی وه." کيم د لامه په غوږ کی وويل، "هغه د امبالې ښار و چې بيگا شپه مو پکی وکړه. " د لامه راياد شول، "هو امباله نوميدو، هلته نجومي پخپل علم څرگنده کړه چې زما مريد به په دوو ورځو کی خپل مراد ته ورسيږي. خو هغه ستا د

ستورو په اړه څه ویلي و؟" کیم غاړه تازه کړه او د کلي ټولو سپین ږیرو ته یې وکتل. "زما د ستورې مانا جنګ دې." یو کس وخندل. خو بل وویل، "دا وړاند ویېنه خو نه ده، په سرحدونو هر وختې جنګ کیږي". خو په سپین ږیرو کی یو پخوانې پوځي هم ناست و چې په غدر کی د ده په میړانه انګریزانو ورته انعامونه ورکړی و او اوس هم انګریز چار واکي او کمشنر د ده لیدو ته راتلل. د ده زامن هم په پوځ کی و. هغه په زوره وویل،

پوځي... د هلک خبره وړاند ویېنه ده.

کیم (په چغه)، دا به یو لوې جنګ وي، د اتو زروپوځیانو...

پوځي. لښکربه د سرو کوټونو وي که د هند کنډک؟

کیم .(په تلوسه) سره کوټونه به وي، د ګوراګانو لښکر او توپې به هم وي.

لامه. (وارخطا) نجومي خو راته دا خبره نه وه کړی.

کیم (په جوش) دا خبر یواځی ما ته راغلی دې چې اته زره پوځیان به د پنډۍ او پیښور نه د جنګ لپاره ځي.

برهمن. ده ارو مرو دا خبره په بازار کی اوریدلی ده.

لامه. خو دی ټول وخت له ما سره و. څنګه خبرشو.

پنډت. چې سپین ږیرې مړ شو نو دی هلک نه بهډېر ښه مداري جوړ شي. دا څه نوې لوبه ده؟

پوځي. یوه نښه راوښایه. که د جنګ خبره وي نو زما زامنو به له وخته ما ته ویلې وې.

کیم. کله چې هر څه فیصله شول نو ستا زامن به هم خبر شي. خو هغه کس چې دا اختیار یې په لاس کی دې، ستا له زامنوډېر لوړ ناست دی.

ketabton.com - The Digital Library

بابا، ته راته ووایه. آیا د اتو زرو پوځیانو د توپونو په بدرګه د تګ خبره به ټیټو خلکو کړی وي؟

پوځي.. نه

کیم.. نو ته خبر یې چې د دی پوځ امر به چا ورکړی وي؟

پوځي. هو ،ما هغه لیدلي دې.

کیم. څوک دی؟

پوځي. زه یې له هغه وخته پیژنم چې دی د توپخانې افسر و.

کیم.. لوړ دنګ سړی، تور ویښته او داسی قدم اخلي.

کیم د پوځیانو په شان ایغ نیغ وګرځیدو. یوکس وویل چې هر پوځي همدغسی ګرځي. خو کیم ورته وویل، نه په دی کی توپیر دی، هغه لوړ رتبه کس داسی ګرځي او داسی سوچ کوي. دا یې وویل او خپله ګوته یې په تندي کیښوده او ورو ورو یې ښکته جامنې ته برابره کړه. بیا خپله خولۍ یې په ترخ کی ووهله او د زانې په شان ودریدو. ټول خلک دی ننداری ته ځیر و. پوځي پوښتنه وکړه،" دا افسر د امرکولو پر وخت څنګه چلن کوي؟ کیم وویل، "دې خپل څټ ګروي، بیا یوه ګوته پر میز وهي او پوزه راکاږي. بیا امر کوي، چې فلانی فلانی کنډک راواستوئ، فلانی توپې وروليږئ." هغه خپل لاس یو موټې کړو او په زوره یې وویل، "دا جنګ نه دی، دا سزا ده سزا"

پوځي اوس قانع شو او وې ویل، "بس بس، زه پوهه شوم چې دی څوک دې. ما د جنګ د میدان په لوګو کی د ده غږ اوریدلي دې." د کیم غږ واوښتو او وې ویل،" ما خو لوګې و نه لیدو، دا هر څه می په تیاره کی لیدل چې یو سړي ورته لاره پاکه کړه، بیا په اس سپور یو تن راغې، بیا دی پخپله راغلو. بابا، ما ریښتیا ویلي دي که دروغ؟ " پوځي وویل، "بې شکه، دا هم هغه افسر دی." لامه په ویاړ ټولو ته وویل، "ما تاسو ته نه وویلي چې دې له بلې دنیا راغلی دې. دی د ستورو ملګری دی." یو سپین

ږيري وويل، "خير په مونږ څه اړه لري؟ اې، که ته د غيب خبر ورکولې شې نو ما سره يوه غوا ده چې سره ټاکي لري. ښاي ستا د غواي خور وي." کيم وويل، زما ستوري ستا په څاروو پورې نه دي تړلي." يوی ښځې وويل،"هغه غوا ناروغه ده ، دی زما ميړه دی او د خبرو چل ورله نه ورځي. ته راته ووايه چې هغه به جوړه شي که نه؟"

کيم که يو عادي چلباز کس وې نو دا لوبه به يې غځولې وې، خو دی په لاهور کی لوې شوې او ديارلس کاله يې د فقيرانو او د عامو خلکو چلن کتلې و. د کلي پنډت هغه ته په کينه کتل. کيم وويل، "زما په فکر تاسو يو ډېر ښه پنډت لرئ چې دا اوس مې وليدو." ښځی ته يې وويل، "ته او ستا ميړه فکرکوئ چې ستاسو غوا به په تشو خبرو جوړه شي. د عبادت کوونکو سره درغلي مه کوئ. يو خوسکی خپل پنډت ته ورکړئ او که خدای درته ډېر په قهر نه و نو غوا به مو په يوه مياشت کی بيا پۍ ورکوي." پنډت د ځان سره وويل،" پورا استاد دی، ما په څلويښتو کالو کی دا کارونشو کړې". کيم ور زياته کړه، "لږ اوړه، لږ کوچ او يو څو دانې لاچي، په دی څوک شته من کيږي؟"

پوځي ودريدو او کيم ته يې ست وکړو چې که دوي دواړه شپه له هغه سره تيرول غواړي. پنډت د دی تايد وکړو خو وې ويل چې د لامه خدمت د دوي د دهرم شاله (عبادت ځاې) دنده وه. ټول د دوي د ځواب په انتظار و. کيم ورو غوندې د لامه څنګ کی ودريدو او ورته يې وويل، " پيسې چرته دي؟ هغه ورته وويل، "زما ملا سره تړلي کسوړه کی." کيم ورته وويل،" شابه زر دا کسوړه ما ته راکړه خو چې څوک پری پوهه نشي. " لامه ويل، "ولې، اوس خو مونږ ټکټ نه اخلو." کيم ورته وويل، "زه ستا مريد يم که نه؟ ما تر اوسه ستا ساتنه کړی ده که نه؟ پيسې راکړه او سهار رانه بيرته واخله." هغه د لامه په کمر بند لاس ووهلو او د پيسو کسوړه يې په تياره کی راوويسته. لامه سر وخوځوو. "زه هم داسی دی وي. دا بده نړۍ ده، زه خبر نه ووم چې پکی دومره خلک اوسيږي."

په بل سهار د کلي پنډت سخت په قهرښکاريدو خو لامه خوشاله و او کيم د زوړ پوځي په کور کی دومره کيسې اوريدلی وی چې ورباندې سم موړ شو. پوځي ورته په عمل کی وښودله چې کله به هغه په اس سپور شو نو

ketabton.com - The Digital Library

خپله توره به یې څنګه په زنګانه ایښې وه. لامه د کیم په لیدو ورته وویل، " د دی کلي هوا ډېره ښه ده، نور کله زما خوب کچه وي خو بیګا مې اړخ هم نه دی بدلولې، اوس مې هم سر لږ دروند دی." کیم پوهه شو چې پنډت به لامه ته د شپې ښه ډېر اپیم ورکړی وي چې وې شوکوي. ورته یې وویل، "یوګوټ ګرم پې وڅښه." کیم د اپیمیانو لپاره یو څو کورنیو نسخو نه خبر و.

دوي د سفر لپاره تیار شول نو لامه پوښتنه وکړه چې د کلي والو د خدمت په بدل کی څه وکړي. هغه د پنډت نه خوشاله معلومیدو او کیم ته یې وویل چې کولې شي، هغه دهرم شاله ته یوه روپۍ ډالۍ کړي. کیم ورته وویل،" محترم، تا کله په سړک یواځې سفرکړې دې؟" هغه وویل ،خود نو...په کوهلو کی زما مرید چې مړ شو نو تر پټهانکوټ پوری یواځې ووم. په لاره هر چا چې راسره ښه وکړل نو هغه ته به مې یو څه نذر ورکول." کیم په سخته لهجه وویل، "اوس ته په هند کی یې، د دوي اسطورهډېر لاسونه لري. دوي پخپل حال پرېږده."

زوړ پوځي دوي ته په مخه ښه ویلو لپاره پخپلې کچرې (یابو) سپور راغلو، یوې ډډې ته یې توره هم ځړیده. د کلي خلک خفه ښکاریدل او پنډت خو ورتهډېر بد بد کتل. هغه د شپې خپل ښه اپیم لامه ته ورکړي و خو هیڅ پیسې یې ورسره و نه موندلې. پوځي ورته په کچرې د سپریدو اشاره وکړه، خوکیم ویل " زه د خپل جوګي غلام یم." پوځي ورته وویل، "ته چې پخپله د جنګ ستورې لرې نو ولې دی ژیړ جوګي پسې روان یې؟" کیم ورته وویل، "دی له نوروډېرو جوګیانو توپیر لري. دی یو ریښتونې جوګي دې. مونږ نه نجومیان یو، نه مداریان او نه ګداي ګر." پوځي وویل، "هغه خو ما پخپله ولیدل خو زه دا سړې نه پیژنم."

د سهار په تازه هوا کی لامه د اوښ په شان لوې لوې ګامونه اخیستل. خپلې دعاګانې یې ویلې او تسبیح یې اړولې. دوي د امونو د باغ نه تیرشول چې د هغې نه اخوا په پټیو کی ټول خلک په کار اخته و. په ختیځ کی د همالیه د غرونو تت انځور ښکاریدو. لامه د خپلې تسبیح یو اتیایمه دانه واړوله نو کیم ته یې وویل، زما ارمان په زړه کی پاته شو چې هغه دهرم

ketabton.com - The Digital Library

شاله ته مي يوه روپۍ ورنکړه. پوځي ټوخې وکړو نو لامه د هغه د شته والي نه خبر شو. مخ يې واړوو او ورسره خبرې پيل کړې،

لامه. ته هم د سيند په لټون راوتلې يې؟

پوځي. دانوې ورځ ده. د سيند د اوبو اړتيا د لمر ډوبيدو نه وړاندې وي. زه راغلم چې تاسو ته لوې سړک ته ورتلونکې لنډه لاره در وښيم.

لامه. نودا توره دی ولې راوړې ده؟

پوځي. زه خبر يم چې په ټول هند کی د پوليسو په امر څوک وسله نشي گرځولی. خو د دی ځای حوالدار ما پيژني. زما يو ارمان دې چې د اړتيا پر وخت له دی تورې کار واخلم.

لامه (په افسوس) د يو سړي وژنه به درته څه گټه وکړي؟

پوځي. هيڅ هم نه، خو کله کله بد انسانان که وونه وژل شي نو نړۍ به د زما په شان ارماني کسانو لپاره تنگ شي. ما د ډېلي نه تر جنوب پوری زمکه په وينو سره ليدلی ده. څه ليونتوب و.

لامه. هغه خدايان به خبر وي چې دا وبا يې راليږلې وه.

پوځي. د هند په پوځ کی ليونتوب ورگډ شو او عسکرو خپلو افسرانو ته د ټوپکو شپيلۍ واړولې. دا ليونتوب که هلته ودريدلې وې نو ښه به وې، خو دوي د افسرانو ميرمنې او ماشومان هم ووژل. بيا له اوو سمندرونو نه اخوا نورکسان راغلل او هغوي لا ظلمونه وکړل.

لامه. داسی گنگوسی ډېر پخوا ما ته هم رارسيدلې وې. زما ياديږي، هغه کال يې د " تور کال " په نوم يادوو.

پوځي. نه پوهيږم، تا څنگه ژوند تيرکړی دی؟ گنگوسی؟...هن...ټوله نړۍ له دی پيښې په لړزان وه.

لامه.  زمونږ نړۍ تراوسه يو واری خوزيدلی ده، کله چې زمونږ سپيځلې بودا رڼا تر لاسه کړه.

پوځي (په سخته لهجه) زه خبر يم چې ډېلي په لړزان وه او ډېلي د نړۍ " کولمه" ګڼلې شي.

لامه. ښه نو دوي ښځې او ماشومان ووژل، دا ډېر بد کار واو بايد سزا يې موندلې وې.

پوځي. ډېرو خلکو دا کار وکړو خو هيڅ ګټه يې نه وه. زه هغه وخت د سپارو په يوغونډ کی ووم. په دی کی شپږ سوه او اتيا تکړه ځوانان و. ته باور وکړه چې درې تری ژوندي پاتې شول. يو پکی زه وم. ما پخپل اس يو انګريز ميم صاحب او د هغې ماشوم سپاره کړل او اويا ميله لرې يو خوندي ځاې ته مې بوتلل. خو ما نولسو سختو جګړو کی برخه اخستې وه، د اسونو شپږ ځلويښت جګړې مې وکړې. د وړو جنګونو خو حساب نشته. په وجود مې نهه ټپونه خوړلي دي. ځومره ميډالونه مې وګټل او دا د کلي زمکه يې هم راکړی ده. درې زامن لرم چې زما په غياب کی راپسی ملنډی وهي.

لامه. اوس په دی زاړه عمر کی ته د څه شي ارمان لری؟

پوځي. نيغه ملا، نرم هډونه ، چابک لاس او تيز نظر . زه هغه طاقت بيا غواړم.

لامه. طاقت کمزوري وي.

دوي څو شيبې د ونې لاندی دمه وکړه. کيم د يو مړې سره لوبی پيل کړی. د کلي يو چاغ ماشوم چې په لاره روان و، د لامه په ليدو نږدې راغی او هغه ته په ادب ټيټ شو، خو د ټيټيدو پر وخت بی تولې شو او راپريوتو. کيم په زوره وخندل نو ماشوم په ژړا شو. پوځي زر ورنږدې شو او دی يې دلاسه کړو. "مه ژاړه، شهزاده خيردی ، خوږ شوې نه يې."  لامه چې څو شيبو له يې سترګې ورغلې وې راويښ او تسبيح يې اړولې. ماشوم په

ketabton.com - The Digital Library

ژړا تسبیح ته لاس کړو چې زه دا غواړم. لامه د هغه سترګو ته وکتل ، تسبیح یې په واښو لکه د مار کېښودې او یوه سندره یې وویله،

یو موتې لاچي...یوڅمڅۍ غوړي

وریژې دال او مالګه...ستا زما ډوډۍ

ماشوم له سندرې خوند ورکړو او په خندا شو. پوځي ترې پوښتنه وکړه، دا سندره دی له کومه وخته یاده ساتلې ده؟ لامه وویل، "دا مې په پټان کوټ کی زده کړی وه. ماشومانو سره مهرباني کول ښکار دي." پوځي ماشوم ته یوه پیسه ورکړه چې ځان ته د کلي په هټۍ خواږه واخلي. له دمې وروسته دوي لږ مزل وکړو نو لوې سړک ته راووتل.

## جرنیلي سړک

د دی لوې سړک چې انګریزانو ورته جي- ټي- روډ ویل، منځ برخه پخه ( قیرشوی) وه او د لویو موټرو او لاریو لپاره وه. د دې دواړو غاړو ته د اس او خرګاډو لپاره بیله کچه لاره وه. پوځي ورته وویل، " د اورګاډي د راتلو نه وړاندې په دی سړک به هر وختې د انګریزانو موټری تلی راتلی خو اوس پرې څوک نه تلل. دا خوندي سړک و، ځکه په هر څو میله کی وړباندې د پولیسو څوکۍ وه. خو پولیس پخپله غله دي او خلکو نه په زوره شیان اخلي".

په دی سړک پلي خلک روان و او پوځي وویل، " وګوره داسی ښکاري چې د خلکو یو سیند بهیږي" . دا جرنېلي سړک په دې زړه پورې و، چې تر پینځلسو سوو میلو نیغ جوړ شوي و او د هر نسل خلکو وړباندی سفر کوو. د دی په هر فرلانګ دواړو غاړو ته سپیني تیرې او وړباندې د فاصلو نښې لیکلې وې. دوي په سړک روان و چې د پولیسو څوکۍ ته نږدې شول. هلته یو چار واکي د پوځي سره د توري په لیدو وویل،"څوک دي چې د قانون پر ضد وسله یې راخستی ده. آیا پولیس د ژغورنې لپاره بس نه دي؟" بیا یې وخندل. پوځي وویل، "د پولیسو نه د ژغورنی لپاره

ketabton.com - The Digital Library

مې دا توره اخستې ده، په هند کی هر څه ټيک ټاک دي؟" د پوليسو کس داړې چينګې کړې، " رسالدار صاحب هر څه ټيک دي. زه خو لکه د شمشتئ سر رابهر کړم او بيا وردننه کړم. هو دا د هندوستان سړک دی او ټوله دنيا ورباندې روانه ده."

ناڅاپه څوګامه وړاندې په باديدونکي دوړه کې د چا له خلې ښکنځلې راووتلې، "د سپي زويه، د سړک نرمه برخه ستا د ملا ګرولو لپاره جوړه ده؟ د حيوان اولاده، کم عقل، سرکوزيه، د خره لکئ تا ته چا ويلي و چې د سړک منځ ته راوخيژه؟ اوس دا مات پل دې او خپل مات سر دواړه يو ځاې کړه." کيم وليدل چې پنځوس ګزه اخوا، يو ګاډې د سړک په منځ کی مات پروت و او يوه اسپه چې سترګې او پوزه يې له وينو سره و، د راپورته کيدو لپاره زور لګوو او بيا به راپريوته. هغه پوليس چې ښکنځلې يې کولې، په اس سپور او چابک په لاس د اسپې د وهلو هڅه کوله او د ګاډي خاوند ورته مخې مخې ته کيدو چې اسپه وونه وهي. هغه د انصاف لپاره زارئ کولې. خو پوليس اوس د ده په وهلو لاس پوری کړ. ګاډي وال په چغه وويل، "دا بی زبان مال دی." پوځي له خپل کچرې راښکته شو نو هم هغه وخت د پوليسو هغه کس هم د خپل اس نه را کوز شو چې ښکنځلی يې کولې. بيا دوي دواړه د يو بل سره داسی تر غاړه شول لکه چې په هند کی پلار او زوې يو بل ته غاړه ورکوي. هغه پوليس د دې پوځي زوې و.

دوي دجرنيلي سړک پر غاړه د يوې ونې لاندی کښيناستل. کيم سترړی و خو لامه د سپيڅلي سيند په لټون وړاندی تګ غوښتو. کيم ورته وويل چې لږ صبر وکړه. پوځي وويل، "دا هلک د ستورو ملګرې دی، پرون يې راته د هغه چا خبر راکړو چې د جنګ امر ورکوي." د هغه زوې وويل، "دا هر څه به يې په بازار کی اوريدلي وي." پوځي وخندل، "هر څه چې وي، دا خو يې نه دی کړي چې په اس سپور راشي او پيسې رانه وغواړي." زوې ورته وويل، "پلاره دا د دې خبرو ځاې نه دی، راځه زما کور ته به ولاړ شو." پوځي وويل، "دومره خو کولی شې چې دې هلک ته څه پيسې ورکړې، ده زما لپاره ښه خبر راوړی دی. د جنګ د امکان خبر." کيم وويل، "امکان نه...د حتمي جنګ خبر."

ketabton.com - The Digital Library

د پوځي زوې يوه سکه ورته وغورځوله او ځان سره د ګدايانو او د مداريانو په اړه يې څه وويل. دا سکه څلور انيز (د روپۍ څلورمه برخه) و او دوي پرې ترډېرو ورځو ډوډۍ خوړې شوه. لامه د سکې په ليدو ورته يوه دعا وکړه. پوځي پخپلې کچرې لاس راښکلو او دوي ته يې وويل، "ورځئ، په مخه مو ښه شه، ما په ژوند کی په لومړي ځل يو ريښتونې پيغمبر وليدو چې پوځي نه و. پلار پخپلې کچرې او زوې په اس په يو وار سپاره شول او پخپله مخه ولاړل. کله چې کيم او لامه د پوليسوڅوکۍ نه ورتيريدل نو يو پوليس چې وړاندې يې د کيم څلورآنيز ليدلي و، وويل،

پوليس. په دی څوکۍ کی له هغې غاړی راتلونکي د هرسړي په سر دوه انې ټيکس (ماليه) دې. تاسو به څلورآنې راکړئ. دا د سرکار امر دی او دا پيسې د سړک پر غاړه د ونو لګولو او د سړک د ښکلی کولو لپاره کاريږي.

کيم. او د پوليسو د خيټې د ډکولو لپاره هم کاريږي. ته څه ګڼې چې زمونږ سرونه د ختو جوړ دي؟ يا مونږ د ډنډ چيندخان يو؟ خسر بابا، ته د خپل ورورنه خبر يې، چې څوک و؟

د پوليسو مشر.( له برنډې) پريږده دا هلک. اې تا ته وايم ...څوک و د ده ورور ؟

کيم. هغه د يو ولايتي بوتل نه کاغذ ليرې کړې و او په پله يې نښلولې و. هر څوک چې به له پله تيريدل له هغوي به يې پيسې اخستې چې دا د سرکار امر دی. بيا يوه ورځ وربانده انګريز راغی او د ده سر يې مات کړو. اې وروره، زه د ښار کارغه يم، د کلي نه.

پوليس وارخطا شو او دوي يې پريښودل. خو کيم ترډېره وخته شا ته به ځت واړوو او د پوليسو هغه کس ته له خلې شپيلۍ غږوله چې بد بد يې ورته کتل. هغه لامه ته وويل، "داسی مريد لکه زما به بل نه وي. که ته يواځې راوتلی وې او زه درسره نه وې نواوس به يې د لاهور نه لس ميله ليرې ستا هډوکي راټولول." لامه وموسيدو او په وروغږ يې وويل،" زه

ketabton.com - The Digital Library

پخپله هم چرت وهم  چې ته پیرې یې او که وړوکی شیطان؟"  کیم وویل، زه ستا مرید یم.

دوې دواړه تر ډېره وخته په خاموشۍ روان و  او تش د لامه د تسبیح د دانو غږ راتلو چې پخپلو دعاګانو کی ډوب و خو کیم  چارچاپیره نړۍ ته سترګې وازې نیولې وې.  دی خوشاله وچې د لاهور د ګڼې ګوڼې پر ځاې اوس پراخو، شنومیدانونو ته یې کتل.  خو له هغې هم خونده ورته خلک و.  تر اوسه یې په دې لاره ځومره نوې ځیرې، نوې جامې او د کړو وړوعجیبه خلک لیدلې و.  اوس یې هم په سړک یوه لویه ډله د سنیاسې درویشانو ولیده چې لوېې لوې ځنې یې وې او پخپلو توکریو کی یې د ځمځرک په شان ځناوراوړل.  بیا یوتکړه کس یې ولیدو چې پاکې جامې یې اغوستی وې خو په پښو کی یې د بیړۍ ښوځرګندول چې اوس اوس له بنده خوشی شوی و.  یو اکالې سیک یې هم ولیدو چې د خپلې عقیدې نیلا لباس یې په ځان کی و.  ده لوی ځنې او سرې سترګې لرلې. د پګړۍ د پاسه یې هغه تیره د چاقو په ځیر د اوسپنې حلقه وه چې د دوې وسلې کار یې ورکوو.

کله کله به یې د یوکلې ټول خلک ولیدل چې په رنګا رنګو جامو کی د کومې میلې لپاره راوتلې و.  ښځو به ماشومان په ډوډه اخستې، خپل بنګړې یو بل ته ښودل، ماشومانو به ګڼې ژوول.  د یو پله د لاندی یې موسلیان ولیدل چې د ډول او باجې په ساز سندرې یې ویلې.  بل ځاې د چا ناوې ډولۍ روانه وه.  د لامه سترګی پټې وې خو کیم هر څه لیدل. اخر یې سکوت مات کړو.

کیم.   دا د جنوب سیمه ډېره ښه ده.  اوبه او  هوا یې ښه دي.

لامه. هو خو ټول د ژوند د پل سره تړلي دي.

کیم.  اوس مو ډېرمزل وکړو، لمر هم په ډوبیدو دې، یوه دمه به وکړو.

لامه.  نن به مو څوک کوربه وي؟

کیم.   دا ملک د ښو خلکو ډک دی، (په ورو غږ) او مونږ پیسې هم لرو.

کله چې دوي د دمی یو ځاې ته نږدی شول نو د خلکو ګڼه هم زیاته شوه. هلته په یو قطار کی د توکو پلورونکي ګاډي ولاړ و چې تمبکو، پان او ارزان خواړه پکی بار و. د لرګو یو ټال او د پولیسو یوه تاڼه هم وه. یو کوهې، ورته نږدې ځو ونې او د ونو لاندی د پخوانیو بل شویو اورونو نښې وې چې ښودله یې، په جرنیلي سړک دا د کاروانونو د پړاو ځاې و. بره په اسمان په سوونو د کارغانو، کفترو او د طوطیانو جوپې خپلو زالو ته رواني وې. په تنورونو د ګرمې ډوډۍ او د کبابونو او د پکوړو خوشبوي هرې خوا ته خپور و. کیم ته دا هر څه د کشمیر سراې په شان ښکاره شو خو البته دا ځاې تریډېر لوې و.

د دوي دواړو اړتیاوېډېرې نه وې. لامه د ډوډۍ په اړه څه خاص بندیز نه لرلو او کیم د هری غرفې نه په خیرات کې د خواړو څه نا څه اخستې شول. هغه د اورد بلولو لپاره یو ځو لرګي په بیه واخستل. خلک د ډوډۍ او د خواړو لپاره اخوا دیخوا تلل راتلل، خو دوي دواړه د کوهي پر غاړه ناست و. مخامخ د اس یوګاډې ولاړ و چې اسونه تری بیل شوي او دوي په واښو شوندې وهلې او یا اوبو ته یې خله ټیټه وه. په ځو ګاډو کی د ناستو ښځو غږونه اوریدل کیده. په هند کې اوس که څه همډېرو خلکو خپلې میرمنې په اورګاډو(ریل) کی بوتلې چې زرخپل منزل ته ورسیږي خو ځینو خلکو اوس هم په پخواني ډول په اس ګاډي یا د غوایي په ګاډي کی د کور ښځې ورلیږلې. په دی ګاډو به پردې ترلې وې چې بیګانه سړي یې وونه ګوري.

کیم د غواې یو ګاډې په نښه کړو چې ډېر ښکلې کړې شوې و او وربانډې دوه ګومبدي خیمې لګیدلی وی. دا ګاډې لږه شیبه وړاندې د پړاو ځاې ته راغلی و او ورسره اته سړي بدرګه و چې د دوو کسانو سره زنګ وهلې تورې هم وې. له ورایه ښکاریدل چې دا د یو مهم کس کورنۍ وه ځکه د هند عام اولس وسله نه ګرځوله. د ګاډي د پردې شا نه یوی میرمنې د بیلا بیلو کارونو لپاره حکمونه کول چې ښکاریده هغی به تل دا کار کړې وي. کیم د ګاډي سره د بدرګه کسانو جاج واخستو چې نیم نه زیات پکې نري نروچکي د جنوبي سیمو سپین ږیري و. نیم نور د شمال تکړه غرني و چې وړینې خولۍ او هم هغسې جامې یې اغوستې و.

ketabton.com - The Digital Library

کیم اندازه ولګوله چې میرمنه د پاخه عمراو شته منه وه او جنوب کی د خپلو خپلوانوکره روانه وه. ښاي لورکره تله او زوم ورپسې د بدرګۍ لپاره خپل کسان وراستولي و. غرني کسان به ورسره د کوهلو یا کانګړې نه راغلي و. دا هم څرګنده وه چې د میرمنې لور په دی ګاډي کی نه وه، که نه هلته به سخته پرده کیده او ساتندویانو به هیڅوک ورته نږدې نه پریښودلې. کیم سوچ وکړو، دا میرمنه خوشاله ښکاري او هغی سره لیدل پکاردي. دی خبر و چې لامه به دا خبره وونه مني، خو د مرید په توګه هغه دا خپل فرض ګڼلو چې د دواړو لپاره تری خیرات وغواړي. هغه چې څومره یې امکان کیدې شو، هغه ښکلي ګاډي ته نږدی اور بل کړو چې په ساتندویانو کی یې څوک وشړي. لامه اوس پر زمکه ناست و او تسبیح یې اړولې. یو غرني ورته په ماته ګوډه هندوستاني ژبه کی وویل، " او...ګدایانو، له دی ځایه لیرې لاړ شئ. کیم په غرور وویل، " ده ته ګوره! دا د غرونو خره کله نه د هندوستان د زمکې خاوندان شول؟ هغه یو لرګې په اور کیښودو او ورو یې وویل، "مونږ دی ته د مینې خبری وایو." له پردی شاته نه میرمنې هغه غرني ته څه امر ووکړو نو کیم په زوره وویل، " وروره،ډېر تیز مه غږیږه، دا نه وي چې ښیرې درته وکړو. زمونږه ژبه توره ده." سپین ږیرو ساتندویانو وخندل او یوغرنې په ګواښنو سترګو ورته رانږدی شو.

لامه سر راپورته کړو او وی ویل، څه چل دی؟ غرنې پخپل ځای ودریدو او ژبه یې چاړه شوه، نو په ماتو ټکو یې وویل، " شکر خدایه چې د یو ګناه نه دی وژغورم" په سپین ږیروکی یو دی بل ته په غوږ کی وویل، "خارجیانو اخرخپل ملا پیدا کړو" د پردی شا ته نه میرمنې په چغه وویل، " تاسو دا ګداي ګر هلک تر اوسه ولې نه دی وهلې؟ " غرنې، پردی ته نږدی شو او په ورو غږ یې ورته څه وویل. هلته یوه شیبه خاموشي وه، بیا د میرمنې غږ اوریدل کیدو خو څوک پرې نه پوهیدل چې څه یې ویل. کیم ځان داسی ناغرضه ښکاره کړو لکه چې هیڅ نه ویني. هغه غرنې کیم ته نږدې شو او په غوږ کی یې ورته وویل، "کله چې ستا ملا ډوډۍ وخوړه نو د بیګم صاحبې خواست دی چې له هغې سره ووینې." کیم په بی پرواي وویل، "دی چې ډوډۍ وخوري نو ویدیږي." خو بیا یې په لوړ غږ وویل،" زه به اوس سپیڅلي ته ډوډۍ ورکړم او د خپلو خلکو نه اجازه هم واخلم."

بیا یې لامه ته وویل، "حضور اجازه درکړې شوه، دا خلک به راته ډوډۍ راکوي." لامه په خوبولي غږ وویل، "د جنوب خلکډېر ښه دي " او هم هلته ویده شو. کیم بیا په زوره وویل، "پرېږده چې دی لږ ارام وکړي، خو کله چې سپیڅلې صیب راویښ شو نو ښه ډوډۍ ورته راوړئ." په سپین ږیروکی یو چا سنگ زنه خبره وکړه نو کیم په قهر وویل. " دی خیرات خور نه دی، د بانډې گداگر هم نه دی، دی تر ټولو سپیڅلې جوگي دې، تر ټولو طبقو لوړجوگي او زه د ده مرید یم. "

د گاډي له پردې شا ته نه په یونرم غږ کی بیگم صاحبې هغه ته د راتلو وویل. کیم پردی ته ورننږدی شو او پوهیدو چې د دی شا ته نه دوه سترگي ورته گوري. په تخته یوه لاس چې په گوتو کی یې غټې انگشترې وې، ایښې و.

میرمن. دی څوک دی؟

کیم. یوه لوړه سپیڅلې څټه چې له ډېره لری راغلې، دی د تبت دې.

میرمن. تبت چرته دی؟

کیم. هغه د واورو نه اخواډېر لری دی. دی د ستورونه خبر دی او زایچې جوړوي. خو دی دا هر څه د پیسو لپاره نه کوي. د مهربانۍ له کبله یې کوي. زه د ده مرید یم او ماته هم د ستورو ملگرې وایي.

میرمن. ته خو غرنې نه یې؟

کیم. له هغه پوښتنه وکړه، زه ورته له ستورو رالیږل شوی یم چې د ده د سپیڅلي سفر تر پایې به ورسره پاتې کیږم.

میرمن. هلکه. گوره ښه، زه سپین سری یم او بی عقله نه یم. زه خبره یم چې لامه څوک وي او ورته درناوې کووم. خو ته د ده قانوني مرید نه یې ، هم هغسې لکه چې زما گوته د دی گاډي ډنډه نشي کیدې. ته یو بې طبقې هندو یې، یو بی شرمه گداي گر، چې ځان یې د خپلی گټې لپاره دې لامه پوری تړلې دې.

ketabton.com - The Digital Library

کیم. (په ورو غږ) نو مونږ ټول د خپلو ګټو لپاره نه یو لګیا؟ ما اوریدلي دي...ما اوریدلي دي چې...

میرمن. څه دی اوریدلي دي؟

کیم. هر څه خو راته یاد نه دي خو په بازار کی چا ویل، خو کیدیشي چې دروغ وي، داسی یې ویل چې راجه ګان ...هغه چې د ښه لوړې کورنۍ او د پاکی وینې اود غرونو واړه راجګان وي، ښاي داسی ونکړي، خو په جنوب کی، کله کله دوي د خپلو ګټو لپاره خپلې میرمنې په زمکه والوخرڅې کړي. په اودهه کی دا کار ډېر کیږي. خو د غرونو راجګان دا خبره نه مني. د بازار په خبره څوک باور نشي کولې، خو د وینځو( مینځو) تجارت په ټول هند کې روان دې.

میرمن. ( په سخته لهجه) ته خو ډېر لوې دروغجن یې.

کیم. (په ویره) موری. ته ریښتیا وایې، ستا سترګې ښایسته دی چې انسان پیژني .

میرمن. (په خندا) که څلویښت کاله پخوا راته چا دا خبره کړی وې، او زه ریښتیا همدغسې ووم، ډېرش کاله پخوا هم که چا راته ویلې وې نو...ارمان...چې په دی ټول هند کی څوک نه و، بی له دی خیرن ګداي ګر نه چې د یوې باچا د کونډې صیفت یې وکړو.

کیم. درنې ملکې...زه هم هغه څه یم چې ملکې حضور فرمایلي دي. خو په دی کی شک نشته چې زما جوګي ریښتونی دې. دی تر اوسه خبر نه دی چې محترمې ملکې د ده د لیدو امرکړې دې.

میرمن. امر..زه به یو سپیڅلي ته، مذهبي معلم ته، څنګه امر وکړم چې راشي او له ما سره... یوې ښځې سره دی خبری وکړي؟ هیچری نه.

کیم. ښه دا زما بی عقلي وه، ما فکر کوو تاسو امرکړې دې.

میرمن. هغه امر نه و، یو خواست و. وپوهیدې؟

ketabton.com - The Digital Library

د ګاډي په تخته يوه سکه وکړنګيده چې کيم را واخسته او د بودايانو په شان يې په دواړو لاسونو بيګم صاحبې ته سلام وکړو. بيا يې وويل

کيم. زه د هغه سپيڅلي مريد يم، کله چې راپاڅيدو او ډوډۍ يې وخوړه نو تاسو ته به يې راولم.

ميرمن. (په خندا)ډېر بی شرمه او بدمعاش يې.

کيم. (په ورو غږ) ملکې صاحبی ، په کورنۍ کی خو څه ستونزه به نه لرې. د ماشوم زوې اړتيا يا داسی نور...د زړه خبره وکړه، مونږ جوګيان ډېر کرامت لرو.

ميرمن. مونږ جوګيان ....ته دومره لوې نه يې (خندا) باور وکړه...او جوګي..(خندا) کله کله زمونږ د ښځو اړتيا زامن نه وي. بله دا چې زما لور شکر دی زوې لري.

کيم. په لينده کی د يو غشي نه دوه ښه وي، او دری خو لا ښه وي.

کيم دا ټولې خبری د لاهور د ټکسالي د فقيرانو له خلي اوريدلې وې او د خبرو کولو پر وخت يې سترګی زمکی ته نيولې وې.

ميرمن. دا خبره ريښتيا ده. او د دی وخت به هم راشي. خو دا د ښار برهمنان په هيڅ نه دی خبر. زه ورته پيسې او ډالۍ ورليږم او دوي راته وړاند ويېنې (پيش بيني) کوي چې ټولې دروغ وي.

کيم. ښه...ښه دوي درته وړاند ويېنې کوي.

ميرمن. بيا ما پخپله خپل خداې راياد کړو، دعاګانې مې وکړې او هر څه مې هغه ته پريښودل. په بوده ګيا کی سپيڅلې زيارت ته هم ولاړم او هلته می نذرورکړو. اوس له خيره دويم ماشوم يې کيږي، او که زوې وشو نو دا به ډېره لويه خوشالي وي.

لامه د خپل خوب نه راويښ شو او کيم ته يې نارې کړې. کيم ورته منډه کړه او وی ليدل چې د اورچاپيره غرنيو نوکرانو ورته ډوډۍ اوډلې وه. يو

ketabton.com - The Digital Library

څو کسان لاس په نامه ورته ولاړ و. کیم په چغه وویل، "زه ورشئ، ورک شئ، تاسو څه فکر کوئ چې مونږ به لکه د سپو په میدان کی د ټولو د سترګو مخی ته ډوډئ خورو؟" ټول کسان تیت شول او کیم د لامه سره په ارام ډوډئ وخوړه. بیا ده ورو غونډې لامه ته وویل، "ما درته نه وویلي چې د جنوب خلک ښه دي. دا هر څه یوی ډېرې درنې د راجه کونډې رااستولي دي. هغه بوده ګیا ته هم تللې وه. کله چې تا ارام وکړو نو ورسره به ووینې."

لامه د خپلو نسوارو د ډبلي په لټه و، "دا ستا کارونه دي؟" کیم وویل، "نور به دی څوک غم وخوري، اوس وایه چې ستا په خدمت کی پاتې خو نه یم راغلی." لامه ورته دعا وکړه. کیم د هغه ګونځې مخ ته وکتل چې ایله دری ورځې د مخه یې په لومړي ځل لیدلې و. اوس دا ځیره ورته څومره خپله او مهربانه ښکاریده. ورته یې وویل، "هغه ګاډي کی ناسته میرمنه دویم لمسي غواړي." لامه یو سوړاسویلې وکړو ، "دا د دین لاره نه ده. خوهغه له غرونو راغلی ده نو وربه شم." کیم غوښتل چې ورسره ولاړ شي خو لامه ورته نه و ویلي اود دوي خبری په تبتي ژبه کی کیدې چې کیم وربانډې نه پوهیدو نو دې هم هلته ایسارشو.

په پړاو کی شورکم شوې و، ټولو خلکو ډوډئ خوړلې او خوبولي و. لرې یو ځاې د بنګالي سندرې او ستار غږ اوریدل کیدو. کله کله د چیلم ګوړګوړ به پکی ګډ شو چې کیم ته د چیندخانو دغږ په شان ایسیدو. لامه چې بیرته خپل اور ته راوګرځیدو نو کیم سترګې پټې کړې او ملاست و، هغه خپله کمبله وربانډی هواره کړه نو کیم مخ واړو، "څه یې ویل؟" لامه ورو ویل، "هغه واي چې ما سره مله شئ، ورته مې وویل چې زما لټون تر هر څه مهم دې. خو اوس چې زمونږ لاره یوه ده نو ورسره به لاړشو او په لاره به د دی لپاره دعا هم کووم. ما نه د ښار نوم هیردی خو هلته به له دی بېل شو." کیم یو څو ګزه لرې پروت سپین ږیري نه په ورو غږ پوښتنه وکړه چې د دوي د بادارصاحب کور په کوم ښار کی و. هغه ورته د سهارن پور شا ته د یو وړوکي کلي نوم واخستو چې د امونو باغونه یې لرل.

ketabton.com - The Digital Library

## د سره غويي کنډک

سهار د سپيدې سره په پړاو کی ژوند راويښ شو.  کيم راپاسيدو او اخوا ديخوا يې کتل. بيا د "نييم" د يوې ونې نه يې يو ډنډر را وشوکوو او مسواک يې ترې جوړ کړل.  د مسواک پر وخت ده د ټولو خلکو جاج اخستو.  دی اوس د ډوډۍ نه بې غمه و، ځکه د هغې ميرمنې خدمت ګارانو ورته هر څه برابرکړل.  له سبا ناری ورروسته دوي د ميرمنې د ګاډۍ سره روان شول.  هغې لامه ته وويل چې په لاره دی ورسره خبرې کوي او هم دغسې په خبرو خبرو ټوله لاره تيره شوه.

د غرمې دوي دمه وکړه او د ونو په تازه پاڼو اوډلې ښه ډوډۍ يې وخوړه.  هغې ميرمنې اوس د غرونو يخه او تازه هوا يادوله او د ګرمۍ او د لاری د خاورونه يې شکايت کوو.  کله چې په لاره د يو سيند نه تيريدل نو لامه به په تلوسه شو.  خو بيا به يې سر وخوځوو چې دا هغه سيند نه دی.  کيم ته يې وويل، د دی ښځې د خبرو د لاسه زه خپل عبادت نشم کولې.  کيم لرې شنو پټو ته کتل چې څو نوي کورونه پکې ښکاريدل او ده غوښتل چې هلته ورشي او له نږدې يې وګوري.  دی او لامه يو ځاې هغو ونو ته روان شول.  کله چې نږدې ورسيدل نو کيم په دی حيرانه و چې هلته يوعبادت ځاې هم نه و، يو څو د امونو ونې وې.

ډېر ليرې ده څلور سړي وليدل چې د يو بل سره څنګ تر څنګ روان و.  هغه پخپل لاس کی نيولي د برونزو سيکې ته وکتل او لامه ته يې وويل، " پوځيان، سپين پوځيان، راځه چې وې ګورو.  مونږ چې کله هم يواځې تګ کوو، د پوځيانو سره مخ کيږو." لامه وويل، "ما سپين پوځيان پخوا چری نه دی ليدلي." کيم وويل، دوي چې د شرابو په نشه کی نه وي نو ضرر نه در رسوي." بيا دواړه د ام  د يوی ونې شا ته پټ کښيناستل.  پوځيان رانږدی شول او يوځاې ودريدل. دا د يو رجمنټ (کنډک) هراول ډله وه او د خپل کيمپ لپاره يې ځاې په نښه کوو.  دوي په لاسونو کی پينځه فټه لوړې ډنډې نيولې وې چې ورباندی بيرغونه ځړيدل.  کله چې دوي په زمکه خپاره شول نو يو بل سره يې په زوره زوره خبری کولی.  دوه کسان د امونو باغ ته ورننوتل نو يوپکې وويل، "د افسرانو لپاره به د دی ونو لاندی خيمې ودروو."  بيا يې ليری خپلو ملګرو ته په چغه وويل چې "د سامان د ګاډو

ketabton.com - The Digital Library

لپاره مو ځاې په نښه کړی دی که نه." له ليری يوکمزوری غږ کی ځواب وويل شوچې کيم پرې پوهه نشو. لامه ورو وويل، دوي د څه شي لپاره تياري کوي؟ دا عجيبه نړۍ ده او دا د بيرغ د پاڅه څه جوړ دي؟ يو پوځي خپل بيرغ له دوي څو ګامه اخوا پر زمکه وغورځوو، څه يې وويل او بيا يې راپورته کړو. د کيم خله وازه وه او ده په زوره زوره ساه اخسته. بيا لامه ته يې په غوږ کی وويل،

کيم. سپيڅلي صاحب، زما زايچه...هغه پيشګوي...په ياد دی دي؟ په امباله کی چې هغه ملا په خاوره زما د ستورو نقش جوړکړی و او ويل يې چې لومړې به دوه پيرنګيان راځي او په يو تياره ځاې کی به تياري نيسي. هم هغسی لکه چې په خوب کی وي.

لامه. خو دا خوب نه دی.

کيم.. بيا يې ويلی و چې ورپسې به سور غويې په شين ميدان کی ښکاره شي. وګوره سور غويې...

هغه بيرغ ته اشاره وکړه چې له دوي لږ ليرې په هوا کی رپيدو. د بيرغ د پاسه د هغه کنډک نشان سور غويې په شين ميدان کی جوړ و.

لامه. اوس زما راياد شو. دا خو ارو مرو ستا سور غويې دې او هغه دوو کسانو هم تياري کوله.

کيم. (په جوش) دوي پوځيان دي، سپين پوځيان.

لامه. دا د جنګ نښه ده

کيم. محترم ، دا زما د لټون يوه برخه ده.

لامه. ته ريښتيا واې. د امبالې ملا ويلي و چې ستا ستورې د جنګ نښه ده. اوس څه وکړو؟

کيم. دلته به انتظار وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

شیبه وروسته د پوځي بینډ غږ یې واوریدو. لامه داسی موسیقي چری نه وه اوریدلی. دا د دې کنډک موسیقي وه چې د مارچ پر وخت به یې غږوله. د پوځیانو ډلې په لیکو کی راغلې او شیبه وروسته دوي په میدان کی په لږه لږه فاصله خپلې کیږدۍ ودرولې. د پوځیانو یوې ډلگۍ په چټک د آم د ونو لاندی یوه لویه کیږدۍ ټک وهله. یو څو نورو د گاډو نه لوښي لرگي راښکته کړل او هندي ملازمانو ته یې وسپارل. په څو شیبو کی هغه ځاې لکه د یو وړوکي ښارپه بڼه واوختو. لامه د تلو لپاره د خپل ځاې نه پاسیدو خو کیم ورته وویل، د اورد رڼا نه لیرې ودریږه نو څوک دی نه ویني. د هغه سترگي په بیرغ خښې وې. ده د پوځ د کیمپ ننداره پخوا چرى نه وه کړې او هر څه ورته په زړه پورى و.

د لامه لپاره د مسیحیانود پادري راتگ په زړه پورى و. د هغه توراوږد کمیس په غاړه و او د سرو زرو زنځیر ترې ځړیدو چې د صلیب نښې ورسره تالۍ وهلی. دې د لنگر د خیمې مخې ته پروت په کرسی کښیناستو او څلورو افسرانو ورسره ټوکی ټکالې پیل کړی. د لامه دا خبره خوښه نشوه چې مسیحي ملا په زوره خندل، خو هغه پوهه سړی ښکاریدو او غوښتل یې چې ورسره خبرى وکړي. کیم وویل چې لږه شیبه کی به دوي ډوډۍ خوري، خو دوي دومره ښه نه دي چې مونږ ترې ډوډۍ وغواړو نو لاړ به شو.

دوي چې د پوځي کیمپ د ننداری نه وروسته بیرته پړاوته راغلل نو د میرمنې ملازمانو ډودۍ ورته کیښوده . هغوي ولیدل چې لامه او د ده مرید دواړه خاموشه و خو پوښتنه یې ونکړه چې بی ادبي وه. له ډوډۍ خوړو وروسته دوي یو وارى بیا د انگریز پوځي کیمپ ته روان شول. کیم د آم ونو سره یوځاې په نښه کړی و او لامه ته یې وویل چې هلته د ده انتظاردی وکړي ترڅو ده ورته غږ نه وي کړې. لامه په دی امر یو څه احتجاج وکړو خو کیم ورته وویل چې دا د هغه خپل لټون و... د سره غویي لټون. لامه په یوې کندې کی کښیناستو چې د امونو د باغ نه لږ لیرى و او کیم ترینه په تیاره کی ورک شو.

هغه پوځیان چې د افسرانو خیمې ته په پهره (څوکۍ) ولاړ و، کیم د هغوي له پښو لکه د مار تیر شو او د لنگر د خیمې څنگ ته کښیناستو. هغه د سور

ketabton.com - The Digital Library

غويي په اړه نور معلومات غوښتل، د خپل پلار خبره ورته په زړه شوه چې نهه سوه شيطانان به ستا ژغورنی ته راشي. هغه په دی معامله کی د مسيحي ملا سره هم مشوره کول غوښتل. خو په دی ويرېدو چې هسی نه د لاهور د پادريانو په شان هغه ورته د زدکړی او د تعليم په اړه نصيحتونه پيل کړي.

کيم د افسرانو د ډوډۍ د خيمې يو سوري نه وليدل چې گوراگان د لوی ميز چاپيره ناست و. د ميز په سر د هر څه په منځ کی يو طلاي غويې ولاړ و. کيم پخپل دې اندازه خوشاله و چې انگريزان د غواي منونکي و او اوس له ډوډۍ وړاندی يې د دی غواي عبادت کوو. هغه وليدل چې ټول افسران ودريدل اوغواي ته د يوې دعا نه وروسته د شرابو جامونه يې وکړنگول. پادری "آرتهر بينيټ" نوميدو چې د دعا نه وروسته ايسارنشو او له خيمې را ووتلو. خو په تياره کی د ده پښه د کيم د اوږی سره وجنگيده او راپريوتو. کيم ورته يوه لته ورکړه او نږدې وه چې ترې تښتيدلی وې، خو هغه کيم د څټ نه ونيولو اوپه زوره يې خپلې خيمې ته راوستلو. کيم ورله لتې ورکولې خو ځان يې نشو خلاصولی. د خيمې په لالټين کی پادري د کيم مخ وليدو او په حيرانتيا يې ويل، " دا خو ماشوم دی." هغه تری په هندوستاني ژبی پوښتنې پيل کړی،" ته څوک يې؟ غلا لپاره راغلې وې؟ "کيم ساه صورت په ځاې کړو نو يوه کيسه يې ورته تيره کړه. په دی ټول وخت کی پادري هغه د خپل ترخ لاندې د څټ نه کلک نيولې و خو هغه ستړی شو او لږ يې لاس سست شو نو کيم موقع پيدا کړه. يو ټوپ يې ووهلو او له خيمې نه د وتلو لپاره يې منډه کړه.

د پادري يو لاس اوږد شو او د ده د نيولو په هڅه کی د ده له غاړې تعويذ يې ترې وشکولو. کيم بيرته تاو شو او په بی خبرۍ کی يې په انگريزي ژبې وويل، "راکړه، ما ته بيرته راکړه، په دی کی کاغذ دی، هغه راکړه."پادري حيرانه شو، "ته انگريزي ولې واې؟ واړه هلکان چې غلا کوي، وهل خوري. ته خبر يې؟ " کيم لکه د زپل شوي ځاروي په ټوپونو و، چې د پادري له لاسه خپل تعويذ واخلي، "ما غلا نه ده کړی، دا زما خپل تعويذ دې، دا رانه مه اخله." خو پادري د خيمې پردی ته ولاړو او بهر يې يو چا سره خبری پيل کړی. دا کس پادري "وکټور" نوميدو او هغه ته يې

ketabton.com - The Digital Library

په لنډو دا کیسه تیره کړه چې هلک په انګریزي ژبه خبری کوي او یو تعویذ ورسره دی.

وکټور د مسیحیت د کیتهولک مسلک منونکې و او د راتلو سره یې د تعویذ په پرانستو پیل وکړ. کیم وویل، "تاسو ما ته وهل راکړي دي، اوس راته خپل تعویذ راکړئ چې ځم" وکټور پادري د کیم د پلار د لاس لیکلې هغه کاغذ پرانستو. دا د کیم د زیږیدو سند و او د دی په اخره کی د هغه پلار ځوواریې پخپل خط لیکلي و، د دی هلک خیال وساتئ ، مهرباني وکړئ، د هلک ساتنه وکړئ. پادري هک پک پاتې و او د بل نه یې وپوښتل، " ته پوهیږې چې دا څه دي؟ دا د کیمبل او هارا د لاس لیکنه ده، ما پخپله د ده واده کړی و" بیا یې کیم ته وویل، "دا له کله نه تا سره دې؟" کیم وویل، "کله چې زه ډېر وړوکي ووم." هغه ورته نږدې شو او د ده د کمیس ګریوان یې خلاص کړو. بل پادري ته یې وویل، ته وګوره دا هلک تور نه دی. هغه ته یې وویل، ستا نوم څه دی؟

کیم. کیم، کیمبل ، دوي به راته کیم رشتیکا ویل.

پادري. رشتیکا څه وي؟

کیم. آییریش تیکا. دا زما د پلار د کنډک نوم و.

پادري. ښه ښه . آیریش. یاني د ایر لینډ!

کیم. دا راته پلار ویلي و.هغه اوس مړ دی.

بل پادري وویل، ښاي ما د هلک سره زیاتې کړې دې. ځکه دی ریښتیا واي. هغه بل ورته وویل، "ده ته یو څه شیدې ورکړه او د ویده کیدو لپاره کټ. "کیم ته یې ویل، "مه ویریږه. ته به اوس دلته اوسیږې. "

هغه ورله تسلي ورکړه چې هیڅوک به ورته څه نه واي. بیا یې له کیم د هغه د موراو پلار او د لاهور د ژوند حال واوریدو. کیم د لامه سره د لیدو او د هغه د مرید کیدو کیسه هم وکړه او دا چې هغه ورته بهر په انتظار و.

ketabton.com - The Digital Library

لامه د هیڅ نه خبر نه و او د آم د ونو سره په یوی تیارې کندی کی ورته ناست و.

وکټورد کیم سره بهر دونو لوري ته ولاړو. کیم ورته په هندوستاني ژبه کی وویل، "زما لټون اوس پاې ته رسیدونکی دی. ما سورغویې وموندلو خواوس نه پوهیږم چې نور به څه راپیښیږي. دا ټول خره دي." لامه ورته وویل، "دا ښه خبره نه ده چې ته د دوي په ناپوهی ملنډې وهې. که ته خوشاله یې نو زه هم خوښ یم. " دوي بیرته خیمې ته ورغلل او لامه دواړو پادریانو ته خپل سلام وکړو. دوي د یو بخاری چاپیره کښیناستل. د خبرو پروخت وکټور په انگریزي کې بینیټ ته وویل، "مونږ یو سپین پوستې هلک د بوداي راهب سره نشو پریښودې، ښه به دا وي چې دی زمونږ د مسلک په یتیم خانه کی داخل شي." بینیټ ورته وویل، بوداي ملا هم خبرول پکار دي، دی بد سړی نه ښکاري."

کیم د پادریانو او د لامه خبری یو بل ته ژباړلی خو ځینې خبری یې د ځان نه پکی ورزیاتولې. لکه، لامه ته یې ویل، هغه چې اوښ په څیر مخ لري واي ، زه د پیرنگي زوې یم. یا ...دا غټ خیټې کم عقل واي چې زه دی یتیم خانې کی داخل شم چې سبق ووایم. لامه خواشینې وچې دی به د مرید نه بغیرخپل لټون څنگه کوي. کیم پادریانو ته د لامه د سیند د لټون خبره وکړه نو هغوي وویل چې دا خو کفر دی. ډېر زر دوي دواړه د خپلو خپلو مسلکونو په تبلیغ شول او ناندری یې پیل کړې. یو پادري ویل چې کیم به کېتولک فرقې ښوونځي کی داخلیږي او بل ویل چې نه دې به د انگلستان د پروټسټنټ کلیسا په سیوري کی زدکړی وکړي.

کیم او لامه د دوي په ډېرو خبرو نه پوهیدل خو اخر د کیم په دماغو کی یو حل راغلو. لامه ته یې وویل. دوي دواړه غواړي چې زه دی په یوه مدرسه کی زدکړی وکړم . نو د اوس وخت لپاره زه به دا ورسره وومنم. یو څو ورځې به تا نه بیله ډوډۍ وخورم، خو هر وختې چې مې موقع پیدا کړه، وو به تښتم او بیا به تا ته درشم. ته په سهارن پورکی اوسه، د هغې میرمنې په کلي کی، زه به دی پیدا کړم. لامه خپلو تسبو په اړولو بوخت شو او مخ یې په خولی کی پټ کړو. دواړه پادریان په خبرو ستړي شول او په دی یې یو بل سره وومنل چې کیم به په غرونو کی د پوځ هغه یتیم

خاني ته وروااستول شي چې بې سرپرسته انګريز ماشومانو لپاره جوړ شوې و.

لامه اوس له خپلی مراقبی راوتلې او له دوي يې پوښتنې کولې چې کيم ته به څه ډول درس ورکړی کيږي او دا چې د ده د درس پيسې به څوک ورکوي. هغوي ورته وويل، چې د بريطانيې پوځ د يتيمانو لپاره پيسې بيلې کړي دي او په ښوونځي کې درسونه او په ليليه کی ژوند مفت و. لامه تری وپوښتل چې تر ټولو ښه درسونه په کوم ځای کی ورکول کيږي. دوي وويل، که څوک په پيسو سبق ويل غواړي نو په لکهنئو کی نامتو او لوې شخصي ښوونځې، "سينټ سيويير" نوميږي. هلته تر ټولو شته من او هوښيار ماشومان سبق ويلي شي. لامه پوښتنه وکړه چې په دی شخصي ښوونځي کی د يو زده کوونکي لګښت به څومره وي. پادري وويل، دوه درې سوه روپۍ د کال.

لامه وکټور ته وويل، دا لګښت او د ښوونځي نوم راته په يو کاغذ وليکه او ښکته خپل نوم هم وليکه. بيا يې وويل چې دی به په يو څو ورځو کی ورته ليک راوليږي. لامه دا هم وويل چې دی ښه سړې دې او راپاڅيدو. بيا د خپل لټون خبره يې وکړه او ټولو ته د سر ټيټولو نه ورسته له خيمې ووتلو. وکټور ورپسې مندې کړې چې هسې نه ساتندويان يې ونيسي خو بهر هيڅ غږ نه و او لامه په تياره کی ورک و. کيم د پادري په خيمه کی په کټ سملاستو او هوسا ښکاريدو. لامه ورسره ژمنه کړی وه چې دی به د کوهلو د ميرمنې سره پاتې کيږي. دواړو پادريانو تر ناوخته د ده په اړه خبری کولې خو کيم ويده و.

په بله ورځ کيم د پيرنګي د پوځ په يوغونډ کی چې د امبالې په لاره يې کيمپ لګولی و، د مسيحي پادري په خيمه کی ناست و او سوچونه يې کول چې له دوي څنګه ځان خلاص کړي. دی د شپې په ارام ويده شو خوسهار يو ډګروال له کيم پوښتنې وکړې او کيم ورله هر څه ريښتيا وويل ځکه د ده پلار د ډګروال په اړه ورته ويلي و. له دی وروسته کيم يو سرپرک مشر ته وسپارل شو او هغه ته په سخته ويل شوی و چې په کيم دې نظر ووساتي چې تری ونه تښتي. دا کنډک امبالې ته او بيا له هغه ځايه "سناور" ته وراستول کيدو. کيم د سرپرک مشر نه پوښتنه وکړه چې دوي ولې سناور

ketabton.com - The Digital Library

ته ځي، دوي خو جنگ ته روان و. په دی خبره ټولو وخندل او هغه ورته وویل، د دوي غونډ د جنگ لپاره نه و روان. کیم سوچ وکړو چې که دوي جنگ ته نه دی روان نو بیا خبر هم نه دي چې ده په امباله کی څه اوریدلي و. هغه ټولو ته وویل، " تاسو خبرنه یئ، کله چې امبالې ته ورسیدئ نو تاسو به جنگ ته وراستول کیږئ." پادري چې دا واوریدل نو ورته یې وویل، "وړاند ویېنې مه کوه، د راتلونکي په اړه هڅوک خبر نه وي او دروغ ویل گناه ده." هغه سرپرک مشر ته امر وکړو چې کیم دی بوځي او انگریزي جامې دې ورته وگنډل شي.

## خپل او پردي

یو ساعت وروسته د کیمپ په بل سرکی، کیم پاک ووینځل شو او اوس د هلکانو لپاره ځانگړی پوځي دریشي (کوټ پتلون) یې په غاړه وه. هغه په دی جامو کی سخت ناارامه و، داسی لکه چې کمیس وربانډې چکونه لگول. دی د یو وحشي په څیر اخوا دیخوا تاویدو راتاویدو. سرپرک مشر ورته حیرانه و. څو شیبې وړاندې یو هندو هلک اوس ورک و او د هغه پرځاې لږ نسواري شوې انگریز هلک ناست و چې د جنگ په اړه یې وړاند ویېنه کوله. هغه غوښتل چې دې د کیږدۍ په منځ کې د لوې ډنډې سره وتړي چې وونه تښتي. خو بیا یې تری وپوښتل. "تا څه ویل څومره کسان به جنگ کوي؟ اته زره؟ او توپې به هم ورسره وي!" کیم په ارام وویل. "ته به ډېر زر وگورې." سرپرک مشر ورته یوه ښکنځله وکړه او وې ویل، ته دلته د ډرمونو څنگ ته په ارام کښینه او دا دوه هلکان به ستا څارنه کوي.

په بل سهار وختي د کیمپ کیږدۍ راونغښتل شوې او ټول د امبالې په لاره روان شول. دوی په لاره د هغه پړاو نه تیرنشول چې کیم تری راغلي و. دی اوس د سامان د گاډو څنگ ته روان و او دواړو خواو ته یې دواړه پادریان و چې دی یې د نظر لاندی ساتلی و. ماسپښین چې دوي دمې ته ایسار شول نو په اوښ سپور یو ډاکي (نامه بر) له امبالې خبر راوړو چې دوي به سرحد ته ورځي.

کیم شور او لوړ غږونه واوریدل او لړه شیبه وروستو ټولو ته دا خبر ورسیدو. پادري کیم ته وویل،" د شیطان لکی، ته د دې نه څنګه خبر وې؟" دې یې له ځان سره په یوې کچرې سپور کړو او ورته د تازه خبر په اړه وویل چې امر شوی دې مونږ د امبالې نه نیغ محاز ته ورشو. د کیم لپاره د "محاز" تورې نوې و. له پادري یې وپوښتل چې محاز څه وي؟

پادري.. محاز مانا، جنګ ته ...ستا جنګ ته.

کیم. ما خو تاسو ته بیګا شپه ویلي و چې تاسو جنګ ته روان یئ.

پادري. تا ویلي وخو ته څنګه خبر شوې؟

کیم موسکی شو، سترګی یې پټې کړې او لکه د درویشانو په شونډوکی یې مرموز خبری پیل کړی، داسی لکه دعا چې یې کوله. ټولو ورته حیرانه کتل.

پادري. په هند کی ستا په شان نور خلک هم شته؟

کیم. ما تاسو ته هر څه وویل خواوس راته اجازه راکړئ چې زه هغه سپین ږیري ته ورشم. که زه ورسره نه ووم، دی به مړ شي.

پادري. ما چې څه ولیدل نو دومره پوهیږم چې هغه د خپل ځان خیال ساتلی شي، هم هغسې چې ته یې ساتی. اوس به دا جنګ له تا سرې جوړکړي. زه تا د سامان ګاډو ته اوړم او نن ماښام به له ما سره بیا ووینې.

پاتې ټوله ورځ د کیمپ خلکو ده ته په درناوي کتل ځکه تر اوسه هر څوک د ده د کیسې او ورسره د ده د وړاندوېینې نه خبر شوي و. په ګاډو کی انګریز میرمنو یو بل ته د هغه خبری کولې او یوې چاغې میرمنې تری وپوښتل، "ما ته ووایه چې میره به مې له جنګ بیرته راشي او که نه؟" کیم څو شیبې سترګې پټې کړې او بیا یې وویل، "هو دی به بیرته راشي." میرمنه خوشاله شوه او ده له یې ښه ډوډئ ورکړه. کیم ته دا لویه قافله چې کله کله به یې خپل بینډ هم غږوو د لاهور د یوې میلې په شان ښکاره شوه.

ketabton.com - The Digital Library

ماښام د امبالې د ریل ګاډي د سټیشن سره محلي سازندو ورته خپلی سندری ویلې او د خواړو شیان یې پرې خرڅول. داسی نه ایسیده چې دا غونډ به جنګ ته روان وي. د هغه لپاره د صاحب په توګه ژوند کولو کی یو څه نا څه خوند و، ولې ډېر حساب یې پرې نه کوو.

په بله ورځ دی د امبالې بارک ته یې ور واستوو او هلته د بینډ غړوونکو هلکانو د ده څارنه او ساتنه کوله. دوي هغه ځای پخپله پاک کړو او کیم نه یې ښه کار واخستو. کله چې دی سټړی ستومانه پخپل کټ پریوتو نو یو سړې راغې او ورته یې وویل چې دی معلم و او درسونو ته دی راشي. کیم په لاهور کی د ډوډۍ په بدل کی یوې الماني انځورګرې نه د انګریزي یو څو توري زده کړی و خو اوس یې زړه نه و چې څه زده کړی. هغه سړي ته یې وویل، "ورشه زه نه درځم، زه سټړی یم." معلم دی له ګریوانه ونیولو او له کټ یې نیغ ودروو. بیا یې په راښکلو راښکلود بارک په بل سر کی یوی کوټې ته بوتلو چې لس دولس هلکان پکی سبق ته ناست و. معلم ورته په یوې کرسۍ د کښیناستو وویل او امر یې وکړوچې ښوریږي به نه.

کیم په دی کارکی ډېر ښه و. معلم په توري دړی (بورډ) د سپین تباشیر ( چاک) سره څه لیکل او دوي یې پوهیول. خو کیم ویده و. د هغه لپاره زدکړه یوه سزا وه چې تر اوسه یې تری ځان ساتلی و. ناڅاپه د ده په زهن کی یو پلان سر پورته کړو. معلم هلکانو ته د تلو وویل نو له هر چا وړاندی کیم له هغه کوټې راووتلو. یو چا ورپسې ناره کړه نو کیم مخ واړوو. دا هغه څوارلس کلن چاغ هلک و چې مخ یې خال دار او لوی ډول یې غړوو.

هلک. ودریږه. زه ستا ساتونکې یم. ما ته امر شوی دی چې ته به زما له سترګو پناه کیږې نه. ته چرته روان یې؟

کیم. بازار ته ځم چې خواږه واخلم.

هلک. ته بازار ته نشې تلې. که مونږ هلته ولاړو نو وهل به خورو، بیرته راوګرځه.

ketabton.com - The Digital Library

کیم. مونږ څومره لیری پورې تلې شو؟

هلک. د لیرې او نږدې نه دی څه مطلب دی؟ مونږ هغه ونې پوری تلې شو.

کیم. نو زه بیا هغې ونې پوری ځم.

هلک. سمه ده، زه نه ځم زما گرمي کیږي. خو زه له دی ځاې نه تا ته گورم. د تېښتیدو هڅه ونکړې، که داسی دی وکړل، سمدلاسه به دی ونیسي، دا لباس چې تا اغوستی دی زمونږ د غونډ یونیفارم دی. په امباله ښار کی د هر چا لاس ته چې ورغلې نو وو به دې نیسي او هم دلته به دی بیا راولي.

کیم په دی معلوماتو دومره نه و حیرانه څومره چې په دی خبره چې داغونډ به ورپسی لټون وکړي. دی د هغې ونې سره جوخت ودریدو او بهر بازار ته تلونکی تش سړک ته یې وکتل. ده هغو خلکو ته کتل چې په دی لاره روان و، په دوي کی زیات د کنډک بیراگان او نور د ټیټې طبقې هندو ملازمان و. هغه یو خاکروب ته هرکلې وویلو نو هغه ورته پخپله ژبه کی یوه ښکنځله وکړه، په دی اند چې اروپاي هلک به پری پوهه نشي. کیم ورته په هندی کی وویل، "ورشه بازار ته او یو منشي له ځانه سره راوله، مونږ یو لیک وراستول غواړو." خاکروب په حیرانی وویل، " ته څنگه گورا صاحب یې چې د لیک لپاره د بازار نه منشي راغواړی." کیم ورته څو نرمی ښکنځلې وکړی او بیا یې په سخته لهجه وویل،" منډه کړه زما تادي ده."

خاکروب له ویرې منډه کړه او په بازار کی لومړې منشي چې د ده سترگې پرې ولگیدې نو ورته یې د راتلو وویل. دا یې زیاته کړه چې گورا هلک په هندی ژبه کی خبری کولی شي. منشي د کاتبانو وړوکې میز، قلم او کاغذ راواخستل او پوښتنه یې وکړه، "پیسې به راکوي؟" خاکروب ورته وویل، "زه نه یم خبر، خو هغه د نورو گورا هلکانو په شان نه دی. پخپله به یې وگوری." کیم د منشي په انتظار کی هم هلته د ونې سره تاویدو راتاویدو اود هغه په لیدو یې ورته په زوره څو ښکنځلې وکړی. منشي له لیری

ketabton.com - The Digital Library

ورته وویل، " زه خپل حق الزحمه پیشکي اخلم او ستا د بدو ردو له کبله اوس مې معاوضه زیاته شوی ده. خو ته څوک یې چې په دی جامه کی او په دی ژبه خبری کوی؟" کیم ورته وویل " دا خبری به په لیک کی ولیکې، خو امباله ښار د منشیانونه ډک دی، زه به بل څوک راوغواړم ، زما هیڅ تادي نشته." منشي پر زمکه کښیناستو او وې ویل، "څلورآنی به راکوې." هغه یو څادر په زمکه وغوړوو او کیم هم ورسره کښیناستو. بیا یې وویل، "د پیسو خبره راته سمه وکړه، چل ول به نه کوې." منشي وویل، " ښه ده یوه نیمه آنه راکړه، خو زه څه خبر یم چې د لیک نه وروسته ته به رانه نه تښتې." کیم وویل، زه له دی ونې اخوا نشم تلې او د پوستې(ډاک) د ټکټ اړتیا هم په نظر کی وساته." منشي وویل، ما ته د پوستې د ټکټ کمیشن څوک نه راکوي." کیم وویل. " دا به په لیک کی ولیکې چې محبوب علي ته به ورلیږې. دی د اسونو تجار او د لاهور په کشمیر سراې کی ایسار دی. هغه زما ملګری دی." منشي وویل، "عجیبه ده عجیبه." بیا یې د نیچې (لرګي) قلم د روښناي په مشوانۍ کی ډوب کړواو وي پوښتل، " په هندي کی ولیکم؟" کیم وویل، "ضرور" د لیک متن داسی و،

" زه د سپین ږیري سره تر امبالې په اورګاډي کی راغلم. امباله کی مې د خړی اسپی د نسل خبره ورسوله. مونږ بیا په پښو بنارس ته روان شو. خو په دریمه ورځ مو یو پوځي غونډ ولیدو. زه د دوي کیمپ ته ولاړم نو وې نیولم. زما تعویذ یې هم کتلی دی او لکه چې زما په قسمت کی د سره غویي لیدل و. نو هغه مې ولیدو. اوس پادریانو راته نوي جامې او نوې نوم راکړی دی خو دوي ناپوهه دي. دا جامې راته درنې ښکاري. دوي مې ښوونځي ته لیږي او وهل راکوي. زما د دی ځاې اوبه او هوا نه خوښیږي. راشه او زما مرسته وکړه او یا څه پیسې راواستوه چې دې منشي ته یې ورکړم ځکه ما سره ده ته د ورکولو لپاره هیڅ نشته."

منشي وروستۍ جملې په لیکلو ورته بد رد وویل چې پیسې نه لري او ده سره یې چل کړی و. کیم ورته وویل، که دا لیک محبوب علي ته دی ورسوو نو هغه به درله ډیرې پیسې درکړي. منشي وبونګیدو خو د خپل میز د یوی خانې نه یې د پوستې ټکټ راوویستو، لیک یې پکې بند کړو او دا یې ورباندې سلیخ کړو. کله چې لیک یې کیم ته وسپارلو نو کاتب په

روانیدو کی وویل،" لیک دې ورسیدو نوډاکي به د ټاکل شویو پیسو نه غبرګې ترینه اخلي.

چاغ هلک د کیم شا ته ولاړ و او وې ویل،" تا هغه تورسړي ته څه وویل؟ ما د برنډې نه درته کتل. ته د دوي ژبه وایې؟" کیم وویل، نه نه زه معمولي هندي ویلې شم." دغرمی د ډوډۍ وخت شوی و. کیم ترې پوښتنه وکړه،" ته انګلستان ته تللې یې؟" هلک وویل. " زه خو څو میاشتې د مخه هلته نه د خپلی مور سره راغلې یم. ته لکه چې د دې ځاې په لارو کوڅو کی لوې شوې یې، سم دم فقیربښکارې." کیم وویل. " ما ته د انګلستان کیسه وکړه، زما پلار د هغه ځاې و." هلک ورته داسی خبری وکړې چې د کیم پرې باور نه کیدو. بیا دوي د لوی میز پر سر ډوډۍ ته کښیناستل، خو کیم ناهیلې شو ځکه داسی بی خونده خواړه ده په ژوند کی چری نه و خوړلي. که هغه محبوب علي ته لیک نه وې وراستولې نو اوس به ډېر خفه وې. هغه دلته ځان یواځې احساسوو.

له ډوډۍ وروسته یو لوړ دنګ پوځي دی پادري وکتور ته بوتلو. هغه د یو لیک په ولوستلو بوخت و او د ده په لیدو یې تری حال احوال وپوښتلو. ورته یې وویل چې د لامه له خوا یو لیک یې تر لاسه کړې دې. کیم خوشاله شو خوپادري وویل، ته د ده د پیسو د معاملې نه خبر یې؟ کیم په انکار کی سر وخوځوو. هغه ورته د لیک متن ولوستلو چې په ماته ګوډه انګریزي ژبه کی د ده لپاره یو کاتب لیکلی و ځکه لامه په انګریزي نه پوهیدو. لیک داسې و.

" تعلیم او زدکړه د خدای رحمت دی خو هله چې دا ښه زدکړه وي. که نه دا هیڅ دنیاوي ګټه نه لري. که تاسو په شان مهربانه کس دې هلک ته په سینټ سېویېر کی د زدکړو موقع برابره کړه، چې ژمنه یې تاسو پخپل لیک کی راته راکړی وه نو په دی به د هلک دری څلور نسلونو ته ګټه ورسیږي. دا خاکسار دومره پیسې لري چې د کال دری سوه روپۍ په لکهنو کی هغه ښوونځي ته ورواستوي. خو د خداې لپاره د دی هلک د سبق غم وخورئ."

ketabton.com - The Digital Library

د لیک په پای کی لامه د بنارس د یو بوداي خانقاه پته لیکلې وه. پادري کیم ته وویل، " زما باورنه کیږي، مونږ خو پلان جوړ کړی و چې نن به تا د سناور پوځي یتیم خانې ته ورواستوو. سینټ سیویېر د تعلیم لپاره لوی نوم لري او هلته مذهبي زدکړی هم کولې شې. خو د سپین ږیري سره به دومره پیسې له کومه شوي وي؟ هغه یوملنګ دی. یو واری ته په ښوونځي کی داخل شوې او بیا په میاشتینو پیسو کی ناغه وشوه نو زه به دی سمدلاسه پوځي یتیم خانې ته وراستوم. لامه ډېره لویه ژمنه کړې ده خو خیر زه په هره میاشت کی د پیسو د را رسیدو لپاره ده ته د دریو ورځو مهلت ورکولی شم." کیم چرت وهلو چې محبوب علي به ورته یوه روپۍ راواستوي او که نه؟ په دی به هغه کاتب ته پیسې ورکړي اوهم بنارس کی لامه ته لیک ورواستوي. پادري ورته وویل،" تر څو چې نور خبر راځي، ته ورشه د هلکانو سره لوبې وکړه او له دوي څه زده کړه. "

څو ورځې نوری هم تیرې شوې چې د کیم لپاره سختې وې. کله چې ده خوب غوښتو نو ورته به امر ووشو چې جامې دی قات کړې او بوټان دی پاک کړي. سهار د سپیده چاودې نه وړاندی به دوي د بیګل (صرنا) په غږ راپاڅیدل. سبا ناری به یې لا نه وه خوړلې چې معلم به ورپسې شو او د بی مفهومو تورو د لیکلو امر به یې وکړو. په نه څه خبره به په سوټۍ ووهل شو. کیم به پلانونه جوړول چې کاشکه د بارک د خاکروب نه ښه ډېر اپیم واخلي او د معلم په ډوډۍ کی یې ګډ کړي چې دی مړ شي. خو بیا به یې فکر وکړو چې دوي ټول یو ځای ډوډۍ خوري او دا کار به خطرناک وي.

د هغه د میز په سر د قاشوغې او پنجې سره د ډوډۍ خوراک کول هم نه خوښیدل. کله به یې غوښتل چې هغه کلي ته وتښتي چې سپین ږیرې پوځي پکی اوسیدو. خو د بارک په هره لاره محافظان ولاړ و. هغه د هلکانو نه د انګریزي ژبی د نویو ښکنځلو نه علاوه څه نه و اوریدلي. دی به زیات وخت خاموشه و او د نورو هلکانو د ده دا عادت نه خوښیدو، په تیره بیا د هغه چاغ هلک چې د ده د وهلو نه به یې خوند اخستو. په څلورمه ورځ دوي د امبالې د اسونو د ځغاستې میدان ته ولاړل خو څو شیبې وروسته چاغ هلک په ژړاژړا بارک ته راغلو چې اوهارا (کیم) د یو ږیره ور

سړي له خوا تښتول شوې دي او دا چې د هغه ږيره سره وه. پادري وکتور په دی خبر خواشينې شو. هغه نن سهار د بنارس د يو خانقاه له خوا ليک او د يو بانک د دريو سوو روپو رسيد تر لاسه کړی و. چرت يې وهلو چې د هلک ورکيدل ښه و او که د ده بيا موندل به ښه وي.

د امبالې د اسونو د ځغاستي د ميدان په بل سر کی، درې ميله ور اخوا محبوب علي د خپل کابلي اس واګې راښکلې او کيم ته، چې د ده مخې ته ناست و، وويل، " دا زما د غيرت او د عزت خبره ده. د امبالې خلک ما پيژني او په ميدان کی ټولو وليدل چې ما هغه هلک ووهلو او ته مې راوتښتولې. زه څنګه تا له دی بارک نه وباسم؟ دوي به مې بندي کړي. ته صبر وکړه، ته اوس صاحب يې، قسمت به پخپله درته لاره وښاي." کيم شونډې بوسې نيولې وې او د محبوب علي نه يې پيسې غوښتی چې بنارس ته به ولاړ شي او لامه سره به ووينې. هغه په ځيل وويل، " زه صاحب جوړيدل نه غواړم او ياد دی نه دي، ما ستا پيغام امبالې ته رسولې و." خو محبوب علي د اسپې مخ بيرته تاو کړو.

کيم دا کار يوه دوکه وګڼله او محبوب علي سره په جنګ شو. خو بيا يې ورته نوې لومه واچوله. "دا يو معمولي خبره ده. بنارس د امبالې نه په نيغه لاره دی، ما ستا څومره ليکونه او پيغامونه پيرنګيانو ته اوړي دي چې هيڅ حساب يې نه کيږي. او هغه وروستې پيغام دی پيټر صاحب ته د خړې اسپې دنسل په اړه چې ليږلې و." د محبوب علي رنګ واوختو نو کيم وويل، " نه نه ما نه پيغام نه و هير، هغه خړه اسپه نه وه، سپين اس و." محبوب علي وويل، " تا په ليک کی هم د خړې اسپې نوم ياد کړی و. " کيم وويل، زه د بازار کاتبانو ته ټول معلومات په لاس نه ورکووم. " محبوب علي د کيم په سينه لاس کيښودو، خو په دی وخت کی يو چا پری چغه کړه، " اې محبوب علي، زوره وره، ودريږه." بيا يو انګريز خپل د پولو د لوبی اس د دوي د اس سره يو ځای وځغلوو.

سپور. زه له ډيره وخته درپسې ځغلم. فکر کووم چې دا کابلي اس به وپلورې.

ketabton.com - The Digital Library

محبوب.  په يو څو ورځو کی ځوان اسونه راروان دي چې ستاسو د لوبې لپاره به ښه وي.

سپور.  دا څوک له ځانه سره ووړې؟

محبوب. دا هلک چې راسره دې؟ د ځغاستې د میدان په سر کې می ولیدلو چې هغه بل هلک ډېر سخت وهلو. د ده پلار پوځي و او په لاهور کی اوسیدو. هلته چې دی ماشوم و نو کله کله به یې زما د اسونو سره لوبې کولې. اوس مې چکر ته راوستو. هلکه ! راته ووایه چې په کوم بارک کی اوسیږې چې هلته دې ورښکته کړم؟

کیم. ما هم دلته ښکته کړه، زه پخپله تلې شم.

محبوب. او که ته وتښتیدې نو هر څوک به واي چې دا زما گناه وه.

سپور.  دی به ډوډۍ ته ورشي.  بل چرته تښتیدې شي؟

محبوب. هو، خو په دی خاوره زیږیدلی دی او ملگري لري، هر چیرې چې وغواړي تلې شي. ډېر هوښیار هلک دې. هر وختې چې یې جامې بدلې کړې د سترگو په رپ کی به تری هندو هلک جوړ وي.

سپور انگریز د کیم جاج اخستو او هغه محبوب علي ته غاښونه چیچل. داسی احساس ورته کیدو لکه چې محبوب علي ورباندی ملنډې وهي. دوي بارک ته ورسیدل نو مخامخ ورته پادري ولاړ و. کیم له اس ښکته شو او غلې ودریدو. هغه سپور ډگر وال کرایټن و چې کیم د ده غږ په انباله کې د شپې اوریدلي و او نن یې په رڼا ورځ ولیدو. خو ده داسی هیڅ څرگند نه کړل چې گوندی کرایټن پیژني. سپور پادري ته خپل ځان ور وپیژندلو چې " زه ډگروال کرایټن یم." پادري وویل، " د تولن پوهنې د سروې مشر!" سرې سر وخوځوو. پادري ورته وویل، " ستا په لیدو خوشاله شوم او مننه چې دا هلک دی راته بیرته راوستلو." ډگروال وویل، " زما د مننې اړتیا نشته، هلک چرته نه و تللې، ته محبوب علي پیژنې. خود دې هلک په اړه راته ووایه. پادري وویل، " زه به درته هر څه ووایم. هم ته یې چې زما دا معمه به راته حل کړې."

ketabton.com - The Digital Library

په دی وخت کی یو سایس ښکاره شو او ډگروال په زوره وویل، " محبوب علي، د دریو نیمو سوو نه یوه روپۍ زیاته نشم درکولې." محبوب علي د اس مخ تاو کړو او وې ویل، " صاحب ستړې دې نو ځکه په قهر دی. تر څو دی پادري صیب سره خبری کوي، زه به د هغه ونې لاندی ورته انتظار وکړم." پادري او ډگروال په برنډه کی په کرسیو کښیناستل نو کیم محبوب علي ته ورغلو او ورته په قهر لگیا شو چې له ده سره یې دوکه کړی وه. هغه ده ته تسلي ورکوله او ډگروال چې په اردو ژبه پوهیدو د دواړو خبرو ته غوږ نیولې و. پادري د کیم د اسنادو لپاره دننه ولاړو نوکرایټن ځان سره وویل. " د دی هلک نه پوځې نشي جوړیدې." پادري چې د لامه لیک راوړو نو محبوب علي کیم ته وویل،" چاغ پادرې ډگروال ته څه ورښی؟" کیم وویل، " د لامه لیک. هغه زما د زدکړو لپاره پسې رالیږلي دي. هغه له تا ډیر ښه دی، دروغ خو نه واي، ته خو دروغجن یې. " محبوب علي ورله ډاډ ورکړو چې لږ صبر وکړي نو هر څه به سم شي.

پادري او ډگروال تر ډیره وخته د کیم په اړه غږیدل او اخر دی نتیجې ته ورسیدل چې کیم به لکهنو ته ورواستوي چې هلته په سینټ سیویر ښوونځي کی زدکړی وکړي. ډگروال وویل چې دی راتلونکې اونۍ پخپله هم لکهنئو ته روان و نو کولې شي چې هلک له ځانه سره بوځي. دا د هغه لپاره د ټولن پوهنې یوه په زړه پوری بیلگه وه. هغه پادري ته سپارختنه وکړه چې د کیم د هندي ژوند په اړه دی چا ته خبره ونکړي ځکه ده غوښتل چې پخپله په دی اړه یو څه لیکنې وکړي. اخوا محبوب علي اوس کیم ته د اسونو د نسل او د دوی د خسمانې په اړه معلومات ورکول او ده ورته غوږ نیولی و. محبوب علي ولیدل چې د پادري او د ډگروال خبری پای ته رسیدلی وی، نو کیم ته یې یوه روپۍ په لاس کینبوده او وي ویل، زه بچو ستا ستونزه حل شوه، گورو چې کرایټن څه واي؟

ډگروال له برنډې کیم ته وویل، " دری ورځې وروسته به ته له ما سره لکهنو ته ځې. وونه تښتې." کیم په ژړغوني غږ کې وویل، " زه به سپین ږیرې ووینم که نه؟" کرایټن وویل، " لکهنئو د بنارس سره نږدې دې او

ketabton.com - The Digital Library

ممکن هلته د لامه سره ووينې." کيم وويل، " زه به انتظار وکړم خو هلکان به مې وهي."

ماسپښين محال کيم د بارک د معلم مخې ته ولاړ و چې سخت په قهر و. ده ورته وويل چې له درسونو يې خارج کړې دې. د کيم لپاره دا يوه بې مانا خبره وه. هغه له صنف ووتلو او بازار ته ولاړو. هم هغه کاتب يې وموندلو او پيسې يې ورله ورکړې. بيا يې وويل، اوس زه يو بل ليک وراستول غواړم. دا ليک په بنارس کې يوسپين ږيري ته مخاطب و. متن يې داسې و.

" د هغه سپيڅلي لپاره چې د سيند په لټون ګرځي او اوس د بنارس په خانقاه کې دی. په دريو ورځو کې زه به لکهنئو ته روانيږم. د ښوونځي نوم سيويردی خو نه پوهيږم چې د ښار په کومه برخه کې دی." کاتب وويل. " زه خبر يم." کيم ورته وويل، " نو وې ليکه او زه به درته يوه آنه زياته درکړم." کاتب چې د ليکلو نه وروسته سر پورته کړو نو وې ويل " دا مونږ ته څوک ګوري؟" کيم مخ واړوو نو وې ليدل چې ډګروال کرايټن په ساده جامو کې د سړک نه اخوا ولاړ و. هغه کيم ته اشاره وکړه او چې دی ولاړو نو وې پوښتل.

کرايټن. دلته دې څه کول؟

کيم. (په ويره) ما بنارس کې سپين ږيري ته ليک ورليږلو.

کرايټن. دا خو دې ورته نه دي ليکلي چې ما سره به ځې؟

کيم. نه. داسې مې نه دی ورته ليکلي، که باور دې نه کيږي، ورشه ليک ولوله.

کرايټن. (خندا) نو ولې دې ورته وونه ليکل چې زه دې لکهنو ته بيايم؟

کيم. ( په جرات) ما ته ويل شوي دي چې د بيګانه خلکو نومونه مه يادوه. ډېر ښه ښه پلانونه د نومونو په يادولو د خاورو سره خاورې شي.

کرایټن. هر چا چې درته ویلي دي ښه درس یې درکړې دې. ما خپل د تمبکو ډبلې د پادري په کور کی پریښې دې ماښام هغه راته راوړه.

کیم. ستاکور چرته دی؟

کرایټن. په بازار کی له چا پوښتنه وکړه.

ډګروال پخپله لاره ولاړو او کیم بیرته کاتب سره کښیناستو خوسوچ یې کوو. د تمبکو ډبلې یوه بانه ده. ډګروال معلومول غواړي چې زه د ده د کور په اړه خبر یم که نه. دوي فکر کوي چې زه ماشوم یم، ما به تیر کړي. هغه له کاتب د ډګروال په اړه وپوښتل. ده ورته وویل، چې کرایټن داسی کم عقل ډګروال دې چې کنډک نه لري. هر وختې اسونه اخلي او د خداې د مخلوق په اړه پوښتنې کوي. دا د بوټو او کاڼو او د خلکو د رواجونو په اړه له هر چا پوښتنی کوي. محبوب علي واي دې د نورو ټولو ګوراګانو نه زیات لیونې دې. کیم د ډګروال په اړه په فکر کی شو. ده د هند عادي خلکو ته چې ډېر هوښیار نه و درناوې کوو، خو هغه څوک چې چالاکي یې کوله دې ورسره ډېر نه غږیدو. کیم بارک ته چې ولاړو نو د وکټور نه یې د تمبکو د ډبلې پوښتنه وکړه. هغه د پادري سره خپل د ټمبکو ډبلی نه و پریښې او غوښتل یې چې معلوم کړي، کیم د ده په اړه څومره معلومات لري.

## د علم دروازه

پادري وکټور د سهار له دعا او سبا ناری نه وروسته کیم ځان سره بازار ته بوتلو او د جامو او بوټانو سربیره، نور شیان یې ورته واخیستل. د سینټ سیویر په شان ځانګړي او معتبر ښوونځي لپاره دا هر څه ضرور و. د سفر په ورځ د پادري په بدرګه او د سامان د بکس سره کیم د اور ګاډي سټیشن ته ولاړو. وکټور ورله د دویمې درجې د اورګاډي ټیکټ واخیستو او د ډګر وال کرایټن د لومړي درجې سره جوخته ډبه کی یې کښینولو. بیا یې ورته دعا وکړه او وې ویل، " په ښوونځي کی هغوي ستا د راتلو نه خبر دي، ډګر وال به په لاره ستا خیال وساتي چې ورک نشې." اور ګاډې روان شو خو کیم د دویمې درجی په دی خونه کی یواځی ناست و او په

ketabton.com - The Digital Library

کړکۍ کی د لامه سره د لاهور نه تر امبالی سفر يې يادولو. په کړکۍ کې يې د هغه سفر خبرې په تصور کې ليدې.

يوځای ډگروال کرايټن کيم خپلی ډبې ته راوبللو او ورسره يې په انگريزي ژبی خبری پيل کړې. ده ته يې وويل چې په ټول هند کی انگريزان د خپلو خلکو يو زنځير لري. کيم کولی شي چې د دی زنځير يوه کړۍ شي او که په ازموينو کی بريالې شو نو د اوولسو کالو په عمر کی د مياشتې دېرش روپۍ تنخاه گټلې شي. کيم ورته سر خوځوو خو داسی لکه چې د ډگروال په نيمو خبرو نه پوهيدو. اخر هغه په اردو ژبه خبری پيل کړی نوکيم ورته غوږ ونيولو. ورته يې وويل، ته چې هر ځايې ته ورځې نو هغه په حافظه کې ياد ووساته او بيا چې دی موقع پيدا کړه نو په کاغذ يې انځور جوړکړه. کيديشي يوه ورځ چې ته پوخ زنځيري شې نومونږ دواړه يو ځايې کار وکړو.

کيم سوچ کوو چې د ډگروال خبرو ته ځواب ورکول به ښه وي او که نه. کرايټن وويل، که تا د دی غرونو نه وراخوا د يو سيند يا د يو کلي معلومات راته راکړل نو زه به درته سل روپۍ درکړم. ته خبر يې د دی غرونو شا ته څه دي؟ کيم وويل، " زه څه خبر يم؟ زه خو ماشوم يم." ډگروال يوه روپۍ له جيبه راوويسته اووي ويل، " زه اوس ووايه." کيم د روپۍ د اخيستو لپاره لاس وړاندی کړی و خو بيا يې شا ته کړو. ورته يې وويل، " نه صاحب. زه خبر يم چې د ځواب لپاره به ته پيسې راکوې خو ته ولې له ما پوښتنه کوی؟" ډگروال روپۍ ورته ورکړه چې دا د هغه له خوا يوه تحفه ده. بيا يې وويل." ته يوه ځانگړې روحيه لرې چې په سينټ سيويرکی يې ورک نه کړی. هلته ډېر هلکان د تور پوستو نه کرکه کوي خو ته د يو صاحب او د يو ريښتوني صاحب زوې يې. نو هيچرې به د تور پوستو نه کرکه نه کوې. زه داسی کسان پيژنم چې نوي نوي د حکومت په ملازمت کی شامل شول او د ځاي خلکو په دود دستور نه پوهيدل. په دې خبره د دوي نه يې معاش وگرځوو. دا ياد لره چې د ناپوهۍ نه لويه گناه بله نشي کيدې.

د هغو څليرويشتو ساعتونو په سفر کی ډگروال څو وارې کيم راوبللو او هر وارې يې ده ته نوي خبرې وکړی. کيم اوس پوه شوې و چې ده پخپله څه

ketabton.com - The Digital Library

کارکوو. کیم محبوب علي ته معلومات ورکول او محبوب علي ډګروال ته. ده سوچ کوو، که د دی کار لپاره زه یو واری بیا له ټولو بندیزونو ووځم نودا به ښه وي.

کله چې اور ګاډی د لکهنئو سټیشن ته ورسیدو نو کیم اخوا دیخوا وکتل. د ده هیله وه چې لامه به ورته د هرکلی لپاره ولاړ وي، خو هلته هیڅوک نه و. ډګروال دې په یو اس ګاډي کی د سامان سره کښینولو او سینټ سیویر ښوونځي ته یې ورواستوو. ده ته یې د بیا لیدو وویل او د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ورک شو. د لکهنئو فضا کیم ته د لاهور نه ښه ښکاره شوه. د خپل ګاډي کوچوان ته یې وویل، د ښار د بازارونو منځ نه مې بوځه. کوچوان ورته مخ واړوو چې هغه ته د سینټ سیویر لپاره امر شوې دې. کیم ولاړو د کوچوان سره په لوړه تخته کښیناستو او په اردو ژبې کی یې ورسره خبری پیل کړی. راتلونکي دوه ساعته دوي د ښارټول بازارونه ولیدل. هغه کوچوان ته وویل، " دا خو راته د افسانو ښار ښکاري". کوچوان ورته د لکهنئو د نوابانو او د غدر د وختونو د انګریزانو د جنګ کیسه وکړه . اخر سترۍ شول نو کوچوان ښوونځي ته مخه کړه.

د ګومتي سیند پر غاړه د سینټ سیویر ښوونځې په ډېره لویه زمکه کی جوړ و. د ودانۍ په لیدو کیم د څه خبری لپاره خله خلاصوله چې د چونه شوي دیوال د یوی ستنې سره د ماښام په تیارې کی ناست څوک یې ولیدل. هغه کوچوان ته په چیغه وویل،" ودریږه!"...کوچوان ګاډې ورو کړو اوکیم ترې ټوپ وکړو او په منډه د ستنې لور ته ولاړو. په بله شیبه دی د ستنې سره نږدې پرزمکه پروت د لامه د ژیړ لباس لاندې د هغه پښې ښکلولې.

لامه. زه د یوې نیمې ورځې نه دلته ستا په انتظار شیم. ما سره د خانقاه یو راهب هم و چې لاره یې راته سمه کړه. کله چې ستا لیک را ورسیدو نو زه په اورګاډي کی له بنارس روان شوم.

کیم . ته د هغه کوهلو میرمنې سره ولی پاتې نشوی؟ بنارس ته په کوم حال وورسیدې؟ کله چې له تا بیل شوم، زړه مې خفه و.

ketabton.com - The Digital Library

لامه.  د هغې ښځې په خبرو زه ستړی شوم.  هر وختی یې رانه تعویذونه غوښتل. هغه  ډېره سخې میرمنه ده خو زه تری روان شوم چې دا پخپله د عبادت ثواب وګټي.  بیا مې د بنارس ټکټ وکړو او هغې خانقاه ته ولاړم چې خلک می پکی پیژندل.

کیم.  او ستا سیند؟ ما نه خو هیر و.

لامه.   ما نه سیند هیر نه دی.  خانقاه ته ځکه راغلم چې دلته مشوره وکړم. هند ډېر لوې وطن دی او کیدېشي له مونږ وړاندې پوهو استادانو په دی اړه څه لیکنی پریښي وي.  په خانقاه کی په دی اړه بحث روان دی، څوک یو څه واي او څوک بل څه.   د سره غویي ملا راته لیکلي و چې هر څه زه غواړم هم هغسی به کیږي.  ما ستا د سبق لپاره د یو کال پیسې دوي ته واستولی او بیا دلته  کښیناستم چې د دی علم د دروازې نه په تیرېدو، تا ووینم.  ددی لپاره نه چې ته په ما ګران یې بلکه د دی لپاره چې دومره پیسې مې دربانديې ولګولې چې د دی نتیجه پخپلو سترګو وګورم.  مینه دنیاوي خبره ده او زه دنیاوي شیان نه غواړم.

کیم.  ای محترم.  تا خو د سیند لټون کوو، تا سره په لاره تګ څومره خونده ور و! زه په دی نړۍ کی یواځې یم، یو محبوب علي مې پیژندلو خو هغه راسره درغلي وکړه.  زه بی له تا څوک نلرم.

لامه.  زه هم څوک نه لرم خو زه غواړم چې ته زدکړه وکړی.  تا نه هغسې صاحب جوړ شي چې ما ته یې دا عینکې  راکړې وې.  زه به بیا هم ستا حال اخلم خو اوس ورشه.  یوه ورځ به تا نه دا هر څه هیر وي.

کیم.  ( په ژړا) ما تا سره ډوډۍ خوړلی ده، زه به تا څنګه هیروم؟

لامه. مه ژاړه زویه، زه بنارس ته ځم او ته به ښونځي ته ولاړ شې.  کله کله به راته لیکونه رالیږي.  د هغه خانقاه پته یاده ساته.  زه که هر چیرې یم ، لیکونه به راته رارسیږي.

د سینټ سیویر په ښوونځي کی درېو سوو هلکانو زدکړه کوله چې د یو سخت رژیم لاندی یې ژوند تیروو.  دا ټول د هغو انګریزانو زامن و چې په

ketabton.com - The Digital Library

هند کی يې حکومتي يا پوځي خدمتونه سر ته رسول. خو کيم هر وختی چې موقع پيدا کړه، اصول به يې ماتول. په ښار کی د کولرا د وبا پر وخت دوي اجازه نه لرله چې بهر ووځي خو کيم د ليک استولو لپاره کاتب ته ولاړو. ډېر زر ده ليک ولوست زده کړل او پخپله به يې ليک ليکلې شو. هرهلک خپلی کيسې لرلې او کيم د دی ژوند سره څه نا څه عادت شو. بيا د اوړي لپاره د دريو مياشتو رخصتی پيل شوې.

کيم ته خپل معلم د پادري وکټور له خوا پيغام ورکړو چې په اورګاډي کی د امبالې نه وراخوا د غرونو يو سټيشن ته دی ورشي. خو کيم سر زوري کوله. د ده دليل و چې د اوړي رخصتی د ده خپل وخت و، ولې د ده وخت حساب دی بل څوک وکړي. خو هغه د لامه له خوا ليک نه و تر لاسه کړی او زړه يې غوښتو چې هندي ډوډۍ وخوري، وريژې، کباب، دال، چټني. په لاس يې وخوري څکه په ښوونځي کې به دوي پر ميز د قاشوغو او چړو او پنجو سره ډوډۍ خوړه. هغه ته د ښوونځي ډوډۍ خوند نه ورکوو. بله لاره ورته دا وه چې محبوب علي ته ورشي خو دې له هغه مرور و. د ده هم صنفيان او ملګري خپلو خپلو کورونو ته ولاړل او اخر ټول ښوونځي تش شو. د کيم صندوق هم د نورو هلکانوپه شان د لوې دروازې سره کيښودل شو نو ده يو ګاډې راوغوښتو او د بازار د يو ملګري کور ته ولاړو. خپل صندوق يې له هغه سره امانت کيښودو، څوشيان يې ترې واخيستل او چې بيرته په اس ګاډي کی کښيناستو نو په مخ يې تور رنګ وهلې، هندو هلک ترې جوړ شوې و.

کيم په سټيشن د دريمې درجې ټکټ واخستو او په اورګاډي کی کښيناستو. مساپرو ته يې وويل چې دی د يو مداري شاګرد و. تر امبالې ده د خپل ځان په اړه نورو مسافرو ته رنګا رنګ کيسې کولې. اخوا په شمله کی ډګروال کرايټن ته په تار(ټيليګرام) کی خبر ورسيدو چې کيم اوهارا ورک شوی و. ډګر وال يو سهار د اس د ځغاستي په ميدان کی محبوب علي ته دا خبر ورکړو نوهغه ورته وويل، " انسان او په اس کی توپير نشته. کله کله اس مالګه غواړي او که خاوند ورته مالګه ورنکړي نو بيا زمکه څټي. هغه هلک سړک ته وتلې دې، د ښوونځي نه به يې زړه ستړې وي. پخپله به راشي. که نه زه به يې لټه وکړم." ډګروال پوښتنه وکړه، "اوکه دی مړ

ketabton.com - The Digital Library

وي؟ محبوب علي وخندل. "که تبې وونه وژلو نودی به ژوندی وي. شادو له ونې نه غورځیږي، بی غمه اوسه." ډګروال وویل، " د ده سر زوري ورته تاوان رسولی شي."

محبوب علي امبالې ته په لاره د اسونو د یوې قافلې سره روان و چې یو سهار د کالکه سره نږدې ترې چا خیر وغوښتو. هغه خیرات غوښتونکې وترټلو نو هغه په انګریزي کی ورته ځواب وویلو. محبوب علي د کیم غږ وپیژندلو او وې ویل، " ته چیرته ورک وې؟ انګریزان درپسی په لټون خوارشول." بیا دی کیم سره د یوې ونې لاندی کښیناستو او هغه ورته خپله کیسه تیره کړه چې څو ورځې یې په امباله کی د خپل یو ملګري کره واړولی. بیا د هغه سره ډېلي ته ولاړو، ورپسې څو ورځې یې د تیلو د ګانې غواې وګرځوو. بیا یې د پټیالې د میلې په اړه واوریدل نو بیرته پنجاب ته ولاړو. هلته یې د پټاخو جوړولو په یوه کارخانه کی د اور لوبې شیان جوړکړل. راجه ګان یې په پیلانو سپاره ولیدل چې د اور لوبی ټولو توکو ته یې په یوه مخه اور ورته کړو او یوولس کسان پکې مړه شول. د کارخانې مشر هم پکی مړ شو. کیم د بارودو د چودنې په زور له یو تمبو نه بلی خوا ته والوتو خو هیڅ زیان ورته ونه رسیدو. بیا یو سیک سره د سایس په توګه مله شو او هغه چې ورله کومې پیسې ورکړې وې، په هغی تر دی سټیشن را ورسیدو. محبوب علي تری پوښتنه وکړه، " نو ته اوس ما سره ځې؟" کیم سر وخوځوو نوهغه له ځان سره یو سراې ته بوتلو.

محبوب علي ورته د مسلمانانو جامې واخیستې . کیم په سراې کی ځان پاک کړو او نوي جامې په غاړه کړی. هغه ورته ښه ډوډۍ راوغوښته چې شیریني هم پکی وه. بیا د چیلم په سر دواړو خبرې پیل کړې.

کیم.. ډګروال صیب راته په قهر و؟

محبوب. هو خو ما دلاسه کړو. بیا هم دا تښتیدل او پټیدل ښه خبره نه ده.

کیم . حاجي صیب دا زما د رخصتیو ورځی دي. زه دری میاشتې د دوي غلام ووم، اوس سکول بند دی نو ولې پخپله خوښه وونه ګرځم. بله دا چې دوي زما د لګښت نه بې غمه دي.

ketabton.com - The Digital Library

محبوب علي.  د پیرنگي لپاره دا څو روپۍ هیڅ نه دی.  دوي یې هم د یو هدف لپاره درباندی خرڅوي، ستا په غم کی نه دي.

کیم.  زه ډېر پخوا له دی خبر ووم.

محبوب. تا ته چا وویل؟

کیم. ډګروال صیب پخپله راته وویل.  په هم دی الفاظو کی به یې نه وي ویلي خود هوښیار لپاره اشاره کافي وي.  دا خبره یې راته په ټرین کی وکړه کله چې مونږ لکهنئو ته تلو.

محبوب. که داسی ده نو زه به درته یو څه نورې خبرې وکړم.  تا چری ما ته دروغ نه دی ویلي نو زه دی قدر کووم.  ته دا ښوونځي جدي وګڼه ځکه سبق ښه شي دې .

کیم. سمه ده، زه به ښوونځي ته ولاړ شم او ټول سبق به ووایم.  خو له سبق وروسته به دوي ما پرېږدي چې په خپلو خلکو کی پاتې شم او که نه وي نو ګورا صاحب به رانه جوړ کړي.

محبوب.  ستا خپل خلک څوک دي؟

کیم.  د دی لوې او ښکلي وطن خلک زما خلک دي.  بله دا چې زه به خپل لامه ووینم، او دریمه دا چې زما پیسې پکارې دي.

محبوب.  پیسې خو د هرچا پکارې وي.  زه به درته اته انې درکړم. دا ځلې مې په اسونو کی  ډېره ګټه نه ده کړی.  خو ته زر زر سبق ووایه، درې کاله به دی تیر شي.  بیا ممکن زما هم پکار شې.

کیم. (خندا) تر اوسه مې درته کارونه نه دی کړي؟

محبوب.  ځوابونه مه راکوه.  د نن نه ته زما د اسونو نوې سایس یې.  زه ورشه او زما د سړو سره د شپې لپاره خپل ځای جوړ کړه.  دوي د سټیشن شمالي څنډو کی  ډېره دي.

ketabton.com - The Digital Library

کیم. که ستا له خوا راسره څه نښه نه وي نو ستا سړي به مې په وهلو د ستېشن جنوبي څنډو ته وشړي.

## د طلاي غشي سیند

محبوب علي د خپل کمر بند نه د چیناي رنګ یوه چکۍ راوویسته، خپله کټه ګوته یې ورباندې کېښوده او بیا په یو ژیړ کاغذ یې د دې ګوتې نښه ولګوله. د بلخ نه تر بمبۍ پورې سوداګرو د محبوب علي د ګوتې نښه پیژندله چې پکې د یو زخم لیکه واضح ښکاریده. هغه کاغذ کیم ته ورکړو چې د ده قافلې مشرته ښکاره کړي. محبوب علي راپاسیدو او په بهر تلو کې یې وویل،" تر سهار به بیرته راشم." کیم ترې پوښتنه وکړه، "د کوم لورې سړک نه به راځې؟" هغه ورو وویل، د ښار له خوا سړک نه، هم دا یو سړک دی. کیم د شپې په تیاره کې بهر ولاړو او د سراې د دېوال سره سره راتاو شو. دی د ستېشن مخالف لورې ته روان شو او د یو میل نه هم زیات مزل یې ووهلو. بیا یې له جیبه یو قطب نما راوویستلو او په ارام قدم بیرته وګرځیدو. هغه پخپل زهن کې د محبوب علي د کسانو لپاره یوه کیسه هم تیاره کړه چې د اورګاډي د ستېشن سره نږدې په یوه تش میدان کې ډېره و. هلته دوه لارۍ هم ولاړې وې چې پکې د محبوب علي اسونه و. د کیم په لیدو د قافلې مشر ورباندې غږ وکړو نو ده ورته کاغذ وښودلو او وې ویل، " زه د حاجي صیب خدمت ګار یم، سهار چې راشي پخپله ترې وپوښتئ خو اوس د اور سره نزدې د شپې تیرولو ځاې راکړئ."

څو شیبې وروسته دوي ټول د اور چاپیره خوب ته وغځیدل. کیم ته یې یوه کمبله ورکړه او دې هم په داسې ځاې کې سملاستو چې پښې یې د لارۍ د یوې پاې لاندې وې. هغه په دې حال خوشاله و او بیا د ضرب او د تقسیم د سوالونو په حلولو ورو ورو خوبولې شو. خو نابېره د ده غوږونو کې د پس پس غږ راغلو. یو سړي د لارۍ شا ته د بل سره پټې خبرې کولې. "دی تر اوسه نه دی راغلی؟ چې کوم خوا تللي دې؟" بل سړي هم هغسې په ورو غږ وویل، "دا ځلې چې د غرونو نه اخوا درنه ولاړ نشي. د دې امر شوې دې. خبر یې د ده په سر څومره پیسې دي؟ بل غږ وویل، هو

ketabton.com - The Digital Library

خو مونږ د سرحد نه ډېر لیرې یو. که پېښور وې نو هلته دا کاراسانه و. لومړي وویل، هو...پېښور چې پکی د ده خپلوان پراته دي. زمونږ لپاره هغه ځاې او دوزخ یو دې. دویم وویل، نو بیا څه وکړو؟ لومړې بې صبره شو،

" او بې عقل، ما درته ویلي دي چې انتظار وکړه چې دې راغلو او څملاستو نو بیا یوه ګولی ورته بس ده. دا لاری به زمونږ تر منځ شي او مونږ به د اورګاډي په پاټلی ولاړ شو او ځان به ورک کړو. دوي به نه خبریږي چې ډز له کومې خوا ووشو. لږه شیبه خاموشي وه بیا یو کس وویل، یاره زما خوډېر ساړه کیږي. بل په سخته وویل، ته څنګه فقیر یې چې لږ ساړه نشی زغملې." د کیم سترګی پټی وې خو هغه سوچ کوو،" ښاي محبوب علي ته هغه سپین اس ګران تمام شو، یا کیدیشي کوم بل خبر یې خرڅ کړي وي. خو اوس څه وکړم؟"

شیبه وروسته، ده کمبله د ځان نه لری کړه او لکه چې څوک په خوب کی ویرېږي، ناره یې کړه، " وی بلا مې خوري... مورې... بلا ده هله نیسئ... بده بلا ده... ټول خلک راویښ شول او ده ته په بدو ردو وئیلو بیا ویده شول. کیم په دی شور ماشور کی د خپل ځاې نه څو ګامه لیرې د اورګاډي د پاټلی سره نږدې سملاستو او څو شیبې د پوزې او غوږونو نه د خرړیدو غږونه یې ایستل، داسی چې هغو غلو ته وښاي چې دې ویده شوې و. بیا ورو غوندې لکه د مار په زمکه ورغړیدو اوپه تیاره کی د تور سړک یوه برخه شو. تردېره وخته دې روان و تر څو داسې یو ځاې ته ورسیدو چې د سړک یوې غاړې ته زمکه ښکته شوې وه. دی هلته د یوې تیږې شا ته کښیناستو. بره په سړک ده ته هر څه ښکاریدل.

یو څود غوایانو ګاډي تیر شول. یو پولېس او څو لاروي چې د بلا ګانو نه د ساتنې لپاره یې مناجات ویل، پخپله لاره ولاړل. څو شیبې وروسته هغه د اس د ټکاري غږ واورېدو نو پوه شو چې دا به محبوب علي وي. هغه په ټیټ غږ د ده نوم واخیستو، "پام کوه وړاندی مه ځه." اس سمدلاسه ودریدو او محبوب علي په زوره وویل، " داسی سست اس به بیا چرې نه اوړم. د ښار ټول میخونه او هډوکي یې په پښو کی راټول کړی دی. " دی له اس راښکته شو او د دی وړاندینی پښه یې راپورته کړه. بیا یې ورو وویل، "

ketabton.com - The Digital Library

سر ښکته کړه څوک به دی وګوري." کیم وویل، ستا د اسونو لاری شا ته دوه کسان درته په انتظار ناست دي. کله چې ته سملاستلې، دوي به درباندی ډزکوي چې ستا د وژلو لپاره پیسې واخلي. " محبوب علي په وروغږ کې وویل، " تا ولیدل؟ یو تن پکی د فقیر جامې خو نه وې اغوستې؟" کیم وویل، " ما نه دي لیدلي خو یو کس بل ته ویل چې ته څنګه فقیر یې چې ساړه نشې زغملې." محبوب علي وویل،" شابسې، ورشه پخپل ځای ویده شه، زه نن شپه نه مرم."

کیم بیرته هم هغه ځای ته ځان ورسوو او په کمبله کی ویده شو. کله کله به یو اورګاډي د ده څنګ کی تیر شو خو دی نه ویښیدو. محبوب علي خپل اس د سټیشن سره نزدې وتړلو او پخپله دننه ورغلو. هلته د ټریفک یو مشر یې ولیدو او ورته یې د دوو فقیرانو حال ورکړو چې د ده د لاریو سره نزدې لیدل شوي و او وېره یې څرګنده کړه چې هغوي د غلا لپاره هلته ایسار و. مشر ورته ډاډ ورکړو او یوتکړه پولیس سره د ګاډي انجن ته وختلو.

محبوب علي سهار خپلو کسانو ته ولاړو نو هیچا ورته د دوو فقیرانو کیسه ونکړه چې د اورګاډی پولیسو نیولي و. خو کیم د محبوب علي سره د بارد ښکته پورته کولو پر وخت ورته د دوي د نیولوکیسه تیره کړه. د ورځې په پېل کی د دوي قافله په سړک روانه شوه. کیم به کله په لاری او کله اس سپور و او د لاری خوند یې اخستو. دوي شمله ته ورسیدل نو محبوب علي د خپلو اسونو د پلورلو نه وروسته کیم ته د یوځای پته ورکړه چې هلته د لورګن نومی سړي سره ووینې. د ده کور د لرغونو توکو او د مداریانو له شیانو ډک و. کیم څو ورځی د ده میلمه شو او رنګا رنګ شیان یې ولیدل چې د پلورلو لپاره به یې هر ډول خلک راتلل.

هلته د کیم د عمر یو هندو هلک اوسیدو او دوي دواړو به د لورګن واړه کارونه کول او د پیسو حساب به یې هم زده کوو. کیم لس ورځې په خندا او خوشالۍ تیرې کړې. اخر د ده لپاره د کالکه نه د اورګاډي ټکټ واخستل شو او دی له شملې روان شو. لورګن ورته پینځه روپۍ ورکړې وې چې هغه وخت د کیم لپاره یوه خزانه وه. د اوړي رخصتۍ خلاصې شوې اود لکهنئو په ښوونځي کی د هغه زدکړی بیا پېل شوې. وخت په

الوتو شو او راتلونکي درې کاله دی هم هغه ښوونځي کې و. کله به په رخصتیو کی دی د بنارس خانقاه ته ولاړو او لیدل یې چې لامه نور هم ضعیف شوې و خو ده خپل سیند تر اوسه نه و موندلی. کیم ته یې وویل، ما څو واری خوب لیدلې دې چې تر څو راسره خپل مرید نه وي زه دا سیند نشم موندلی.

کیم اوس زیات وخت د کتابونو په ولوستلو تیروو او هغه هومره سر زوري پکی نه وه پاتې. په یو اوړي کی ده د محبوب علي سره لومړې بمبئ او له هغه ځایه په بیړئ کی کراچي ته سفر وکړو. په بل کال، دی کویټې ته ولاړو او دغرونو قبایل یې ولیدل. په دریم کال دی پیښور ته ولاړواو هلته د یو پښتون په جامه کی وګرځیدو. کرایټن ده ته یو وړوکې شین رنګه لرګین بکس وراستولی و. په دی کی رنګونه، برشونه او سپین کاغذونه و. ورسره د نقشې جوړولو سامان هم و. کیم به کله نا کله په هغو کاغذونو انځورونه جوړول. د لامه سره د سیند لټون د ده هم یو ارمان و چې تر اوسه تری هیر نه و.

کیم اوس د شپاړسوکالو و او دواړه کرایټن او محبوب علي د ده له ارمان خبر و. د ښوونځي د سبق په پورا کیدو، په وروستي ورځ هغوي کیم ته اجازه ورکړه چې د لامه سره تلې شي خو دې به په هغه سفر کې د دوي لپاره کار هم کوي او د هغی په بدل کی ورته د میاشتې شل روپۍ ورکول کیږي. کیم خپل ځان د بودایانو په جامه کی پټ کړو او د یوې غوټې سره بنارس ته ولاړو. لامه ته په ښنو پریوتو او د سفر پلان یې ورسره جوړکړو. هغه ته یې وویل چې حکومت له خوا ورته د کاتب دنده ورکړې شوې ده. لامه تری پوښتنه وکړه، " پوځي خو یې درنه جوړ نکړو؟" کیم وویل، " نه زه جنګ نشم کولې." په خانقاه کی نورو راهبانو، کیم ته یوه لرغوني نقشه وروښودله چې ورباندی څرخ جوړ و. لامه ورته وویل، زه به درته د دې څرخ د جوړولو چل وښایم چې یو پخوانې چیناي هنر و.

په بل سهار دوي په خانقاه کی د شپې پاتې وریژې د ترخو چایو سره وخوړې او بهر راووتل. کیم تر سهارن پور د اورګادي ټکټونه واخستل او د دریو ورځو د سفر نه وروسته دوي هلته د کوهلو د میرمنې کره ورغلل. د هغې په کور کې یې دوه ورځې دمه وکړه اوهلته یو هندو هری بابوهم د

ketabton.com - The Digital Library

دوي سره مله شو. هري بابو د کيم سره په شمله کی ليدلي و او د حکومت د زنځير يوه کړۍ و. دوي شيوالک د غرونو نه دون او بيا شمال کی د مسوري لوړو ته ورسيدل. هلته هري بابو دوه کاتبان چې يو يې کيدار ناته او بل بدري ناتهه نوميدو، ورسره کړل. کيم پوهيدو چې هغوي هم د زنځير وړې کړۍ وې، چې خپل خپل کارونه ورته سپارل شوي و. يو په روسي او بل په فرانسوي ژبی خبرې کولې شوې.

دوي په څو کچرو خپل سامان چې تمبوان او د خواړو شيان يې لرل بارکړي و. هر څومره چې دوي په لوړو ختل، د دی قافلی خلکو ته مزل گران ايسېدو. خوکيم ليدل چې د غرونو په سفرکی لامه يو واری بيا تازه شوی و. د صنوبر او د زالغوزي د ونو وږمې د هغه په وجود کی نوې توان پيدا کړی و. دلته ساړه هم ډېر و او کيم په لاره ورته د وړۍ يوه کمبله اخستې وه. خو لامه ورپوری وخاندل چې دا خو ټيټ غرونه دي، د دی هوا دومره سړه نه ده. کيم ريښتيا چې د غرونو د تگ سره اشنا نه و او په څو ځايونو کی يې پښه خطا شوه. خو دی خوشاله و چې لامه په ارام روان و. په وړو کليو کی خلکو به دوي ته د اوزې پنير، شيدې او د کانې په شان سخته ډوډۍ راوړه. کيم به ماښام د خپلو پښو پرهرونو ته کتل او د هند غوړي او مساله داره ډوډۍ به يې مخی ته ودريده چې اوس د ده له هډوکو نه هم وتلې وه. کيم د تسبيح د اړولو چل زده کړی و. خو ده به زيات وخت د تسبيح په دانو د خپلو گامونو حساب کوو. کله چې دوي د شپې اوده کيدل نو هغه به څو شيبې په کاغذ ليکنه وکړه. په ځينو ځايونو کی يې انځورونه هم جوړول. د دوي د دمې له ځايونو څو واری ليکلي پيغامونه ښکته په شمله کی ډگروال کرايټن ته وراستول شوي و.

يوه ورځ دوي له يوې تنگی درې تيرېدل چې واورې پکی شوې وې. لامه هم هلته پر زمکه په سجده پريوتو. خو د يو واورين طوفان نښې وې او د غرونو شپانه د خپلو ميږو او د اوزو رمې په چټکۍ خوندي ځايونو ته اوړل. هری بابو او د ده دواړه کاتبان وارخطا و. د لږ مزل نه وروسته دوي يوې هوارې شنې زمکی ته چې د غره په ډډه و راووتل. له دی غرونو کيم ته احساس ووشو چې دوي اوس يوې نوې نړۍ ته رارسيدلي و.

ketabton.com - The Digital Library

درې ورځې نور په لوړه د مزل نه وروسته د سپينو واورينوغرونو په ليدو کيم وويل، باور لرم چې خداې هم دلته اوسيږي. هلته په يوې هوارۍ کې دوي خپل پړاو جوړ کړو. د ده ملو کسانو په يو دوربين کې وليدل چې دوه کسان له لوړو غرونود دوي په لورى را روان و.

دوي چې رانږدی شول نو کيم احساس وکړو چې دوي د بل وطن و. هغوي د پوستين جامې اغوستی او مخونه يې سره و، داسې لکه چې د اروپايانو وي. بدرى نات او کيدار نات ورسره کله په روسي او کله په فرانسوي خبرى کولې او کيم دومره خبر شو چې معامله د هغو پينځو رياستونو وه چې يو لوى گاونډي ورته سترگې سرى کړې وې. د سپين اس د بچيانو خبره وروستي حد ته رسيدلی وه. دی کسانو ورسره ډوډۍ وخوړه خو دومره شراب يې وڅښل چې په ځان خبر نشول او يو غرنی بار اوړونکې يې ووهلو. د کيم لپاره دا کار د منلو نه و او دې د يو کس سره ونښتو. د داسې بدى ورځی لپاره ورته محبوب علي يوه طماچه ورکړی وه خو په پړاو کی دومره غوبل جوړ شو چې هغه کسان په تيښته شول. دوي خپلې کچرې په مخه کړل، خو د کيم وينه توده وه. ورټوپ يې کړل نو د يوې کچرې پښه خطا شوه او له غرونو ښکته وغورځيدو. په هغه يابو بار سامانونه هم ورسره ولاړل.

هرى بابو ، کيم ته په قهر و چې بی ځايه يې شخړه جوړه کړه. په بله ورځ دوي وړاندی ولاړل نو د وړو وړو کورگيو يوه جوپه کی د ژوند نښي ليدل کيدې. دوي چې ورننږدې شول نو يو کس ورته د خپل کور دروازه پرانسته لامه په يوه کمبل سملاستو او وې ويل، "دا زما غرونه دي". د شپې اسمان صفا او د څوارلسمی د سپوږمۍ رڼا له کړکۍ ټوله کوټه روښانه کړی وه. لامه کيم ته وويل، نن شپه عبادت راته مهم دې. بيا تر سهاره دې په عبادت بوخت و. کيم د ده په تندي لاس کيښودو نو پوهه شو چې د هغه تبه وه. دی د نور سفر جوگه نه و خو سهار کيم ته يې په ټينگار وويل چې د غرونو نه وراخوا د کوهلو خاوره ده او دی د خپل ټاټوبي لوې عبادت ځاې ته تلل غواړي. کيم ورله د ښکته غرونو نه يو حکيم راوبللو چې په راتگ يې څو ورځې تيرېدې.

ketabton.com - The Digital Library

سهار کیم له کوره بهر ووتلو نو خبر شو چې د ده سره مله ټول خلک بیرته تللي و. د دوي کارونه سر ته رسیدلي و. کیم خپل غابښونه مسواکول چې یوه غرنۍ ښځه ورته رانزدې شوه. هغې په فیروزي سرپیچک سر تړلې و او ده ته یې یوه توبره وښودله چې یو بار اوړونکي ورته ښکته د غرونو له لمنو راوړی وه. دا توبره په هغه کچرې بار وه چې د خارجیانو سره وه او ښکته لویدلې و. کیم د هغی ښځې کور ته ورغلو او د توبری ټول شیان یې پر زمکه واړول. د دی په تل کی څو کاغذونه و چې په ترکي ژبه ورباندې څه لیکلي و. کیم پوهیدو چې د کرایټن هم دا اسناد پکار و. ده د توبری نه یو پرکار ځان ته وساتلو، څو د خواړو شیان یې ښځې ته ورکړل او پاتی توکي یې بیرته له غره ښکته ور واچول. ده یو غوز (جوز) په غابښونو مات کړو، یو لیک یې ولیکلو او په غوز کی یې بند کړو، بیا ښځی ته یې ورکړو چې شملی ته یې ورواستوي.

د هغه کلي خلکو ورله سبا ناریَ ورکړه. لامه کله تسبیح اړولې او کله به یې کیم ته د لارې نومونه وربښودل. بیا یې وویل، " د دی غرونو نه وراخوا د ونو لاندی به ما د خپلو همزولو سره لوبې او جنګونه کول. ما دری کاله په هند کی سفر وکړو خو خپله زمکه د مور په شان وي. اوس راته احساس کیږي چې زه بیرته د مور غیږې ته رانږدې شوم. خو هغه غشې په میدانونو کی پریوتې و، غرونو کی نه. ځکه خو زه هلته ورغلم. په دې دریو کالو کی د هند زمکې ما ته علم او ډېر درناوې راکړو. خو اوس د تګ وخت دی." کیم ورته وویل، ما یو حکیم درته رابللی دی چې علاج دی وکړي. لامه وویل، " زه خبر یم چې زما روح به نور څومره وخت په دی وجود کی پاتې وي، وګوره زما د ازاد کیدو وخت رانږدې دې."

کیم هغې ښځې ته وویل، چې دوي به دوه دری ورځې پلې سفر کوي او د لاری لپاره ورته ډوډۍ پکار وه. وروسته کیم د ډوډۍ توبره په اوږه واړوله، د لامه لاس یې ونیولو او له غرونو بلې خوا، ښکته لوري ته یې مزل پیل کړو. لامه د خپل پورا توان سره روان و خو کیم پوهیدو چې دی ناروغه و. کله کله به یې د هغه لاس پخپله اوږه کیښودو او لکه د امسا به یې د هغه کمزورې وجود په لاره وړلو. د شپې به یې په یوځاې کی اور بل کړو او دی به یې په کمبلو کی تاو کړو. زاریَ یې ورته وکړې چې بل

سهار به يو کلي کی ایساريږي. خو لامه د ده خبره نه منله. کیم ورته پښې چاپي کولې او د ټولو اړتياو خيال يې ساتلو. هغه اوس د پېټي او د لامه د وړلو نه سترې و خو زيار يې ايستلو چې لامه خپل منزل ته ورسوي. په بله ورځ دوي د واورې په يو داسې طوفان کی راګیر شول چې لاره يې نه شوه ليدې. اخر په يو ځای کیم راپریوتو او داسی احساس يې وکړو لکه چې په هواکی الوځي. بيا د ده زهن په تيارو کی ډوب شو.

څو ورځی وروسته کیم چې سترګې وغړولې نو په يوه توده کوټه کی په کټ پروت و. د ده سر ته محبوب علي او لامه دواړه ناست وو. د دوي په ليدو کیم د پاڅيدو هڅه وکړه خو بی شيمې و. د کړکی نه بهر هوا ورته بدله ښکاريده. دوي په يوه ګرمه سيمه کی وو. کیم وويل، "زه لکه چې سل کاله اوده ووم." محبوب علی وويل، ښه ده چې اوده وې او په هغه واورو کی مړ نشوې. هری بابو شمله کې راته ټول حال تيرکړو. کله چې کرايټن ته په غوز کی ستا ليک راورسيدو، نو مونږ پوه شو چې ستاسو وړاندی تګ به درته خطرناک وي. هم هغه وخت مو تاسو پسې خلک ورواستول او قسمت مو ښه و چې دواړو ته پر وخت کومک ورسيدو.

کیم لامه ته وکتل چې خپلې تسبې يې اړولې. د ده باور نه کيدو چې دی به ژوندی وي. هغه راپاسيدو د ده پښو ته يې لاس يوړو نو ده ورته په سر لاس کيښودو. بيا يې وويل، " زمونږ لټون پای ته رسيدلې دی. هلته په غرونو کی زه ناروغه ووم او نږدې وه چې خپل ځان می مرګ ته وړاندی کړی وې. خو بيا يو غږ راته وويل، " چې ته نه وې، نو دا ماشوم به څه کوي؟ " د دی پوښتنې ځواب راسره نه و. ته بې هوشه پروت وې او زه خبر ووم چې تا د بيرته تګ لاره نشوه موندلی.

بيا راکی دومره زور پيدا شو چې ته مې له هغه ځايه راوويستې لکه چې څوک مهې له اوبو راباسي. يو غږ راته وويل، سيند ته ورشه. ما چې ښکته وکتل نو هغه سيند چې ما لټوو راته مخکی بهيدو. ما د سيند په اوبو کی ټوپ کړ او چې تری راوتلم نو ځان می بيا د انسان په وجود کی وليدو. هغه وخت مې احساس وکړو چې زه د ټولو ګناهونو نه پاک شوم." کیم د هغه په شونډو يوه موسکا وليده. داسې موسکا چې يواځې خپل منزل ته رسيدلي کس په شونډو ښکاري.

ketabton.com - The Digital Library

پای

ketabton.com - The Digital Library

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*